# پیغمبري خویونه


لیکنه:

**جمعی از نویسندگان تربیت معلم**

ژباړن:

**ډاکټر ذبیح الله اقبال**

# پیغمبري خویونه


لیکنه:

**جمعی از نویسندگان تربیت معلم**

ژباړن:

**ډاکټر ذبیح الله اقبال**

بسم الله الرحمن الرحيم


د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: پېغمبري خويونه

ليکنه: جمعی از نويسندگان تربيت معلم

ژباړن: ډاکټر ذبيح الله اقبال

تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنګي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com

د چاپ کال او وار: لومړی ۱۳۹۰ ل

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د ژباړن خبرې

# لړلیک


وګړيز خويونه ........................................ ۸

د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ټولنيزه وګړه .................. ۸

ساده ژوند........................................ ۱۷

پاکوالی ........................................ ۲۳

مسواک وهل........................................ ۲۸

قدرمني او حق پېژندنه........................................ ۳۰

د ام المؤمنين خديجي قدرمني ........................................ ۳۳

کار او کوښښ ........................................ ۳۵

ژوند غنيمت دی........................................ ۴۱

خپل کار په خپله کول ........................................ ۴۳

عبادت ........................................ ۴۸

لمونځ ........................................ ۴۹

په عبادت کې منځ لاري ........................................ ۵۵

دعا........................................ ۵۸

د رسول الله د دعاوو بېلګه ........................................ ۶۰

د خوړو آداب ........................................ ٦٤

د مسافرت آداب ........................................ ۷۵
د ځناورو او څارویو حقوق ........................................ ۷۷
د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) کورني اخلاق ................ ۸۱
له خپلو مېرمنو سره ورین تندی ........................................ ۸۲
سخت درېځي نه ده پکار ........................................ ۸۵
د کور په چارو کې مرسته ........................................ ۸۶
د کور له چوپړیالانو سره ښه چلن ........................................ ۸۷
پر کوشنیانو لورنه ........................................ ۸۹
د مور و پلار حقوق ........................................ ۹۳
ټولنیز اخلاق ........................................ ۱۰۳
ښه خوی ........................................ ۱۰۳
له خلکو سره ملګرتوب او ګوزاره ........................................ ۱۰۵
له پوروړي سره ګوزاره ........................................ ۱۰۹
ښښنه ........................................ ۱۱۱
د عدالت په پلي کولو یې له چا سره ګوزاره نه کوله ................ ۱۱٤
تواضع ........................................ ۱۲۱
ټوکې ........................................ ۱۲۸
مینه او درناوی ........................................ ۱۳۲

مديريت (سمبالونه) او مشري ........................... ۱۳۵
د نيوکو پر وړاندې ........................................ ۱٤۰
ورزش ...................................................... ۱٤۳
جګړه ...................................................... ۱٤٥
انساني اصول .............................................. ۱٤٦
په غونډو او ټولنو کې ګډون ............................... ۱٤۷
لارښوونه .................................................. ۱٥۱
د تبليغ څرنګوالى ......................................... ۱٥٥
ښوونه او روزنه ............................................ ۱٦۷
څوک د الله تعالى پر استازي ګران وو؟ .................. ۱۷۳
د مؤمنينو حقوق ........................................... ۱۷٥
د رنځورانو پوښتنه ........................................ ۱۷۷
د رنځور دندې ............................................. ۱۷۹
د ګاونډيانو حقوق ......................................... ۱۸۳
د رسول الله مبارک د ويناوو بېلګه ........................ ۱۸۸
پاېليکونه ............................. **Error! Bookmark not defined.**
سرچينې ............................... **Error! Bookmark not defined.**

## وګړیز خویونه

په بشري تاریخ کې، د اسلام د پیغمبر وګړه بې سارې وه؛ هغه وګړه، چې د ځلاند لمر په څېر د انسانیت په اسمان کې ځلېده او اخلاقي ارزښتونو او انساني کمالاتو ته یې ساه ورکوله. داسې ځانګړنې یې درلودې، چې یو قلم، لیکوال او ویاند یې نشي- تعریفولای او که څومره یې هم د اخلاقو او وګړې په هکله خبرې وشي، حق به یې نه وي ادا شوی.

## د رسول الله ټولنیزه وګړه

د اسلام ستر پیغمبر د دروند خوی او سترې دبدبې خاوند و، په زړونو کې یې ځای درلود، پر خلکو خورا ګران و، څېره یې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده، په اخلاق او مانیزې ښکلا او پاکۍ پسوللی و. چې یوازې به و، په فکر کې به و او چې په خلکو کې و، تندی یې ورین او موسکا یې پر شونډو وه.

د نړۍ په مال کې له هغه څه لرې ګرځېده، چې د پېسمنۍ- غرور او د زړه تړنې لامل و او ډېر خوښ و، چې له خپل پالونکي سره خلوت شي.
د اسلام پېغمبر سخت دریځه نه و، خواږه او نرم اخلاق یې درلودل او د نړۍ د نورو شتمنو او زورواکو په څېر نه و، چې تل یې غرې کول.
یو بېدیاني عرب اړتیا درلوده، رسول الله ته ورغی، ورمخکې شو، له پخوا یې چې څه د رسول الله په هکله اورېدلي ول، د رسول الله دبدبه پرې کېناسته او الک دلک شو.
رسول الله خپه  شو، و یې پوښتل: ولې دې ژ به زما په لیدو ونښته؟ پخپله مهربانه غېږ کې یې راونیو، زور یې ورکړ ، و یې ویل: ارام شه! زه خو څه د ظالمو پادشاهانو په څېر نه یم، زه د هغې ښځې زوی یم، چې په خپلو لاسونو یې مېږې رالوشلې، زه ستا د رور په څېر یم.
کتل یې لنډ وو، د چا څېرې ته نه ځیرېده، سترګې یې ډېری ځمکې ته وې او خلک د عطرو له بویه پوهېدل، چې رسول الله له دې ځایه تېر شوی دی.

د تګ پرمهال يې خپلې مخې ته کتل او چې غوښتل يې شا، مخکې يا شاوخو ته وګوري، له ټول بدن سره به هغه لوري ته ورګرځېده او چې غوښتل يې چاته ا شاره وکړي، په ټول لاس يې اشاره کوله. هېڅکله يې په سترګو او وريزو اشارې نه کولې.
ډېر وخت به مخ په قبلې ناست و، ډېره ناسته پاسته يې له بېوزليو سره وه، يوې کاسې ته ورسره کېناسته، پر خپلو مهر بانو لاسونو يې خواړه ورکول او کله هم و نه شول، چې کوم بېوزله، د بېوزلۍ له لامله ورتې او له هېڅ واکمن او ځواکمنه نه ډارېده.
بېوزله او شتمن يې په نظر کې يو شان وو، دواړه يې يو شانت توحيد ته رابلل؛ نه يې نيوکې کولې، نه يې غوړه مالي او د غوړه مالۍ او ستاينې اورېدو بې زاره و، ويل يې: (( د غوړه مالانو او چاپړوسانو پر مخ خاورې وشيندئ. ))
هېڅکله يې څوک له ځانه خوار او ټيټ نه ګاڼه. په حيا او شرم کې بې سارى و، تردې چې که کوم څيز يې خوښ نه و، له څېرې يې پوهېدل، چې دا څيز يې نه دی خوښ او چې له چا به خپه شو، خپګان يې په څېره کې ليدل کېده؛ خو کله يې هم پر چا نيوکه او ګيله نه کوله او چې کوم څيز به يې خوښ شو، څېره يې له خوشحالۍ، د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده.

هېڅ نعمت يې نه رټه، د خوړو يې نه ډېره ستاينه او نه ډېره رټنه کوله. نعمتونه يې ستر ګڼل، که څه په ظاهره واړه ول.

يوه ورځ يې د يوې مېرمن په کور کې يو کپ ډوډۍ له ځمکې را اواچته، ښکل يې کړه، و يې خوړه، و يې ويل: ((دا هغه څه دي، چې اسمان، ځمکه او پکې ژوي کارېدلي، چې دا کپ در و رسي.))

په ټول عمر کې يې چا ته کنځل و نه کړه، له خولې يې بېځايه خبره وا نه ورېدل شو او هېڅکله يې سپک کار و نه کړ.

ويل يې: پالونکي مې حکم راکړی چې:

۱_ ټولې پټې او ښکاره چارې د هغه لپاره وکړم.

۲_له هغه تېر شم، چې پر ما يې تېری کړی او هغه وبښم، چې زه يې بې برخې کړی يم.

۳_ په هغه پورې ځان ور ونښلوم، چې ځان يې را څخه شلولی دی.

٤_چوپتيا مې د اندنې-تفکر لپاره وي.

٥_ليدل مې د عبرت لپاره وي.

له امام باقر روايت دی، چې رسول الله وويل، پالونکي مې د اوو ځانګړنو حکم راکړی دی:

۱_ له بېوزليو سره مينه او ورسره ناسته پاسته.
۲_ د ((لاحول و لا قوة الا باالله )) د ذکر ډېر ويل.
۳_له خپلوانو سره مړی ژوندی وکړم، که څه راسره يې نه کوي.
٤_هغوی ته وگورم، چې د شتمنۍ له کبله تر ما ټيټ وي او هغوی ته و نه وگورم، چې تر ما پورته دي.
٥_ د الله تعالی په لار کې د چا له رټلو و نه وېرېږم.
٦_د حق خبره وکړم، که څه ترخه وي.
۷_له هېچا څه و نه غواړم.

رسول الله مبارک تر ټولو سخي و، مال يې نه زېرمه کاوه او که له خپل لگښت به څه ورسره پاتې شول، پر بېوزليو تر ايشلو مخکې به کور ته نه راستنېده.

کله يې هم کوم سوالگر تش لاس رخصت نه کړ او څومره يې چې له لاسه کېدل، د هغه د اړتيا په پوره کولو کې يې کوښښ کاوه او که داسې به نه شول؛ نو په نرمه ژبه يې راضي کاوه.

د هر چا مېلمستيا يې منله، نه يې کتل، چې مېلمستيا د بېوزله ده که د شتمن، د سپين ده که د تور، د ازاد ده، که د مريي.

که چا یو گوټ شیدې هم ورډالی کولې، پر ورین تندي یې منلې او له ډالۍ راوړنکي یې منته کوله؛ خو صدقه یې نه قبلوله او صدقه شوي خواړه یې هم نه خوړل.
که کوم واده ته به وبلل شو؛ نو که کوم خنډ او مخنیوی به نه و؛ نو د واده خوړې ته به تله او په ټاکل شوي وخت به په بلل شوي ځای کې حاضرېده؛ خو هغو غونډو ته نه تله، چې یوازې شتمن پکې ول او بېوزله پکې نه وو او همداسې د فاسقانو غونډو ته خو به بیخي نه تله.
کله خو به داسې هم کېدل، چې رسول الله به یوه لرې مېلسمتیا منله، د بېلګې په توګه: یوه ورځ، د مدینې په شاوخوا کې یوه کلي ته مېلمه شو او هغوی یوازې په سوکړک تریې مېلسمتیا وکړه. رسول الله د زړه له کومې په داسې غونډو کې ګډون کاوه او په تېره، د هغه چا مېلسمتیا او غونډې ته په ورین تندي ورتله، چې کوربه یې متقي و.
رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د رنځورانو پوښتنې ته تله، که څه د رنځور کور ډېر لرې و؛ په جنازه کې یې ګډون کاوه.

په جګړو کې، چې به ځواک ته اړتیا پیدا شو؛ نو ډېر وړاندیزونه وشول، چې له مشرکه د مشرک پرخلاف کار واخلو؛ خو هغه مبارک پرېکنده ځواب ورکاوه: په مشرک بري ته رسېدل نه غواړم.

د رسول الله تندی، ټولو ته ورین، سینه یې ټولو ته پراخ، پر ټولو مهربانه و او د مهربان پلار په څېر یې ټولو ته په یوه سترګه کتل.

په نزد یې ټول په حقوقو کې مساوي ول، بې له الله تعالی یې له چا په زړه کې وېره نه درلوده او د نړۍ یو چار هم نه وارخطا کاوه.

د نړۍ په چارو کې داسې څه نه وو، چې د هغه مبارک پام یې ځان ته را اړولی وي؛ خو د متقي تقوا.

د جامې ډول ته یې دومره ارزښت نه ورکاوه؛ خو د جامې پاکوالي او سادګۍ ورته ارزښت درلود.

که اس و که قاطر، د سورلۍ ګټنه یې ترې کوله او چې په کوم کار پسې به شو، ترسره کاوه یې او که پر لار، څوک مخې ته ورتله او لار یې له رسول الله سره یوه وه، له ځان سره یې سوراوه. دې ته یې نه کتل، داچې پر سورلۍ راسره کېني، ازاد

دی که بنده، بېوزله دی که شتمن او بله داچې ډېر وخت خو پـر خپله سورلۍ نه سپرېده او پلی ورسره تله.

خوشبويي يې خوښه وه، له بېوزليو سره يـې داسـې ناسـته پاسـته کوله، ته وا له هغوی څنې دی.

تر ټولو ساده او پر نورو خورا مهربانه و.

له اهل صفه وو سره د الله تعالی د استازي چلن پر لورنې او مينه و او رسول الله ته چې ډالۍ يا صدقه راتله، هغوی ته يې ورکوله.

د فضل او فضـيلت د خاونـد درنـاوی يـې کـاوه، د ښـو اخلاقـو خاوندان پرې گـران وو او د هغـوی درنـاوی يـې کـاوه. شريفـو خلکو ځانگړی مقام ورسره درلود او د هر قـوم د مشر ـ درنـاوی يې کاوه. زړه سوي يا صله رحـم تـه يـې ډېـر پـام و او هغـوی د نورو په پرتله ورته گران وو، چې په دين کې به غـوره او افضـل وو. داسې څوک به پيدا نـه کـړئ، چـې رسـول اللـه ورسره جفـا کړې وي.

که څوک تېروته او روسته به پوه شو، چې تېروتی او پخپلـه ژ به يې ښښنه غوښته؛ نو د داسې وگړيو ښښنه يې منله. له چا يې تمه نه درلوده او که چا داسې کوم کار وکړ، چې تمه به ترې نـه کېـده؛

نو بیا یې څه ورته نه ویل؛ خو داچې د سمونې او ارشاد په موخه وو.
د بې ادبو پر وړاندې د صبر غر و، داسې هم کېدل، چې ځینو به یې په مخ کې یو پر بل چغې وهلې او د الله تعالی د استازي درناوی یې نه ساته؛ خو هغه به د متانت او ښو اخلاقو له لامله، چوپ پاتېده او څه یې نه ویل.
د رسول الله د کور معمولي خواړه، روټه وه او ډېر وو، چې په کور کې یې خواړه نه وو.
کله خو په میا شتو میا شتو، د پاک نبي (صلی الله علیه وآله وسلم) په کور کې د پخلي اور نه بلېده. د کور معمولي خواړه یې اوبه او کجورې وې؛ خو هغه ورځ، چې انصارو شیدې ورته راوړې وې. داسې وخت رانغی، چې په یو وخت کې، دوه ډوله خواړه وخوري. ډېری یې خواړه اوبه او کجورې وې او که کوم وخت کجورې او ډوډۍ شوه؛ نو یوازې ډوډۍ یې خوړه.
د بېوزلیو او اصحابو په داسې مېلسمتیاوو کې یې هم ګډون کاوه، چې نه پکې غوښه وه او نه ډوډۍ او پخپله پکې وږی پاتېده او ډېر داسې کېدل، چې یوازې ډوډۍ او کجوره یې هم

په مړه ګېډه نه خوړه او ډېر داسې وو، چې له لوږې يې پـر نـس تيږه تړله.

## ساده ژوند

د پاک نبي ژوند ساده و، په ژوند کې يې درونـد لګښت نه درلود او سره له دې، چې پخپله کوشنۍ اراده يې کـړای شول، د نـړۍ ټولې زېرمې په خپل واک کې کړي؛ خو قناعت او سـادګي يـې جامه او کړنلار وه.

امام محمد باقر وايي: يوه پرښته رسول الله (صلی الله عليه وآلـه وسلم) ته راغله، و يې ويل: محمده! الله تعـالی دربانـدې سـلام وايي او وايي: ((که غواړې د مکـې سـيمه به درتـه لـه سرو زرو ډکه کړم.))

پاک نبي (صلی الله عليه وآله وسلم) سر اسمان ته پورته کـړ، و يې ويل: (( خدايه ! زه پردې حال ښـه او خـوښ يـم، چـې يـوه ورځ په نس موړ شم، شکر دې وباسـم او بلـه ورځ وږی پـاتې شم او له تا يې وغواړم.))

هغه مبارک به پر ځمکه پر پوزي کېناسـته. تـر سر لانـدې يـې د څرمنې بالښت ايښوده، چې د کجورو له پاڼو ډک شوی و.

ډېرى يې خواړه روټه او کجورې وې او د الله تعالى د استازي په ژوند کې داسې ورځ رانغله، چې درې ورځې پرلپسې د غنمو ډوډۍ وخوري. روژه يې په کجورو ماتوله او که کجورې نه وې، په اوبو يې ماتوله. کوم خواړه يې چې نه خوښ وو ، د هغو خوړو بده يې هم نه ويله.

حضرت عايشه بي بي وايي: (( کله به مياشت ووته؛ خو زموږ له نغري به لوږى پورته نه شو )).

پر خپله سورلۍ، بې کتې سورېده او بل يې هم په ځان پسې سوراوه.

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: ((رسول الله د نړۍ په لږ تر لږه نعمتونو او خوړو قناعت کاوه، پر نړۍ يې زړه نه بايله، تل يې نس تش و. خوراک خښاک يې لږ و، ساده جامې يې اغوستې،که څه د نړۍ له ټولو نعمتونو د خوند اخستو وړاندېز هم ورته شوى و؛ خو د داسې وړانديز له منلو يې ځان ساته؛ ځکه پوهېده، څه چې الله تعالى لوېدلي او خوار ګڼي، بايد هغه يې هم خوار او لوېدلي وګڼي. نړۍ يې خوښه نه وه او په نړۍ پسې يې زړه نه خوړ.))

یوه ورځ پاک نبي، پر پوزي ویده و، پر بدن یې تغمې جوړې شوې، په دې وخت کې د یوه صحابي زړه پرې وسوځېد او د الله تعالی له استازي یې اجازه وغوښته، چې یو څه پر پوزي ورته هوار کړي. رسول الله مبارک وویل: زه له نړۍ سره څه کار لرم؟ زما او د نړۍ حال هغه ته ورته دی، چې یوې مودې ته د یوې ونې تر سیوري لاندې دمه کوي او تر څو شېبو روسته پاڅي او خپله لار وهي.[1]

د "بني نضیر" او "بني قریظه" له جګړو روسته، چې د یهودو زېرمې رسول الله ته په لاس ورغلې؛ نو د الله تعالی د استازي د مېرمنو په زړونو کې د اشرافي ژوند خبره راغله او د زر او زیورو غوښتنه یې وکړه. پاک نبي یې دا خبره و نه منله، تردې چې وحې راغله او دې کیسې ته یې د پای ټکی کېښود.

**((یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ قُل لِأَزْوَاجِكَ إِن کُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَیَاةَ النړۍ وَزِینَتَهَا فَتَعَالَیْنَ أُمَتِّعْکُنَّ وَأُسَرِّحْکُنَّ سَرَاحاً جَمِیلاً** = پېغمبره! خپلو مېرمنو ته دې ووایه: ((که تاسې د نړۍ ژوند او ښایست یې غواړئ؛ نو راشئ، چې زه درته ګټه (=ښه خوري) درکړم او په

---

[1] آداب تعلیم و تعلم، شهید ثاني

ښه وضعیت مو خو شي کړم))[1] او په دې یې په سپینه ورته وویل، چې تاسې ته په نړۍ کې یوازې عفت او رزق بسیا دی. د نړۍ ځلبل او د رسول الله د مېرمنېدو اوبه په یوه ویاله کې نه ځي؛ البته څرګنده ده، چې د هغه مبارک نظر دا نه و، چې امت رهبانیت او نړۍ پرېښوونې ته وهڅوي او هېڅکله یې پخپله هم داسې و نه کړل؛ بلکې مراد یې دا و، چې امتیان یې ځانونه پر نړۍ له زړه بايللو او تش منځو-پوچو توکیزو موخو ځان وژغوري او یوازې هومره له مادیاتو ګټه واخلي، چې د نړۍ او اخرت د نېکمرغۍ او عالي مانیزو موخو لپاره یې بسېږي.[2]

نبوي حدیث دی: ((په اند مې په تاسې کې تر ټولو نېکمرغه هغه دی، چې متعلقات یې لږ او لمونځ کوونکی وي او د اړتیا هومره پر روزۍ قناعت وکړي، تردې چې خپل الله تعالی ته ورسي او د خپل خدای عبادت په ښه توګه وکړي.[3]))

---

[1] (احزاب/۲۸)

[2] احیاء علوم الدین،امام محمد غزالي

[3] ارشاد القلوب،ابو محمد حسن دیلمي

نبوي حديث دی: (( په نړۍ کې زهد د هيلو لنډول، د نعمتونو شکر او له هغه څخه ځان ژغورل، چې الله تعالی حرام کړي دي. ))[1]

پاک نبي په عملي توګه د ساده ژوند زده کړه، خپلې کورنۍ او يارانو ته هم ورکړې وه. يوه ورځ حضرت سلمان (رض) د رسول الله مبارک د لور کور ته ورغی، و يې ليدل، چې بي بي فاطمې يو پړونی پر سر کړی، چې څو ځايه پېوند پکې لګېدلی و.

حضرت سلمان (رض) هېښنده او خپه شو، له ځان سره يې وويل: ولې بايد داسې وي؟ مګر هغه د عربو د ښاغلي او د مسلمانانو د مشرـلور او د الله تعالی د استازي د تره د زوی کوروداني نه ده؟ (حضرت سلمان (رض) حق درلود؛ ځکه هغه خو د "ايران" د دربار د شاهزادګانو مزې چړچې ليدلې وې.) فاطمه بي بي چې د خپل پلار ليدو ته ورغله، و يې ويل: پلار جانه! سلمان زما پيوند لرونکي پړوني حيران کړ. پر الله تعالی چې پينځه کاله دي، زه د علي په کور کې ژوند کوم او يوازې د

---

[1] اصول کافي،کليني

ګډې یو پوټکی لرو، چې د ورځې پرې خپلو اوښانو ته واخه اچوو او د شپې په خپله پرې سملو.

د الله تعالی د استازي لور پر لږ تر لږه قناعت کاوه او په ژوند کې یې پر ځان سخته تېروله، د کور ټول کارونه؛ جارو، مېچنه او د ماشومانو ساتنه یې په خپله کوله؛ پر یو لاس یې مېچنه کوله او پر بل یې ماشوم ویده کول. په لاندې کیسه کې د رسول الله مبارک زهد ته پام وکړئ:

د الله تعالی د استازي عادت و، له هر سفره، چې راستېنده، د هر څه له مخې، د خپلې لور کره تله او پر احوال یې ځان پوهاوه. یوه ورځ همداچې له سفره راستون شو، فاطمې بي بي بنګړي، غاړکۍ او پرده پېرلې وه. پاک نبي دا ځل د یوې شېبې لپاره هم په کور کې یې پاتې نه شو او نېغ جومات ته ولاړ. فاطمه بي بي د خپل پلار پر تندي پوه شوه او سملاسي یې د چا په لاس پرده، غاړکۍ او بنګړي خپل پلار ته ولېږل، پېغام ور واستو، لور دې وایي: ((دا هر څه وپلوره او د اسلام په لار کې یې ولګوه. رسول الله په خو شحالۍ وویل: څه چې ورته په کار ول، هماغسې یې وکړل، نړۍ د محمد او آل لپاره نه ده.[1]

---

[1] اعلام الوری باعلام الهدی، شیخ طبرسي.

پاموړ دا ده، چې د الله تعالی د استازي زهد، د ژوند په سختو ورځو او د هجرت پر لسم کال، چې اسلام د نړۍ ستر ځواک و، یو شان و او د هغه په لاس روزل شویو هم، د هغه په څېر ژوند کاوه.

د مداین والي هماغه د الله تعالی د استازي د وخت "سلمان" و او بیخي بدل نه شو، چې د ژوند ټوله کڅه یې یوه گنډه وه، چې هر چېرې چې تله، ډېره اسانه یې له ځان سره وړای شوه.

## پاکوالی

د الله تعالی نازولي؛ حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وآله وسلم) له ماشومتوبه له پاکوالي سره ځانگړې مینه درلوده او د سیره لیکونکیو د وینا له مخې، آنحضرت د نورو ماشومانو په پرتله، چې په کوڅو کې یې لوبې کولې او گډ وډ وېښتان یې درلودل؛ خو آنحضرت تل خپل وېښتان ږومنځول او مخ یې پاک و او دا پاکوالی یې د ټولو د خولې مټل گرځېدلی و. وېښتان یې د "سدر" په پاڼو وینځل او د "بنفشه" په غوړیو یې غوړول.

عادت يې و، چې هنداري ته مخامخ ودرېږي او خپل وېښتان ږومنځ کړي او کله يې دا کار اوبو ته مخامخ کاوه.[1]

امام صادق وايي: يوه ورځ يو سړی د الله تعالی د استازي د کور مخې ته راغی او د ننووتو غوښتنه يې وکړه؛ نو رسول الله مبارک د خپل عادت تر مخه هنداري ته ودرېد او خپل وېښتان يې سم کړل؛ نو دامهال حضرت عايشې،پاک نبي ته وويل: د آدم په اولاده کې تر ټولو وړ،غوره او د نړۍ د پالونکي استازی يې او بيا هم هنداري ته درېږې او وېښتان ږومنځوې؟

رسول الله وويل: عايشې! الله تعالی خو شحالېږي، چې بنده د رور ليدو ته پاک ولاړ شي.[2]

پاک نبي نه يوازې په خپله پاک و؛ بلکې هر وخت چې په گوتو ورتله، خپل ياران يې هم پاکۍ ته رابلل، ورته يې د پاک اوسېدنې روزنه ورکوله. يو سړی يې وليد، چې جړه پړه او اوږده ږيره يې درلوده، و يې ويل: ((څه تاوان به يې کړی و که دې سړي خپله ږيره سمه کړې وای.))

---

[1] امالي، شيخ صدوق

[2] امتاع الاسماع، مقريزي

هغه سړي هم، چې د رسول الله مبارک خبره واورېده؛ ولاړ او خپله ږیره یې په معتدله توګه سمه کړه او بیا رسول الله ته ورغی، چې پاک نبي یې دا کار وستایه، و یې ویل: تردې روسته له همداسې ږیرې سره ګرځه.

رسول الله پاکوالي ته دومره ارزښت ورکاوه، چې پر سفر وته؛ نو ږومنځه، رانجه، بېتي، هنداره او مسواک یې له ځان سره وړه.

هغه مبارک د جامو پر پاکوالي هم خورا ټینګار درلود ، ویل یې: چاچې جامې واخستې، په کار ده، تل یې پاکې وساتي.

نبوي حدیث دی: ((په جامو کې مو تر سپینو یوه هم غوره نه ده او تاسې هم سپینې جامې واغوندئ. ))

ښکاره خبره ده، د سپینو جامو یوه ځانګړنه داده، چې ژر رټه ښيي، اغوستونکی اړباسي، چې پاکې یې کړي.

پاک نبي د خپل کور د پاکوالي هم خورا خیال ساته؛ ساده خو ډېر پاک و، ویل یې: (( د کور د وره مخه پاکه ساتئ او د یهودانو په څېر یې چټله مه ساتئ )).

د اوبو پر لوښي، د سر له نه ایښوولو او په کور کې، د غښو د جالو له پرېښوولو یې خلک منع کول، ویل یې: هره ورځ مو له

کوره گند باسئ، مه يې پرېږدئ، چې په کور کې شپه پرې تېره شي.
سپارښتنه يې کوله: اوبه مه چټلوئ، په نهرونو کې مه لامبئ، د نهرونو ترڅنګ او هلته چې د خلکو تګ راتګ وي، اودسماتي ته مه کښېنئ.
د الله تعالی د استازي ويناوې دي:
اسلام پاک دی، تاسې هم پاک وسئ، چې يوازې پاکان جنت ځي. پاکوالی نيم ايمان دی، الله تعالی له چټلۍ کرکه کوي. پاکوالی نيم ايمان دی او ايمان دی، چې جنت ته دې بوځي. پاکوالی د لمونځ د قبلېدو کونجي ده. د دين بنسټ پر پاکوالي دی.

## عطر او خوشبويي

د الله تعالی استازی، چې له هرې کوڅې تېرېده؛ نو د هغه مبارک د عطرو خوشبويي تر ډېره هلته وه.

امام صادق وايي: ((رسول الله تر خوږو پـر عطـرو ډېـر لګښـت کاوه.))[1]
هغه مبارک تل خپلو يارانو ته سپارښتنه کوله، چې ځان پـاک او خوشبويه وساتئ.
د جمعې پر ورځ يـې خپـل يـاران هڅـول، غسـل وکـړي، عطـر ولګوي او خوشبويه د جمعې لمانځه ته ولاړ شئ.
يوه ورځ رسول الله، حضرت علي (کرم اللـه وجهـه) تـه وويـل: علي! له تا غواړم، د جمعې پر ورځ خوشبويه عطر ولګوې، چې دا مې سنت دی او تر هغه چې لـه تـا خو شبويي راځـي، ثـواب درته ليکل کيږي، ويل يې: که چا ته کوم مسلمان رور ګل ډالۍ کړ، و دې يې مني، چې ګل د جنت دی.
د امامانو سيرت هم د عطرو په هکله، د الله تعالی د اسـتازي پـه څېر و؛ لکه څنګه چې امام رضا وايي: (( په جومات کې خلکـو د امام صادق ځای د هغه د عطرو له بويه پېژنده. ))
امام صادق: عطر لګول د الهي انبياوو اخلاق او سنت وو.
بيا يې وويل: له عطرو سره دوه رکعته لمونځ، بې له عطرو، له اويا رکعتونو سره برابر دي. بيا وايـي: انسـان تـه پکـار دي، هـره ورځ

[1] بحارالانوار،محمد باقر مجلسي

عطر لگول هېر نه کړي او که دا کار نشي کړای، یوه ورځ روسته دې دا کار وکړي او که بیا هم نشي کړای، د جمعې پر ورځ دې هرومرو دا کار وکړي.
پاک نبي مشک درلودل، چې تر هر اوداسه روسته یې پر لاس موږل. خو دا خبره دې له قلمه و نه غورځي، چې پاک نبي په هرو شرایطو کې د عطر د کاررولو اجازه نه ده ورکړې. د بېلگې په توگه: د ښځې د بهر وتو پرمهال یې عطر لگول منع کړي دي، تردې چې و یې ویل: ((کومه ښځه، چې عطر ولگوي او له کوره بهر ووځي؛ نو تر هغه به د الله تعالی لعنت پرې ویل کیږي، چې کور ته راستنه شي )).

## مسواک وهل

رسول الله مبارک تل خوله او غاښونه پاک ساتل او مسواک یې واهه، په تېره، له خوبه مخکې او تر خوب روسته، ویلې یې دي: که نه وېرېدم، چې لارویان مې پر عذاب شي او ورته سخته شي، فرض کړي به مې وای، چې د هر لمانځه په اوداسه کې مسواک ووهي.

امام صادق د خپل نیکه حضرت محمد مصطفی وینا راخلي، چې یوه ورځ یې وویل: د قرآن لار پاکه وساتئ، وپوښتل شو: د قرآن له لارې مو مطلب څه دی؟ و یې ویل: ستاسې خولې! وپوښتل شو: څنگه؟ و یې ویل: په مسواک وهلو.
نبوي حدیث دی: خولې پاکې وساتئ، چې د تسبیح لار ده.
امام صادق وویل: (( تر مسواک وهلو روسته، دوه رکعته لمونځ تر اویا رکعتو بې مسواکه لمانځه غوره دی.))
او په بل ځای کې وایي: مسواک دولس ځانگړنې لري:
١_ سنت دی. ٢_ خوله پاکوي. ٣_ سترگې روښانوي. ٤_ الله تعالی خو شحالوي. ٥_غاښونه سپینوي. ٦_د خولې بوی ورکوي. ٧_وری کلکوي. ٨_ا شتها ډېروي. ٩_بلغم له منځه وړي. ١٠_حافظه غښتلې کوي. ١١_حسنات دوه گرایه کوي. ١٢_پرښتې خوشحالوي.
نبوي حدیث دی: مسواک خوله پاکوي او د پالونکي د خوښۍ لامل دی. ))[١]

[١] پیامبر رحمت، محمد خالد، د صدر بلاغي ژباړه.

زموږ ګران پیغمبر به د پاکوالي لپاره د خولې او پوزې غړه غړه هم کوله.

## قدرمن او حق پېژاندی

رسول الله به د هغوی بې ځارې قدرمني کوله، چې په یوه نه یو ډول یې د هغه مبارک په ژوند کې ونډه درلوده او د الله تعالی د استازي سیره، خپلو لارویانو ته جوتوي، چې که انسان ونشي کړای د مخلوق حق پر ځای کړي، هېڅ به ونشي کړای، د خپل پنځګر حق ادا کړي.

سره له دې چې پاک نبي خپل پالونکي روزلی و؛ خو بیا یې هم د هغوی په ځانګړې توګه درناوی کاوه، چې د هغه په ښوونه، روزنه او د موخو په پرمختګ کې یې مرسته او یا لاسنیوی کړی و. له مناسبې شېبې یې له داسې خلکو د مننې لپاره ګټه اخسته او هر چوپړ یا کار چې یې له دې خلکو سره له لاسه کېده، ورته یې کوه.

د رسول الله مبارک پام یوازې له موروپلار او خپلوانو سره نېکی ته نه و؛ بلکې په هره شونې بڼه، چې کېدل، له ټولو خلکو سره، په ځانګړې توګه مرسته او قدرداني یې کوله او دې خبرې ته د

الله تعالی د استازي دومره پام و، چې په دې هکله يې په تاريخ کې ځانګړی نوم پرېښی دی.
د الله تعالی د استازي جومات يوې ښځې جارو کاوه. د شپې به هملته ويدېده او خلکو يې لګښت ورکاوه، يوه شپه رسول الله مبارک هغه ښځه په جومات کې و نه ليده؛ نو د هغې پوښتنه يې وکړه. وويل شول: مړه شوې او خاورو ته هم وسپارل شوه.
د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) يارانو داسې ګومان کاوه، چې ددې بوډۍ مړينه، د الله تعالی د استازي لپاره دومره ارزښت نه لري؛ نوځکه يې ددې بوډۍ له مړينې نه و خبر کړی؛ خو رسول الله مبارک د بوډۍ پر مړينه خورا خوا شينی شو، له ملګرو سره يې قبر ته ولاړ، لمونځ يې ورته وکړ او له الله تعالی يې ښښنه ورته وغوښته.
له خپلو دايه ګانو: "ثوبيه" او "حليمې" سره مينه، لاسنيوی، مرسته او قدرمني يې، په تاريخ کې د قدردانيو، مرستو او مينې بې ځارې بېلګه ده.
"ثوبيه" د "ابولهب" وينځه وه، څلور مياشتې يې رسول الله ته شيدې ورکړې، چې د ژوند تر پايه يې رسول الله او مېرمن يې خديجې بي بي، ورسره مينه، مرسته او قدرمني کوله.

تر بعثت روسته رسول الله یو ورپسې ولېږه، چې له ابولهب څخه یې وپېري؛ خو هغه و نه منله. رسول الله بیا هم د ژوند تر پایه مرسته او مینه ورسره کوله. د الله تعالی استازی چې له "خیبر" غزا راستون شو، وا یې ورېدل، چې "ثوبیه" مړه شوې. په دې خبره د پاک نبي چرت ډېر زیات خراب شو. د هغې د زوی پوښتنه یې وکړه، چې مرسته ورسره وکړي. وویل شو: زوی یې تر مور مخکې له دې نړۍ مړ شوی دی.

په "حنین" جګړه کې، روسته تردې د "هوازن" ټبر وتښتېد؛ نو ښځې او ماشومان یې اسیران شول. د هغه ټبر خلکو د الله تعالی د استازي رضاعي تره، چې د هماغه ټبر و، رسول الله ته واسطه کړ، چې کېدای شي، د درناوي په پار یې اسیران خو شې کړي. رسول الله، د خپل رضاعي تره د درناوي په پار، مجاهدینو ته د اسیرانو شفاعت وکړ؛ خو په دې مجاهدینو کې څو کسانو د خپلو اسیرانو له خوشې کولو سرغړونه وکړه، چې بیا پخپله رسول الله، هغه اسیران په پیسو وپېرل او خوشې یې کړل.

له "ام ایمن" سره هم د پاک نبي له مینې او وفا ډکه کیسه بې ځارې ده. د الله تعالی استازی شپږ کلن و، چې مور یې د عبدالله د قبر له زیارته د راستنېدو پرمهال په "ابوا" سیمه کې مړه

شوه. تردې روسته ددې شپې کلن ماشوم پر روزنې سربېره، ددې ماشوم مورولي هم "ام ايمن" پر غاړه واخسته.

دې مېړنۍ ښځې په هغه بېديا کې، چې ډول ډول لوټ ماران پکې وو، خپله ټوله هڅه وکړه، دا ما شوم روغ رمټ خپلې کورنۍ ته ورسوي او خپل ګران نيکه "عبدالمطلب" ته يې وسپاري.

رسول الله به د خپل ټول عمر په ترڅ کې ددې ښځې دا ښېګڼه نه هېروله او څومره چې يې له لاسه کېدل، مرسته يې ورسره کوله او تل يې مور ورته ويله.

## د ام المؤمنين خديجي قدرمني

په دې ټول خبر دي، چې په ښځمنو کې خديجه بي بي وه، چې تر ټولو ړومبی يې د الله تعالی پر استازي ايمان راووړ. رسول الله يې هېڅکله دا ارزښتمن چوپړونه هېر نه کړل او په هر ځای کې يې په درناوي يادوله، تل يې ويل: (( پر الله تعالی قسم، چې پالونکي، بې له خديجې ښه نه ده را پر برخه کړې؛ هغه مهال، چې ټول کفار وو؛ ايمان يې راباندې راوړ، هغه مهال چې ټولو دروغجن ګڼلم؛ تصديق يې کړم، هغه مهال چې نورو له

خپلې شتمنۍ بې برخې کړم؛ پر خپله شتمنۍ يې زما ملاتړ او مرسته وکړه او الله تعالی اولاد ترې راکړ. ))
پاک نبي به نه يوازې د خديجې درناوی کاوه؛ بلکې د خديجې د ملګرو درناوی يې هم کاوه او د هغوی پوښتنه يې کوله.
يوه ورځ يوه بوډۍ د رسول الله ليدو ته ورغله، رسول الله يې خورا درناوی وکړ، بيا يې په ورين تندي رخصت کړه. کتنه چې پای ته ورسېده، ام المؤمنين عايشې بي بي، د الله تعالی له استازي د دې دومره درناوي پوښتنه ورکړه، و يې ويل: دا ښځه به د خديجې پر ژوندون هم زموږ پوښتنې ته راتله.
يوه ورځ د الله تعالی استازی د لارې پر سر له يوې بوډۍ سره ودرېد، د هغې پر احوال يې ځان پوه کړ، خبرې يې ورسره وکړې، و يې ويل: (( پخوانۍ دوستي ټينګه ساتل، د ايمان نښه ده )) دا ښځه د خديجې پر ژوندون هم زموږ پوښتنې ته راتله.
د ام المؤمنين عايشې وينا ده: د الله تعالی استازي چې به حلاله وکړه، برخې برخې به يې کړه او د خديجې د ملګرو برخه يې هم پکې کوله.

# کار او هځه

له وړوکتوبه تکړه او خواري کښ و. هغه مهال چې له ((حلیمې)) بي بي سره و، و یې پوښتل: روڼه مې چېرې ځي؟ حلیمې وویل: څاروي څرولو ته وړي. و یې ویل: سر له سبا زه هم ورسره ځم.

په اووه کلنۍ کې ولیدل شو، چې لمنه یې له خاورو ډکه کړې او له "عبدالله بن جدعان" سره د کور په جوړولو کې مرسته کوي.

په ژوند کې و نه لیدل شو، چې کومه شېبه یې پر ناغېړۍ تېره کړې وي، خپل کارونه یې په خپله کول او په کور پورې اړوند چارې یې په خپله کولې، دعا یې کوله: (( خدایه! له لټۍ او بې کارۍ پناه غواړم )).

مسلمانان یې کار و هڅو ته هڅول، ویل یې: ((رښتین کارگر، پر الله تعالی گران دی. عبادت اویا برخې لري، چې تر ټولو غوره یې د حلال رزق گټل دي. ))

ویل یې: (( څوک چې د نړۍ په چارو کې ناغېړی وي، د اخرت چارې به یې هم ناغېړې وي)).

نبوي حديث دی: ((لعنت ویل شوی پر هغه چې د خپل لگښت پېټې پر نورو اچوي او پخپله بېکاره وي.))
یوه ورځ رسول الله یو تکړه غښتلی سړی ولید، چې هغه مبارک یې اریان کړ، پاک نبي یې د کار او کسب/ ورهنې په هکله وپوښتل. منفي ځواب یې واورېد، و یې وویل: ((له سترگو مې وغورځېد)).
د الله تعالی د استازي یو اصحابي ډېر بېوزله شوی و او د خپلې ښځې په وړاندیز یې هوډ وکړ، خپل حالت رسول الله مبارک ته ووایي، مرسته تري وغواړي او په همدې نیت پاک نبي ته ورغی؛ خو مخکې تردې چې خپله اړتیا وغواړي، له رسول الله یې واورېدل:
((څوک چې له موږ څخه څه وغواړي، ورکوو یې؛ خو هغه چې ځان نورو ته نه اړینوي او خپل لاس نورو ته اوږد نه کړي، الله تعالی به یې مړه خوا کړي)).
دې سړي هم پر هغه ورځ د الله تعالی له استازي هېڅ و نه غوښتل، کور ته راستون شو،کور ته راغی؛ خو د بېوزلۍ له لامله بیا رسول الله ته ورغی. دواړه ځل یې هماغه خبره واورېده او بې له دې، چې له پاک نبي مرسته وغواړي، خپل کور ته راستون

شو؛ خو دا ځل يې له ځان سره فکر وکړ: څه کړای شم؟ ذهن ته يې ورغلل، چې دومره خو کړای شي، چې بېديا ته ولاړ شي، خس راټول او و يې پلوري. ترخزه يې را واخسته، بېديا ته ولاړ، خس يې راوړل، و يې پلورل او نه يوازې خپله اړتيا يې لاس ته راوړه؛ بلکې سوکه سوکه شتمن هم شو. بله ورځ، چې د الله تعالى رسول وليد، موسکى يې وويل: (( درته مې نه وو ويلي: ځوک چې له موږ مرسته وغواړي، مرسته يې کوو؛ خو که ځان اړين نه کړي، الله تعالى يې مړه خوا کوي. ))

د الله تعالى د استازي وينا ده: غوره به وي، په تاسې کې يو کس، بې له دې، چې له خلکو څه وغواړي، خپله رسۍ واخلي، غره ته ولاړ شي، خس راټول کړي او و يې پلوري. ))

**((وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً** =[1] او له داسې ځايه روزي ورکوي، چې گومان يې نه کوي او ځوك چې پر الله تعالى توکل وکړي، الله تعالى ورته بسيا دی، په حقيقت

[1] ( طلاق/٣)

کې الله تعالی د خپل کار کوونکی دی، په یقین الله تعالی هر څیز ته یوه اندازه ټاکلې ده. ))[1]

د الله تعالی د استازي ځینو یارانو، چې د ا آیت واورېد، له کار و هڅو یې لاس واخست، په ځان پسې یې ورونه وتړل، پر عبادتونو بوخت شول او له ځان سره یې وویل: نوره اړتیا نه لرو ورهڼه-کار او کسب ولرو.

رسول الله چې خبر شو، ټول یې راوغوښتل، و یې وپوښتل: ولې مو له کاره لاس واخست او یوازې پر عبادت بوخت شوئ؟ و یې ویل: موږ ځکه یوازې پر عبادت بوخت شو، چې الله تعالی ویلي او ضمانت یې کړی، چې روزي به مو راکوي. رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) هغوی ورټل، و یې ویل: چاچې داسې وکړل او له کار او هڅو یې لاس واخست، دعا به یې قبوله نشي، په کار دي، کار او کوښښ وکړئ او د خپل کوښښ او کسب تر سیورې لاندې له الله تعالی مرسته وغواړئ.

په بل ځای کې وایي: (( تر ټولو پاک خواړه هغه دي، چې انسان یې په خپل کار او کوښښ لاس ته راوړي )).

[1] پیام و پیامبر، سید محمد تقي حکیم

رسول الله ټول هغه مشروع کوښښونه او هلې ځلې عبادت ګڼلي او جهاد یې بولي، چې د ژوند د ښه کولو او اړتیاوو د لرې کولو لپاره کېږي.

رسول الله له اصحابو سره ناست و، چې یو غښتلی او تکړه ځوان یې ولید، چې سهار وختي پر کار بوخت شو. دا مهال اصحابو وویل: دا ځوان به هله ستاینوړ و، چې خپله ځواني او غښتلیتا یې د الله تعالی په لار کې کارولې وای. رسول الله وویل: دا خبره مه کوئ! که دا ځوان ددې لپاره کار کوي، چې په ژوند کې نورو ته اړتیا و نه لري، دا کار یې د الله تعالی په لار کې شمېرل کېږي او که ددې لپاره کار کوي، چې بېوزلیو ماشومانو او خپل موروپلار ته ګټه ورسوي، بیا یې هم کار عبادت دی؛ خو که ددې لپاره کار کوي، چې مال ډېر کړي؛ نو د شېطان پر لار تللی او له سیده لارې کوږ شوی دی.

ګران پېغمبر به له خواري کښو او کارګرانو سره ځانګړې مینه درلوده، چې په تاریخ کې له دې طبقې سره دومره مینه، له هېڅ مشرتابه هم نه ده لیدل شوې؛ لکه څنګه چې حضرت انس بن مالک(رض) وایي: (( هغه مهال چې رسول الله له "تبوک" غزا راستون شو، "سعد انصاري" یې ستړو مه شو ته ورغی، رسول

الله، چې لاس ورکړ؛ نو د هغه لاس يې ځير وموند، و يې ويل: پر لاس دې څه شوي دي؟ و يې ويل: الله تعالی مې دې له تا لوږی کړي! زه په پړي کار کوم او له دې لارې کورنۍ ته روزي گټم. دا مهال يې آنحضرت لاس ښکل کړ، و يې ويل: دا هغه لاس دی، چې د دوزخ اور به ور و نه رسي.[1]

وينو چې د اسلام د ستر پيغمبر په ښوونو کې، کار يوازې د مجبورۍ له مخې نه؛ بلکې که څوک له مالي اړخ کار ته اړتيا هم نه لري، بيا يې هم کار، د انسان د بشپړتيا لپاره ارزښتمن گڼلی، چې د ډول ډول وړتياوو په زرغونولو کې مهمه ونډه لوبوي.

رسول الله مبارک د خپل ژوند يوه شيبه هم بېکاره تېره نه کړه او چې د خپلو دندو د ترسره کولو روسته به کور ته راستون شو، خپل وخت يې درې برخې کاوه:

۱ـ په يوه برخه کې يې د الله تعالی عبادت کاوه.

۲ـ په يوه برخه کې له خپلې کورنۍ سره و او د هغوی اړتياوې يې پوره کولې.

---

[1] تاريخ طبري

۳_ په يوه برخه کې يې استراحت کاوه، وګړيزې چارې يې پکې کولې، چې په دې وخت کې يې يو څه وخت، ځانګړيو اصحابو او نورو خلکو ته هم ورکاوه.

## ژوند غنيمت دی

رسول الله تل هڅه کوله، خپل امت د ژوند پر ارزښت پوه کړي، ويل يې: ((د آدم اولاد ته حيران يم، چې شتمني يې ډېره شي،خوشحاله شي، چې شتمني يې لږه شي، خپه شي؛ خو پر دې خبره هېڅکله نه خواشينيږي، چې د ژوند شپې و ورځې يې تېرېږي او پوه شئ، هغه هوسا نه دی، چې شتمني يې ډېره؛ خو عمر يې لنډ وي، ويل يې: الهي پرښته هره شپه پر شل کلنو ځوانانو غږ کوي، نه ستړی کېدونکې هڅې وکړئ او کمال او نېکمرغۍ ته د رسېدو لپاره ملا وتړئ. د ايمان خاوند ته پکار دي، له خپل ځواکه، د خپلو ګټو، له نړۍ، د آخرت لپاره او له ځوانۍ د بوډاتوب لپاره وکاروي.

رسول الله،حضرت ا بوذر غفاري ته وويل: پينځه څيزونه تر پينځو څيزونو مخکې غنيمت وګڼه: ځواني تر بوډاتو به، روغتيا

تر رنځورۍ، شتمني تر بېوزلۍ، فراغت تر ګرفتارۍ او ژوند تـر مړینې مخکې غنیمت وګڼه.
ویل یې: چا ته چې د خیر ور پرانستل شو، هغه دې غنیمت وګڼي، له وخته دې ګټه واخلي؛ ځکه پته ورته نه وي، چې کله پرې دا ور تړل کېږي.
د الله تعالی د استازي وینا ده: په ژوند کې به مـو داسې ورځـې راشي، چې د الله تعالی ځانګړی پـام به درتـه وي او مناسـب وخت به لاس تـه راوړئ؛ نـو دا مهـال کوښښ وکـړئ، لـه دې فرصته ګټه واخلئ او ځان د الله تعالی پر لاره سم کړئ.
د الله تعالی د استازي وینا ده: پـه قیامـت کـې به یـو بنـده هـم مخکې ولاړ نشي؛ خو داچې څو پوښتنې ترې وشي:
۱_ ژوند دې پر څه تېر کړی دی.
۲_ځواني دې څنګه او په کومه لار تېره کړې ده.
۳_شتمني دې څنګه لاس ته راوړې او پـه کـوم ځـای کـې دې لګولې ده.
٤_ امام دې څوک دی؛ لکه څنګه چې لـوی څښـتن ویـلي: (( یوم ندعوا کل اناس بامـامهم )) پـر هغـه ورځ به ټـول خلـک د

هغوی له امام سره راوغواړو او په پای کې به له فرصتونو او واکه کمال ته د رسېدو په هکله هم پوښتنه کیږي.

د رسول الله وینا ده: مغبون دی چې نن یې له پرون سره یو شان وي. ملعون دی چې پرون تر ننه بدتر وي. کم عقله دی، چې خپلې نیمګړتیاوې له منځه یو نه سي او د هغه چې عقل او عمل نیمګړی وي، تر ژونده ورته مرګ غوره دی (ځکه ورځ په ورځ یې ګناهګانې ډېرېږي.[1])

## خپل کار په خپله کول

تر هغه چې شونې وه؛ رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) خپل کارونه پخپله کول؛ خپلې څپلۍ یې په خپله ګنډلې او که جامې یې شلېدې، په خپله یې ګنډلې. اوداسه ته یې په خپله اوبه راوړې. نه یوازې خپل کارونه یې په خپله کول؛ بلکې د کور په چارو کې یې له کورنۍ سره هم مرسته کوله او که د کور لپاره به سودا په کار وه، په خپله یې راوړه. هېڅکله چا و نه لیدل، چې په بازار کې پېرل شوې سودا، پر بل چا یوسي او

[1] تاریخ یعقوبي

سپارښتنه یې کوله: چې مو له لاسه کېږي، خپل کارونه پـه خپلـه وکړئ او نورو ته يې مه سپارئ.
د الله تعالی استازی له اصحابو سره پر سفر وتـلی و، چـې غرمـه شوه؛ کاروان ودرېد، ټـول لـه سـورليو راکـوز شول، رسـول اللـه مبارک هم له سورلۍ راکوز شو او اوداسه تـه د او بو د راوړو پـه تکل کې شو، روسته تردې رسول الله مبارک له خپل اوښه لـرې شو، بېرته راستون شو، اصحابو گومان وکـړ، کېـدای شي رسـول الله مبـارک دا ځـای د دمـې او اوداسـه لپـاره مناسـب نـه گڼـي؛ نوځکه راستون شو، چې د تګ حکم ورکړي، ټول پـر تمـه وو، چې رسول الله مبارک څه وايي او خلک خو نور هم هله حيران شول، چې و يې ليدل، د الله تعالی استازی راغـی، د اوښ پښـې يې په خپله وتړلې او بېرته په اوبو پسې ولاړ. ټولو غږ پرې وکـړ: رسول الله ! ولې دې موږ ته حکـم و نـه کـړ، چـې دا کـار درتـه وکړو، ولې مو ځان په زحمت کې کړ؟ رسول الله مبـارک خپـل تاريخي ځواب ورکړ: لـه نـورو پـه خپلـو چـارو کـې مرسـته مـه غواړئ، که څه د وړکي کار لپـاره وي! کـه څـه ددې لپـاره وي، چې څوک درته مسواک راواخلي؛ يعنې څومره مو چې له لاسـه

کېږي،خپل کارونه په خپله کوئ او له نورو مه غواړئ، کار مو وکړي.

رسول الله مبارک داسې اصحاب او یاران درلودل، چې که یې ترې غوښتي وای، ځانونه یې د هغه پر خبره، سیند ته هم گوزارول او د هغه د یارانو هم ټول ویاړ دا و، چې د رسول الله مبارک پر حکم ځان، د دښمن تر تورو لاندې کوي او د داسې یارانو په درلودو، بیا هم نه خوښېده، چې خپل کار نورو ته وسپاري ، ویل یې: (( خپل کار په خپله کول د انبیاوو کړنلار ده. ))

## خبرې او چوپتیا

رسول الله مبارک خوږ او غوخ ژبی و، تل د وینا پرمهال موسکی و؛ نه ډېر گړېده او نه تل چوپ و. چوپتیا یې اوږده وه او نااړینه نه گړېده. یوه ورځ یې حضرت ابوذر غفاري (رض) ته وویل: (( په څه کې، چې دې گټه نه وي، پرېږده یې. هغه خبره مه کوه، چې گټه دې پکې نه وي او پر خپله ژبه د خپلو پیسو په څېر پام وکړه او و یې ساته. ابوذره! که گړېدل سپین زر وي؛ نو چوپتیا سره زر دي. ))

خبره يې نه اوږدوله، خبره يې تکراري نه وه، غوسه او روښانه وينا يې درلوده، خبرې يې په حوصله او د کلمو ترمنځ يې واټن و، تردې چې په ډله کې ټولو ناستو کړای شول، د رسول الله مبارک پر بېلو بېلو خبرو پوه شي. بې بنسټه خبرې نه کولې، په خبرو کې نه ترهورېده، وينا يې هم د نورو حرکتونو په څېر انډول وه، خبره يې بشپړه، پراخ بنسټه، بې له کوم زياتوالي او کموالي وه؛ نوځکه کلمې يې جوامع الکلام او څرګندونې يې فصل الخطاب وې.

نبوي حديث دی: (( زه تر ټولو فصيح ژبی عرب يم )).

د رسول الله مبارک غوښدلې او ويناوې وړې؛ خو پخې وې، په خپله يې ويل: (( ښتن مې هراړخيزې کلمې راکړې دي. ))

په رښتيا لوی ښتن داسې ځواک ورکړی و، چې په يوه وړه خبره يې خورا زيات علم او حکمت څرګنداوه، چې دا ځواک يې په مبارکو ويناوو کې هر چا ته څرګند دی؛ خو د يادونې ده، چې رسول الله مبارک، له هر چا سره يې د هغوی د عقل او پوهې هومره خبرې کولې.

غږ يې لوړ او تر ټولو خوږ و. داسې څوک به نه وي، چې د رسول الله مبارک غږ او خبرې يې اورېدلې وي او په زړه کې

يې نه وي ناستې او زړه يې پرې نه وي بايللی؛ نو ځکه قريشو په مکه کې مسلمانان شويو ته "صباة" (زړه بايلونکي) ويل، ويل يې: وېره له دې ده، چې "وليد بن مغيره" پر محمد زړه و نه بايلي، چې ټول قريش ورته په تمه دي او که هغه هم پر محمد زړه وبايله؛ نو ټول قريش به پر محمد زړه وبايلي. قريشو ويل: ((وينا يې کوډې او تر شرابو يې مستي ډېره ده.))

خپل زامن يې له رسول الله سره له ناسې پاستې منع کول، چې د محمد (صلی الله عليه وآله وسلم) خوږې خبرې او په زړه پورې خبره پرې اغېز و نه کړي.

چې رسول الله مبارک په "حجر اسماعيل" کې کېناسته او پخپل ښکلي غږ يې قرآن پاک لوسته، کفارو په غوږونو کې ګوتې ايښودې، چې د رسول الله مبارک ښکلی غږ يې زړونه را نه کاږي او پر سرونو يې ځادرونه را اچول، چې سترګې يې د محمد (صلی الله عليه وآله وسلم) پر زړه راکښونکې څېره و نه لګي؛ ځکه چا به چې د الله تعالی د استازي خوږه او په زړه پورې وينا واورېده، اسلام يې راووړه.[1]

[1] تحف العقول

# عبادت

د الله تعالی د استازي سر تل په ګرېوان کې د لوی ښتن په یاد کې و. په هر حال او ځای کې یې فکر او ماغزه، له لوی پالونکي سره وو. تل یې ځان ته "عبد" وایه او "عبد" هغه دی، چې خپل معبود، تر ټولو ښه پېژني او تر ټولو غوره عبادت یې کوي او له دې لارې د خپلې بندګۍ مقام لوړوي.

نبوي حدیث دی: د انسان رفیع مقام، چې هماغه لوی پالونکي ته د نږدېوالي مقام دی، په عبادت لاس ته راځي. رسول الله مبارک د لوی ښتن پر ستروالي پوه شوی و؛ نوځکه تر ټولو عابد و او پردې مقام او منزلت ویاړېده. په هر ځای او حال کې یې د الله تعالی پر یاد سپارښتنه کړې ده.

یوه ورځ یې د خپلو مبارکو ویناوو په ترځ کې اصحابو کرامو ته وویل: که څوک خوښ وي، د الله تعالی په نزد له خپل مقامه خبر شي او له ځان سره د الله تعالی پر مقام خبر شي؛ نو پوه شئ، الله تعالی، انسان ته هغه مقام ورکوي، چې بنده یې ورته په زړه کې لري. پوه شئ، د الله تعالی په نزد، تر ټولو غوره کړنې او تر ټولو ستره درجه او تر ټولو هغه څه غوره، چې په نړۍ کې

دي، د الله تعالی یاد دی؛ ځکه په خپله لوی پالونکي خبر ورکړی: ((زه له هغه سره همنشین یم، چې زما پر یاد وي.))
د رسول الله (ص) وینا ده: تر ټولو غوره خلک هغه دي، چې پر عبادت مین وي، د زړه له کومې مینه ورسره وکړي او پر غړیو یې وکړي او داسې خلک دي، چې چرت یې خراب نه دی، چې د نړۍ چارې یې سختې تېرېږي که اسانه.

## لمونځ

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) له لمانځه سره هېښنده مینه درلوده، ویل یې: ((لمونځ مې د سترګو رڼا ده، چې یو بنده لمونځ کوي او زړه یې له الله تعالی سره وي؛ نو چې لمونځ یې پای ته ورسي؛ نو د زوکړې د ړومبۍ ورځې په څېر وي.))
تل یې ویل: ((لمانځه ته مه شا کوئ.))
د "بني ثقیف" د ټبر یوه ډله، د اسلام راوړو په موخه، له رسول الله سره پر مذاکره شول. مذاکره چې پلاوي، د خبرو او وړاندیزونو په ترخ کې، رسول الله مبارک ته دا وړاندیز هم ورکړ، چې د "بني ثقیف" ټبر به په څو شرطونو مسلمان شي، چې یو یې لمونځ نه کول دي. رسول الله مبارک یې په ځواب

کې وویل: (( رابه شو د لمونځ خبرې ته؛ په هغه دین کې خیر نشته، چې لمونځ پکې نه وي. ))
نبوي حدیث دی: ((لمونځ د کېږدۍ د ستنې په څېر دی، که د کېږدۍ ستنه پخه او پر ځای وي؛ نو کېږدۍ او پړي یې هم پاخه او پر ځای کلک وي او که ستنه ماته شوه؛ نو کېږدۍ هم رانړېږي.))
یوه ورځ یې له خپلو یارانو سره په خبرو کې پوښتنه رامنځ ته کړه: فرض کړئ، د کور په مخ کې مو د اوبو یو نهر دی او تاسې هر ورځ پینځه ځل پکې ځان وینځئ؛ نو ایا پر بدن به مو خېری پاتې شي؟ وویل شو: نه! داسې وینځل به هېڅ ډول خیرې پر بدن پرنږدي. رسول الله وویل: پینځه وخته لمونځ هم داسې اغېز لري. پینځه وخت، لمونځ الله تعالی انسان پاکوي، ویل یې: هغه لمونځ نه دی، چې لاروي ترې نه کوي او له لمانځه لاروي دا ده، چې له فحشا او منکراتو لاس واخلئ.
نبوي حدیث دی: ((هغه لمونځ د سپېڅلتیا لامل دی، چې د الله تعالی په پامنیوي د زړه له کومي وشي.)) له اندنې سره دوه رکعته لمونځ، تر ډېرو لمونځونو غوره دی.

د هغه مبارک او د دیني مشرانو په زده کړو کې راغلي دي:
هومره لمونځ قبلیږي، چې د زړه په حضور کې وي.
په لمانځه کې د زړه او ذهن د حضور په هکله وایي: لمونځ د هغه چا په څېر وکړئ؛ لکه چې له لمانځه سره مخه ښه کوي او چې لمونځ ته چمتو شوئ؛ نو ووایئ چې دا مې په نړۍ کې روستی لمونځ دی او داسې وئ؛ لکه جنت مو چې مخې ته، دوزخ مو تر پښو لاندې، د مرګ پرښته مو شاته، پېغمبران مو ښي اړخ ته، پرښتې مو کیڼ اړخ او الله تعالی مو پر سر وي؛ نو پام مو وي، چې د چا عبادت کوئ او څوک مو څاري؟
نبوي حدیث دی: ((د خپل پالونکي داسې عبادت وکړه، چې ګواکې وینې یې او که یې نه وینې؛ نو هغه خو دې ویني. ))
یوه ورځ د الله تعالی استازی په جومات کې ناست و، چې یو سړی راننووت، پر لمانځه ودرېد، دومره چټک لمونځ یې وکړ، چې پاک نبي یې په هکله وویل: هغه سړی د لمانځه پر ځای د کارغه په څېر ټونګې وهي او که له نړۍ ولاړ شي او لمونځ یې همدا وي؛ نو زما پر دین به له نړۍ نه وي تللی.

نبوي حديث دی: که څوک د خلکو په مخ کې په تواضع لمونځ کوي؛ خو چې ځان ته شي او په هماغه تواضع لمونځ و نه کړي؛ نو دا به د پالونکي ستر سپکاوی وي.
نبوي حديث دی: په خشوع کې له نفاقه، له الله تعالی پناه وغواړئ. وپوښتل شو: په خشوع کې نفاق څه دی؟ و يې ويل: داچې د انسان بدن خا شع وي؛ خو زړه يې نه وي او ډېر دي داسې کسان، چې د لمانځه پايله يې يوازې ستړيا وي.
رسول الله مبارک په لېواتيا د لمانځه د وخت په تمه و او د لمونځ وخت چې به را ورسېد؛ نو خپل موذن ته يې ويل: بلاله ! (په اذان مې) خوشحاله کړه.
يوه ورځ يې حضرت ابوذرغفاري (رض) ته وويل: ابوذره ! الله تعالی مې د سترگو رڼا په لمانځه کې ايښې او رابانـدې گران کړی يې دی؛ لکه څنگه چې يې خواړه پر وږي او اوبه پر تږي؛ خو پر دومره توپير، چې وږی په خوړو او تږی په او بو مړېږي؛ خو زه په لمانځه نه مړېږم.
د حضرت علي (کرم الله وجهه) وينا ده: رسول الله ته د لمانځه په پرتله هېڅه هم ور نه وو او د لمونځ وخت، چې شو؛ نو تـه وا په خپل شاوخوا کې هېڅ څوک هم نه پېژني.

د رسول الله مبارک د يوې مېرمنې وينا ده: رسول الله له موږ سره او موږ له هغه سره خبرې کولې؛ خو همداچې د لمانځه وخت به شو؛ نو يو داسې حالت به پرې راغی، ته وا بېخي موږ نه پېژني او نه يې موږ پېژنو. په لمانځه کې يې د الله تعالی له وېرې رنگ تښتېده او غږ به يې ژړغون شو.

هغه مبارک، چې په خپله لمونځ کاوه، لمونځ يې ډېر اوږد و؛ خو چې نورو ته يې لمونځ ورکاوه، د نورو د حال په پامنيوي يې لمونځ نه اوږداوه ، ويل يې: زړه مې غواړي، لمونځ مې اوږد کړم؛ خو هغه مهال، چې د هغه ماشوم د ژړا غږ واورم، چې مور يې په ما پسې لمانځه ته ولاړه ده؛ نو لمونځ مې لنډوم.

يوه ورځ يو سړی، چې ټوله ورځ يې د خپل پټي په کړوبولو تېره شوې وه؛ د لمانځه لپاره په حضرت معاذ بن جبل (رض) پسې ودرېد، هغه په لمانځه کې د بقرې سورت پيل کړ؛ هغه سړي د ستړيا له لامله و نه شول کړای. په جماعت لمونځ وکړي؛ سلام يې واړو او په خپله يې لمونځ وکړ. حضرت معاذ وويل: تا نفاق وکړ او له موږه بېل شوې. د الله تعالی استازی، چې له دې پېښې خبر شو، له غوسې سور شو، حصرت معاذ ته يې وويل: تاسې په دې کار، له دينه د مسلمانانو زړه توروئ؛ خو

دې خبرې ته مو پام نه وي، چې په لمانځه کې ستړي، رنځوران او بوډاگان هم ولاړ دي او باید په ټولنیزو چارو کې د کمزوریو وګړیو حال هم په پام کې ونیول شي، ولې دې لنډ سورت و نه وایه؟!

د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) نه خوښېدل، پر لوړ غږ ذکر او دعا وکړي. د یو سفر په ترځ کې یو اصحابي، چې لوړې ته به ورسېد، پر لوړ غږ یې تکبیر وایه. رسول الله وویل: رو وایه! هغه ته چې ته غږ کوې، نه کوڼ دی او نه کوم لرې ځای ته تللی؛ هغه په هر ځای کې تاسې ته نږدی او اورېدونکی دی.

رسول الله مبارک به ډېرې روژې نیوې. د رمضان او شعبان پر میاشتو سربېره، په ټول کال کې یو شواروز روسته یې روژه نیوه او د خپل مبارک ژوند په روستیو کلونو کې یې د هرې میا شت پر درېیو ړومبیو پنجشنبو،منځنۍ چهارشنبو او روستیو پنجشنبو روژه کېده.

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) یوه ورځ خپلو یارانو ته وویل: په تاسې کې څوک ټولې ورځې روژې نیسي؟ حضرت سلمان وویل: زه ! دا مهال په ډله کې یو وویل: سلمانه ! ډېری ورځې دې گورم، چې خواړه خورې. حضرت سلمان وویل: پر

کوم گومان، چې ته يې، داسې نه ده؛ بلکې د هرې مياشتې درې ورځې روژه يم. څښتن تعالی ويلي دي: چاچې يو ښه کار وکړ؛ لس ثوابه به ورکړل شي او بلخوا تر رمضان مخکې په شعبان کې هم روژه نيسم او که څوک داسې وکړي؛ نو داسې به وي؛ لکه ټولې ورځې يې چې روژه وي.

د روژې مياشت روستۍ لس شپې، چې شوې، د الله تعالی رسول به خپله بستره ټوله کړه او ډېری به پر عبادت بوخت و او، چې د روژې **۲۳**مه شپه به شوه؛ نو خپل اهل بيت يې هم ويخول او د هغوی پر مخونو يې اوبه پخنکولې، چې خوب يې يو نه سي. د خپل پلار د سنت د پلي کولو په موخه زهرا بي بي هم دا کار، د خپل کور له غړيو سره کاوه ، ويل يې: (( بې برخې دی هغه چې ددې شپې له برخې، بې برخې شي.))

## په عبادت کې منځلاري

لکه څنگه چې رسول الله په حيواني شهوتونو کې له ډوبېده سره مبارزه کوله، دغسې يې په رهبانيت پسې هم راخستې وه او د هغوی مخه يې نيوه، چې نړۍ ته يې شا کړې وه او خپل ټول وخت يې پر عبادت تېراوه ، ويل يې: (( ستاسې بدن، کورنۍ،

اولاد، مېرمن او ملګري درباندې يو لړ حقونه لري، چې بايد رعايت يې کړئ ))

حضرت عثمان بن مظعون (رض) د الله تعالی د استازي له سرښنده يارانو څخه و. يوه ورځ يې مېرمنه رسول الله مبارک ته راغله، و يې ويل: څه موده ده، چې مېړه مې له کار و ژونده لاس اخستی، ټول پر عبادت بوخت وي، ټوله ورځ روژه وي او د شپې لمونځونه کوي.

د الله تعالی استازی، چې تل د اعتدال او منځلاری پلوی او ښووند و او له هر ډول افراط (زياتی) او تفريط (کمی) سره يې مبارزه کوله، دا خبره يې چې واورېده، له خپل ياره خورا خواشينی، ورته غوسه شو، بې ځنډه هغه ځای ته ولاړ، چې حضرت عثمان پکې عبادت کاوه. رسول الله، چې ور و رسېد، حضرت عثمان پر لمانځه و. عثمان پوه شو، چې رسول الله مبارک راغلی، ژر يې لمونځ پای ته ورساوه، رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) ته يې ښه راغلاست ووايه.

رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) وويل: عثمانه! زما په دين کې رهبانيت او نړی ته شا کول نشته؛ بلکې الله تعالی زه له ساده، پاک او اسان دين سره مبعوث کړی يم، زه چې د الله

تعالی استازی یم؛ هم روژه نیسم، هم لمونځ کوم، هم مې کورني کار او ژوند ته پام کوم. د چاچې زما دین خوښ وي؛ نو هغه دې وکړي، چې زه یې کوم او زما یوه کړنلار هم واده، کور جوړول او ژوند،کورنۍ او مېرمنې ته وخت ورکول او پام دی[1].

نبوي حدیث دی: اسلام متین او محکم دی؛ نو د احکامو په پلي کولو کې یې کلم پر متانت ګام واخلئ او د الله تعالی له عبادته (په ډېر عبادت) د خلکو زړه مه توروئ او که داسې مو وکړل؛ نو د هغه پر اوښ سور په څېر به یاست، چې منزل ته تر رسېدو مخکې خپل اوښ له ستړیا له پښو وغورځوي.[2]

حضرت علي (کرم الله وجهه) خپل مشر زوی ته د وصیت په ترڅ کې وویل: په ژوند او د الله تعالی په عبادت کې منځلاري او اعتدال جامه کړه، چې تل ورته لېوال او دوام ورکړای شې.

د یو سفر په ترڅ کې، د الله تعالی د استازي ځینو یارانو روژه نیولې وه او د ګرمۍ له لامله، په یو ګوټ کې بې حاله پراته ول؛ خو ځینې نور روژه نه وو او پر کېږدۍ وهلو، څارویانو ته پر اوبو ورکولو او یو د بل پر چوپړ بوخت وو. دا مهال رسول الله

---

[1] الترغیب

[2] جامع السادات، مولی مهدي نراقي

مبارک دې ډلې ته اشاره وکړه ، و يې ويل: ټول ثواب به ددې ډلې کيږي.[1]

## دعا

رسول الله به د دعا په هکله ډېره سپارښتنه کوله، د عبادت ماغزه يې ګڼله او د دعا د ارزښت په هکله يې ويل: (( دعا د مؤمن وسله، د دين ستن او د اسمانونو او ځمکې رڼا ده. پوه شئ! قضا بې له دعا بل هېڅ څه هم نشي بدلولای. ))

او ويلي يې دي: ((الله تعالی ته دعا وکړئ او د خپلې دعا پر قبلېدو ډاډ ولرئ او پوه شئ، الله تعالی د غافل او بې خبره زړه دعا نه مني )).

بيا يې وويل: ((د اړتيا پرمهال يې له الله تعالی وغواړئ او په سختيو کې پناه ورووړئ، زارۍ او دعا وکړئ؛ ځکه دعا د عبادت ماغزه دي او داسې مؤمن به نه وي، چې دعا وکړي او الله تعالی يې دعا و نه مني؛ خو دومره خبره ده، چې ځينې د خپلې دعا

[1] حيوة الحيوان، دميري

پایله په همدې نړۍ کې او ځینې یې په هغه نړۍ کې وینـي او دا ټول هغه مهال کېدای شي، چې د چا غوښتنه گناه نه وي. ))
رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: الله تعالی خپل یـو استازي ته داسې وحې و کـړه: ((پـر خپـل عـزت او جـلال مـې قسم، چې که څوک بې له ما بل ته هیلمن شي، نهیلی به یې کړم او په خلکو کې به یې خوار او ذلیل کړم او هغه به له خپل فضل او پراختیا لرې او بې برخې کړم. زما بنده په سختیو کې نـورو تـه سترگې اړوي، حال دا، سختۍ زما په لاس کې دي؛ خو نورو تـه هیلمنیږي، زه مړه خوا ښونکی یم، د بندو شویو ورونو کـونجي له ماسره ده او هغوی ته مې د دعا د قبلېدو ور پرانستی دی، چې ما ته دعا وکړي )).
د الله تعالی د استازي او د دیني مشرانو سپارښتنه ده، چې د دعا په پیل او پای کې پر "محمد" او " آل" یې درود ووایئ.
یوه ورځ د امام جعفر صادق یو یار وویل: په قرآن شریف کـې آیت دی: (( ادعونی استجب لکم )) حـال دا، مـوږ دعـا کـوو؛ خو نه قبلیږي. امام وویل: گومان کوې، چې الله تعالی پـر خپلـه ژمنه ولاړ نه دی؟ و یې ویل: نه! امام وپوښـتل: سـتا پـه گومـان، چې لامل یې څه دی؟ یار یـې وویـل: نـه پـوهیږم! امـام وویـل:

څوک چې د الله تعالی احکام پلي کړي او له خپلې لارې دعا وکړي؛ نو الله تعالی به یې دعا قبوله کړي. و یې پوښتل: د دعا خپله لار څه ده؟ امام وویل: دا چې ړومبی د الله تعالی ستاینه وکړې، نعمتونه یې رایاد او شکر یې وباسې او بیا پر محمد او آل یې درود ووایې، بیا خپلې ګناهګانې ووایې، منښته پرې وکړې او بیا له خدایه بښنه وغواړې، دا دعا لار ده.

## د رسول الله د دعاوو بېلګه

حضرت ام سلمه بي بي وايي: یوه شپه له خو به پاڅېدم، و مې لیدل، چې رسول الله په بستره کې نشته، له ځان سره مې وویل: د الله تعالی استازی به چېرې تللی وي؟ ناڅاپه مې پام شو، و مې لیدل، چې د کوټې په ګوټ کې پر عبادت بوخت دی. ورته غوږ شوم، چې په ژړغوني غږ یې ویل: ((خدایه ! کوم صالح څیزونه، چې دې راکړي، له ما یې مه اخله. خدایه ! کینه کښ او حسود دښمن راباندې لاسبری مه کړې. خدایه! هغه بدیو او ناوړه پېښو ته مې ورستون نه کړې، چې تا ترې راایستی یم. خدایه! د سترګو د رپ هومره مې هم پر خپل حال پرې نه ږدې.))

ام سلمه بي بي وايي: دلته چې راورسېد؛ نو په چغو چغو مې وژړل. د رسول الله مبارک لمونځ او دعا چې پای ته ورسېده؛ نو و يې پوښتلم: ام سلمې! ولې ژاړې؟ و مې ويل: رسول الله! سره له دې چې د الله تعالی استازی يې، داسې وياست؛ نو موږ ته خو پر خپل حال ژړا په کار ده. رسول الله مبارک وويل: هو همداسې ده! رور مې حضرت يونس (عليه السلام)، الله تعالی د يوې شېبې لپاره پر خپل حال پرېښود؛ نو څه پرې راغلل.

امام جواد وايي: رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) به داسې دعا کوله: خدايه ! هغه څه مې وبښې، چې کړي مې دي، ځنډولي مې دي، پټ مې کړي، ښکاره مې کړي. پر خپل ځان مې اسراف وبښه او له ټولو هغو څيزونو، چې ته ترې خبر يې. خدايه ! بې له تا بل معبود نشته. خدايه ! قسم دې پر خپله پوهه او واک! تر هغه مې چې ژوند په گټه او ستا په خوښه وي، ژوند راکړه او هغه مهال مې مړ کړې، چې ته راته مړينه غوره وگڼې. خدايه! په پټه او ښکاره کې مې په زړه کې له تا وېره واچوې. خدايه! په خپگان او خوشحالۍ کې له تا د حق خبره غواړم او په بېوزلۍ او شتمنۍ کې در څخه منځلاري غواړم. خدايه ! له تا پايند نعمت، د سترگو نه تياره کېدونې رڼا، پر قضا خوښي، تر

ژوند روسته ښه ژوند او له تاسره د ملاقات مینه غواړم، بې له دې، چې ستر تاوان او بې لارې کوونکې فتنه راورسي. خدایه ! پر ایمان مې سینګار او د ښیون شویو لارښود مې کړې. خدایه ! موږ له هغوی کړې، چې تا ورته لار ښوولې وي. خدایه ! په چارو کې پایداري او په سید لار کېدو کې مې مرسته وکړې. خدایه ! له تا د نعمت د شکر توفیق، ښه اخره خاتمه او ستا د حق د ادا کولو وس غواړم. خدایه ! روغ زړه او رښتینه ژبه راکړې. خدایه !د ټولو هغو چارو ښېګڼه درڅخه غواړم، چې تا ته يې خبر يې. خدایه ! هغه راکړې، چې ترې خبر يې، چې پر ګټه مې دی. خدایه ! پناه غواړم له هغه بدیو، چې ترې خبر یې او موږ ترې خبر نه یو او ته یې علام العیوب یې.[1]

خدایه ! ته مې شاکر او صابر، په خپلو سترګو کې خوار او د خلکو په سترګو کې ستر کړې. خدایه ! د ټول چارو اخره خاتمه مې په خیر کړې او د نړۍ له خوارۍ او د آخرت له عذاب مې وساتې. خدایه ! په پوهه مې ځواکمن، په حلم مې سینګار، په تقوا مې عزیز او اخره خاتمه مې ښایسته کړې. خدایه ! له تا ښیون، تقوا او عفت غواړم او چا ته مې اړین نه کړې. خدایه ! د

[1] حقایق، مولی محسن فیض کاشاني

نعمتونو له ورکېدو، د عافیت له بدلون، ناڅاپه غضب او لـه هـر هغه څه پناه غواړم، چې خوښي دې پکې نه وي.

خدایه ! له تا له بدو اخلاقو، بدو کړنـو، بدو ځـاني غوښـتنو او بدو رنځوریو پناه غواړم. خدایه ! د امت په سهار وختي پاڅېدنه کې مې برکت واچوې. خدایه ! پر خپله پوهـه دې قسـم او واک وي، تر هغه مې، چې په گټه او ستا خوښه وي؛ نو ژوند راکړه او هغه مهال مې مړ کړې، چې ته راته مړینه غوره وگڼې. خدایه ! د خلقت په څېر مې سیرت هم نېک کـړه. خدایـه ! چـاچې زمـا د امت چارې په لاس کې واخستې او زما په امت یې سخته راوړه؛ نو خدایه ! ته هم پر هغه سخته راوړې او که چا زما له امـت سره گوزاره وکړه؛ نو خدایه ! ته هـم گـوزاره ورسره وکـړه. خدایـه ! د یوې شېبې لپـاره مـې هـم پـر خپـل حـال پرېنـږدې او هغـه ښـه څیزونه، چې دې راکړي، راځخه یې وانخلې.[1]

[1] حقوق حیوانات در اسلام،محمد تقي جعفري.

# د خوړو آداب

د الله تعالی نبي له وږوکتوبه ګېډور نه و او د نورو ما شومانو پـه څېر نه و؛ بلکې په خورا لږو خوړو يې ګوزاره کوله؛ لکـه څنګـه چې په سيرتونو کې راغلي، همداچې له خوبه راپاڅېده، د زمـزم له چينې يې يو ګوټ اوبه څښلې او چې د غرمـې خـوړو تـه به راوبلل شو، ويل يې: وږی نه يم! که په وړوکتوب کې وو او کـه په ځوانی کې، هېڅکله يې د لوږې او تندې خبره و نه کړه.[1]

امام صادق وايي: (( پر پيغمبر (صلی اللـه عليـه وآلـه وسـلم) لـه لوږې او له خدايه د ويرې هومره هېڅ هم نه وو ګران. ))

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: ((رسـول اللـه تـه وګـورئ، چې په نړۍ کې تر ټولو ډنګر او په نس تر ټولو وږی و؛ هغه پـه وږې ګېډه، روغ له دې نړۍ اخرت ته ولاړ، هېڅکله يې د مـړې ګېډې ارګی و نه کړ، چا ته يې تمه نـه درلـوده او کلـه به يـې د لوږې د ډېروالي له لامله تيږه پر نس تړله. هر خواړه چې به ورته کېښوول شو، نه يې پکې نه کوله. ))

---

[1] خلاصه تعاليم اسلام، علامه طباطبايي.

يوه ورځ عايشې بي بي وپوښت: ولې کله هم داسې خوراک نه کوئ؛ لکه چې ورېي ياست؟ و يې ويل: (( عايشې! اولوالعزم رونړه مې تر ما مخکې تللي او له لوی څښتنه يې کرامتونه لاس ته راوړي، وېره مې ده، که تنعم وکړم، له هغوی مې درجه ټيټه شي. ټوله خوښي مې داده، چې له اولوالعزمه رونړو سره مې يو ځای شم. ))

حضرت ابن جحيفه وايي: يوه ورځ مې رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) په مخ کې د مړې ګېډې ارګي واچول. رسول الله را ته وويل: کم ارګي (لږه خوره) اچوه او څوک چې په نړۍ کې له بريد اوختی موړ ويده شي، په آخرت کې به وږی وي. لږ خواړه، روغتيا راوړي او ډېر خواړه، د بدن او زړه رنځوری.[1]

---

[1] ژباړن: (( پښتانه وايي: "لږ خوره، تل خوره. ډېر خوره، زهر او ګنډېر خوره" او بلخوا: زه خو حيران دې ته يم، چې د رسول الله مبارک په کومې خبرې پسې په طب کې وګرځم؛ ځکه هغه خو د زړونو طبيب و او د انسانانو لپاره يې ټولې وقايوي او طبي خبرې، د حقيقي طبيب له اړخه راوړې وې. نن که چېرې هم ولاړ شئ؛ نو لږ تر لږه يو داسې کس به پيدا نه کړئ، چې يا په خپله د شکرې، لوړ فشار او يا زړه په رنځوری نه وي اخته او يا يې په کورنۍ کې څوک نه وي اخته، چې ددې درېيو واړو رنځوريو يو لامل هم هماغه دی، چې ګران نبي ورته هغه

وخت اشاره کړې وه؛ چې ددې ټولو رنځوريو رابرسېرووونکې او لمبه ورکوونکې؛ (risk factors & predisposing factors) لامل چاقي ده، چې چاقي په خپله د وينې د غوړيو د زياتېدو لامل ګرځي، چې په خپله د مغزو (CVA) او زړه د سکتې ( MI) لامل ګرځي. رګونه تنګوي، چې تصلب شرايين ورکوي او په طب کې چاقۍ ته د مرضونو مور ويل کېږي، چې يو لامل يې ډېر خوراک او لټي ده. څه چې، هم اسلام او هم د الله تعالی استازی ترې په کلکه کرکجن و؛ لټي وه، چې په خپله همدا هم تر ليلا او مجنونه اوږده کيسه لري، چې ددې کتاب د ژباړې له حوصلې بهر ده او بيا همدا اسلام دی، چې وايي: خېرالامور اوسطها؛ يعنې غوره لار منځ لاري ده او په طب کې هم د پورتينو رنځوريو د وقايې او درمل لپاره، پوه ډاکټران، د رنځورانو ژوند، منځ لارۍ ته اړباسي؛ يعنې خوره؛ خو ځان مه پړسوه؛ مالګه خوره؛ خو مناسبه، غوړ خوره؛ خو مناسب، کار کوه؛ خو حرص مه خوره او... سپينه خو داده، چې د اسلام ټول احکام، د انسان د بدن د فيزيولوژۍ له مخې ټاکل شوي او لنډه بېلګه يې همدا د شکرې، د زړه او د ماغزو د سکتو رنځوران دي، چې چاقۍ، لټۍ، حرص، په زړه کې کينې او حسادت دې ځای ته رارسولي دي. هغه وايي: از ګپ ګپ مې برايد. د حسادت خبره شوه. د الله تعالی استازی وايي: حسادت انسان له دننه داسې سوځوي؛ لکه اور چې وچه پاڼه سوځوي. د "اروا پوهنې" په علمي کتابونو کې راغلي: حسادت، کينه او هر هغه څه چې په تاسې کې د نورو پرخلاف منفي انرژي جوړوي، په بدن کې د ازادو راډيکالونو د ازادېدو او ډېرېدو لامل ګرځي او ازاد راډيکالونه د بدن لپاره تر زهرو هم بدتر دي؛ نو په پايله کې، ددې ازادو راډيکالونو يوه منفي پايله، د عمر کمېدل دي (هماغه د رسول الله خبره: انسان له دننه سوځوي ) دې وينې ته به همدلته د پای ټکې کېږدو چې له اصلي موضوع لرې ولاړ نه شو)

د الله تعالی د استازي وینا ده: (( خپل زړونه په ډېر خوراک او څښاک مه مړه کوئ، چې زړه د یوې بېړۍ په څېر دی، چې کـه اوبه پکې ډېرې شوې؛ نو مړاوی به شي[1] )).
نبوي حدیث دی: په تاسې کې تر ټولو فاضل او الله تعالی تـه نږدې هغه دی، چې اندنه او لوږه یې اوږده وي او هغه د الله تعالی دښمن دی، چې خوب او خواړه یې ډېر وي )).[2]

---

[1] (ژباړن: د زړه په رنځوریو کې د CHF او د ششونو په رنځوریو کې د PULMUNARY EDEMA او د وینې د فشار رنځوري په همدې مېکانزم رامنځ ته کېږي، چې د رسول الله مبارک په ویناو کې اشاره ورته وشوه؛ خو هغه مبارک په هغه وخت کې په داسې کلمو دا خبره خلکو ته کړې وه، چې د هغه وخت د خلکو سر پرې خلاص او بیا همدا خبره د داخلي او د زړه د رنځوریو کتابونو په نورو کلمو کوي، چې د((دو پانزده یک سي میشود)) خبره ده؛ یعنې په بدن کې، هر ډول مایعات د ډېروالي له لامله جمع کېږي، چې زړه یې د پمپ کولو وس نه لري او په پایله کې د بدن مایعات، نورو ځایونو ته ځي، چې یو یې هم سږي دي، چې په پایله کې انسان له ساه اخستو غورځوي، چې دا دواړه رنځورۍ، انسان له پښو غورځوي او که رنځور په بېړنۍ توګه له دې حالته را و نه ایستل شي؛ نو مړ به شي )).

[2] ( ژباړن: ګرانو لوستونکیو ! هغه وایي: چې ځې ځې ځې، ابازو ته به راځې. علم او نوې پوهه که څومره خواري هم وکړي، پایله یې په تجربې، هغه څه جوتول دي، چې اسلام ویلي دي. د رسول الله په پورتني حدیث کې، د اندېوکراین

فیزیولوژۍ له مخې، د انسولین او د انسولین هورمون د مخالفو هورمونونو مکانزم او کار ته اشاره شوې، چې په طب کې ورته contra regulatory hormons of insuline ویل کېږي. چې دا هورمونونه د شکرې د رنځورۍ په منځ ته راتګ کې ونډه لري. پاک نبي په خپله وینا کې د تفکر خبره رامنځ ته کړه، چې تفکر په ماغزو کېږي او د ماغزو یوازېني خواړه ګلوکوز دي، چې د انسولین اصلي دنده دا ده چې ګلوکوز حجرو ته د سوځېدو لپاره ور دننه کړي او چې کله د انسولین د کمبود له لامله او یا داچې د انسولین پر وړاندې په حجرو کې د رسپټورونو مقاومت پورته شو؛ نو ګلوکوز په وینه کې ډېرېږي، چې د شکرې رنځوري ورته وایي؛ نو تفکر دی، چې ماغزه فعالوي او کارنده-فعال ماغزه ګلوکوز غواړي، چې په دې مکانزم، له یوه اړخه د شکرې له ناورغې مخه نیسي، چې په خپله نن یې د بشریت د روغتیا ګرېوان ته لاس وراچولی او بلخوا نویو څېړنو ښوولې، هغوی چې په ځوانۍ کې له خپلو ماغزو په سمه او فعاله توګه کار اخلي، د هغوی په پر تله، چې له ماغزو لږ کار اخلی، د "آلزایمر" په نامه پر رنځورۍ په لږه کچه اخته کېږي؛ نو له همدې لامله دي، چې قرآن وایي: "فاذا فرغت فانصب"؛ یعنې بېکاره مه کېنئ او تل مو د ماغزو او بدن د کارولو لپاره یو څه ور اچوئ.

په پورتني حدیث کې لوړې، ډېرو خوړو او لږو خوړو ته اشاره شوې، چې لوږه په وینه کې د ګلوکوز کچه راټیټوي او دا لامل ګرځي، چې زېرمه شوې ګلوکوز (ګلایکوجن)، له زېرمو راوویستل راباسي او حجرو ته یې ته ورسپاري، چې که په بدن کې همدا ذخیره ګلوکوز و نه سوځي؛ نو پر غوړو بدلېږي، او پورته مو اشاره ورته وکړه، چې د وینې او د بدن د غوړو ډېروالی، پر انسان څه بلاګانې راوړي. بلخوا که د انسان خوب هم ډېر شي او یا دا چې انسان فعالیت و نه کړي؛ نو په بدن کې یې ګلوکوز ډېرېږي؛ نو هم ډېر خواړه او هم ډېر خوب دواړه د د وینې د ګلوکوز د ډېرېدو لامل ګرځي، چې په خپله د بدن د ګلوکوز ډېروالی، لږ تر لږه پر

نبوي حديث: اندنه-تفکر که نیم عبادت وي؛ نو لږ خوړل ټول بشپړ عبادت دی.[1]

نبوي حديثونه دي: ((نس ډېر مه ډکوه، چې په زړه کې دې د معرفت رڼا له منځه وړي)).

---

لاندې غړیو ناوړه اغېز او کله خو یې له کاره هم غورځوي: سترګې، زړه، پښتورګي،د انسان محيطي اعصاب، چې پکې د سړي جنسي ځواک ته هم ګواښ را منځ ته کېږي او د پښو ښپلابېل زخمونه، چې پایله کې یې د پښې په بېخ کې غوڅېدل دي؛ نو که څوک د رسول الله مبارک پر دې حدیث عمل وکړي؛ نو ګورئ، چې خپل څومره غړي یې له کاره غورځېدو ژغورلي دي؛ نو ګرانو باور وکړئ، چې د شکرې رنځوري بده رنځوري ده او کړای شو په اسلامي کړن لاره ترې مخنیوی او درملنه یې وکړو. ))

[1] ( ژباړن: لږ تر لږه په پورتنۍ شرحه کې مو د فیزیولوژۍ د علم په رڼا کې جوته کړه، چې دین له علم سره په ټکر کې نه دی،ګورو چې ډېر خواړه پر انسان څومره بلاوې راوړي؛ نو همدا دین دی، چې وایي، تاسې لږ وخورئ؛ یعنې د خپلې روغتیا پام مو وساتئ؛ نو موږ به مو دا کار په عبادت کې وشمېرو؛ خو سره له دې ټولو خبرو، دا سمه نه ده، هر څه چې ساینس جوت کړل، یوازې هماغه به سم او پر ځای وي؛ بلکې علم لا تر اوسه دومره وزلې او ځواک نه لري، چې هر څه او په تېره ، دیني او الهي احکام جوت کړي؛ نو د هغې ورځ په هیله، چې علم دومره پر مختګ او اوازار لاس ته راوړي، چې د حقیقي طبیب ټولې خبرې پرې جوتې کړای شي او هغه ورځ لرې نه ده، چې بشر به دې پایلې ته ورسي. انشاء الله )

(( چاچې نس ډېر ډک کړ؛ نو داسمانونو ملکوتونو ته به پرې نه ښوول شي )).
په اسلامي زده کړو کې، د خوړو لپاره ۳۰ حکمونه دي، چې تر ټولو ړومبی یې د هر څه حلالوالی دی، چې په دې هکله د الله تعالی استازی وایي: ((چې حرام خواړه، د انسان نس ته ورننوځي، تر هغه چې دا خواړه یې په نس کې وي، پرښتې به پرې په ځمکه او اسمانونو کې لعنت وایي، دا بنده به د الله تعالی له نظره وغورځېږي او الله تعالی به ځان ته پر قهر کړي.))
بله پاموړ خبره خو داده، مسلمان نه یوازې حق نه لري، چې حرام وخوري؛ بلکې حق نه لري، هغه خوړو ته کېني، چې بلنه یې نه وي ورکړه شوې.
په مدینه کې یو ټبر د الله تعالی استازی، له پینځه یارانو سره مېلمه کړ. رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) یې هم بلنه ومنله. دې مېلمستیا ته د تګ پرمهال، یو بل یار هم ورسره شو او مېلمستیا ته ولاړ؛ نو چې د کوربه کور ته ورسېدل، رسول الله وویل: دې خلکو ته نه یې رابللی! دلته کېنه، چې له هغوی دې د ننووتو اجازه وغواړم.

امام صادق وايي: ((څوک چې هغه خواړه وخوري، چې وربلل شوی نه وي؛ نو د دوزخ د اور ټوټه به يې خوړلې وي. ))
الله تعالی په قرآن پاک کې، هغوی سخت رټلي، چې بې له اجازې به د الله تعالی د استازي کور ته ورننووتل، خوړو ته به کېناستل او د خپل استازي لويه سينه يې ستايلې، وايي:
**((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلاَ مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِ مِنكُمْ وَاللَّهُ لاَ يَسْتَحْيِ مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهنَّ مَتَاعاً فَسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذلِكُمْ أَطْهَر لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلاَ أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَداً إِنَّ ذلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيماً=**
مؤمنانو! د پېغمبر کورونو ته مه ننوځئ؛ خو دا چې خوراك ته وبلل شئ؛ خو (تر ژمنې مخکې مه ځئ، چې) د خوړو په تمه کېنئ؛ خو چې کله وبلل شوئ، ننوځئ او چې خواړه مو وخوړل؛ نو خواره شئ او (تر خوړو روسته) پر خبرو مه بوختېږئ، په واقع کې ستاسې دا کار پېغمبر ربړوي؛ خو له تاسې شرمېږي (او څه نه وايي)؛ خو الله تعالی د حق (له ويلو) نه

شرمېږي او چې کله له هغوی (= د پېغمبر له ښځو) کوم څیز غواړئ؛ نو د پردې تر شا یې وغواړئ، چې دا کار ستاسې او د هغوی د زړونو د سپېڅلتیا او پاکۍ لپاره غوره دی او تاسې حق نه لرئ، "رسول الله" وځوروئ او په مطلق ډول او د تل لپاره (نه ښایي) چې (تر مړینې) روسته یې له مېرمنو سره نکاح وکړئ؛ ځکه دا کار د الله تعالی په نزد ستره (گناه) ده.[1]

په دې آیت کې له "حق" څخه مراد همدا دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ستاسې پردې کار خپه کېږي او همداسې له حق څخه مراد هماغه دی، چې خلکو ته یې یادونه وشوه.[2]

تر خوړو مخکې د اسلام ړومبی حکم د لاسونو وینځل دي او سپارښتنه شوې، چې د خوړو لپاره مو لاسونه ووینځل، بیا یې پر لاسپاک مه وچوئ.

صفوان جمال وایي: یوه ورځ، له امام صادق سره وو، چې چوپړیال یې د لاسونو وینځلو او به او لاسپاک راوړ؛ خو امام صادق لاسپاک و نه منه ، و یې ویل: ((لاس مو له لاسپاکه

[1] (احزاب/۵۳) داستان راستان،استاد شهید مطهري

[2] دلایل النبوة،ابوبکر احمد بن حسین بیهقي

وينځلی دی[1])) ؛ يعنې لاس مې له هغه چټليو ووينځه، چې په لاسپاک کې دي.
نبوي حديث دی: ((چې د خوړو لپاره مو لاسونه ووينځل؛ نو لامده لاسونه مو پر سترګو راکاږئ، چې دا کار به مو سترګې له خوږه وساتي)).
رسول الله، حضرت علي ته وويل: علي ! تر خوړو مخکې "بسم الله" او تر خوړو روسته "الحمدالله" وايه، چې پر اوږو ناستې پرښتې دې د خوړو پرمهال له ثواب ليکلو بېکاره پاتې نشي.
خواړه د مالګې په خوړو پيل او د مالګې په خوړو پای ته ورسوه، چې مالګه د اويا رنځوريو درمل ده، چې ځينې يې لېونتوب، خوره، پيس، د ګېډې او غاښ خوږ دي.
رسول الله مبارک پر کيڼ لاس خوراک څښاک مکروه کړی او د تګ پرمهال يې خوړل منع کړي دي.
امام صادق وايي: د تګ پرمهال څه مه خورئ؛ مګر داچې مضطر ياست.

[1] روش دعوت محمد (صلی الله عليه وآله وسلم)

حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: هـر مهـال يـې، چـې درتـه تاوده خواړه راوړل؛ نو صبر وکړئ، چې ساړه شي؛ ځکـه د اللـه تعالی رسول ته چې يې تاوده خواړه راوړل، ويـل يـې: پرېـږدئ، چې ساړه شي، الله تعالی خو څه اور موږ ته نه دی روزي کـړی او برکت په سړو خوړو کې وي او تاوده خواړه برکت نه لري.

د الله تعالی رسول وويل: ((خوړو تـه پـوکی ورکـول، د خـوړو برکت له منځه وړي.))

حضرت علي (کـرم اللـه وجهـه) وايـي: يـوازې د لـوږې پرمهـال خواړه وخورئ او خواړه ښه وجوئ او مخکې تـردې چـې مـاړه شئ، له خوړو لاس واخلي.

يو سړي رسول الله وپوښت: موږ خواړه خـورو؛ خـو نـه مړېـږو. رسول الله وويل: کېدای شي يو ځای سره خواړه نه خورئ، ټول يو ځای خوړو ته کېنئ او د اللـه تعـالی پـه نـوم مـو خـواړه پيـل کړئ، په خوړو کې به مو برکت راشي.

د دسترخوان شاوخوا ته ډېر کېناسـتل، رو رو خـوړل، تـر خـوړو مخکـې پـه او بو د مېـوې وينځـل مسـتحب دي؛ خـو د خـوړو پرمهال يو بل ته کتل، پر هغه هـڅوکي خولـه وهـل، چـې غوښـه پرې نه وي پاتې، د مېوې پوټکی سپينول (مګر د اړتيـا پرمهـال)

او په بشپړه توګه د مېوې تر خوړو مخکې، د مېوې ګوزارول مکروه دي.

## د مسافرت آداب

رسول الله د پنجشنبې پر ورځ سفر کاوه او خوښ نه و، څوک بې ملګري پر سفر ووځي. په سفر کې يې هنداره، د رنجو کڅوړه، ږومنځه، مسواک، بېتي، تار، ستنه او د پڼو ګنډولو ستنه له ځان سره وړه. د اوبو څښلو لوښی يې هم له ځان سره وړه، ويل يې: په سفر کې خپله نفقه او خواړه له ځان سره يوسئ؛ ځکه دا کار ستاسې د نفس د پاکۍ او د اخلاقو د نېکۍ لامل ګرځي.[1]

[1] ( ژباړن: د سفر پرمهال، له ځانه سره، خپلې وګړيزې وزلې وړل، نبوي سيرت دی، چې نن د انتاني رنځوريو متخصصين هم پر دې خبره ټينګار کوي؛ ځکه دا کار د ډېرو رنځوريو د مخنيوي لامل ګرځي او ډېرې داسې رنځورۍ دي، چې د خوراک، څښاک او سينګار توکيو او له نورو سره په ګډه له ځينو څيزونو؛ لکه د ږيرې او د وېښتانو د خرېلو وزلو له لارې خپرېږي، چې يوه يې هم د هپاتايتس او يا د زېړي رنځ دی او په دې روستيو کې د رسول الله مبارک ددې حديث، له کرونا څخه په مخنيوي کې هم ګټور جوت شو )

پر سفر د وتو پرمهال يې داسې دعا کوله: ((خدايه ستا په عنايت مې سفر پيل کړ او تا ته مې پام دی،ستا پر رحمت مې منګولې لګولې، ډاډ او هيله مې ته يې. خدايه ! مهمات مې کافي او پر هغه مې ملاتړ شې، چې زما په نظر کې ارزښت نه لري؛ خو ستا په نظر کې ارزښت لري. خدايه ! تقوا مې توښه او جامه کړې،ګناهونه مې وبښې او هر خوا ته مې، چې مخه شي،ته مې خېر ته مخه کړې. ))

ويل يې: له کوره سهار کډه‌ن کېږئ او رسول الله، چې له يوه کوره بل ته کډه وړه، ړومبی يې دوه رکعته لمونځ کاوه، ويل يې، چې دا ځای مې پر لمانځه ګواهي ورکړي.

په ډلييزو سفرونو کې يې خپل کار په خپله کاوه او خپل کار يې نورو ته نه سپاره. په يو سفر کې ورته يو اصحابي وويل: موږ ټول کارونه په خپله کوو؛ نو رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) وويل: نه غواړم زما او ستاسې په منځ کې امتيازات وي؛ ځکه د الله تعالی خوښ نه دي، خپل بندګان بېل او د نورو په پرتله ممتاز ووينې، پاځېد او خس يې راټول کړل.

په رڼا ورځ او غرمه کې له سفر راستنېده، ړومبی جومات ته تله، هلته يې دوه رکعته لمونځ کول، ورپسې کور ته تله.

رسول الله له هغه مسلمانانو سره مخه ښه کوله، چې پر سفر به وتل، ویل یې: ((الله تعالی مو تقوا توښه او جامه کړه، مخې ته مو خیر، اړتیاوې مو روا، دین او نړۍ مو په امان او په خیر مو الله تعالی بېرته راوله)).
او هغوی چې له مکې راستنېدل، ورته یې ویل: ((الله تعالی مو حج قبول، گناهونه مو وبښل شه او هغه دې بېرته درکړي، چې لگولي مو دي )).

## د ځناورو او څارویو حقوق

د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د رحمت تر سیورې لاندې، څاروي هم وو او پر څارویو هم مهربانه و. پیشو ته یې د اوبه لوښی داسې نیوه، چې په بشپړه توگه مړه شي. یوه ورځ یې په خپله، هغه رنځور شوی چرگ درمل کړ، چې په کور کې یې درلود. یوه ورځ یې یو څاروی ولید، چې داغ یې پرې ایښی و او له پوزو یې لوږی راوته. دا مهال رسول الله وویل: د الله تعالی

لعنت دې پر هغه وي، چې دا کـار يـې کـړی دی. هېڅکلـه دې څوک څاروي نه داغوي او نه دې يې وهي.

نبوي حديث دی: ((الله تعالی يوه ښځه په دوزخ کې کړه؛ ځکه په کور کې يې يوه پيشو بنده کړې وه او اوبه او خواړه يې نـه وو ورکړي او دومره يې وهلې وه، چې مړه شوه.))

يوه ورځ رسول الله خپلو اصحابو ته دا کيسه وکړه: يوه ورځ يـو سړی په سوځونکې بېديا کې تږی شو او د تندی مـاتولو تـه يـو څاه ته ورکوز شو، چې راووت؛ و يـې ليـدل، چـې يـو سـپی لـه تندې رېږي او پوزه او ژبه پر ځمکه راکاږي. هغه سړي له ځان سره وويل: دا سپی هم تندې راخستی، څاه ته ورکوز شو، خپـل بوټان يې له اوبو راډک او سپي يې پرې خـړوب کـړ، چـې اللـه تعالی هم دا سړی د دې نېـک عمـل لـه لامله وباښـه. اصـحابو وويل: ايا موږ هم له څـارويو سره پـه احسـان کولـو، لـه خدايـه ثواب گټو؟ رسول الله وويل: هو ! له الله تعـالی سره هـره نېکـي ثواب لري.

د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) به د څارويو د ژوند هـر اړخ ته پام و، ويل يې: پام چې کله درې کسان يو ځای پر کـوم څاروي سواره نشئ؛ ځکه يو يې ملعون دی.

ویل یې: ((پر اوښ پر روستی برخه بار بږدئ، چې پر اوښ د بار سختي نه وي.)) یوه ورځ یې ولیدل، چې اوښ یې له زنګونونو تړلی او بار یې ترې نه دی کوز کړی، و یې ویل: ددې اوښ خاوند چېرې دی؟ ورته ووایئ د قیامت پر ورځ دې ځان پوښتنې ته چمتو کړي.

حضرت ابوذر یې په ربذه کې ولید، چې یو ښاروي ته او به ورکوي، یو وویل: ابوذره ! چوپړیال نه لرې، چې ددې کار له پېټې دې خلاص کړي. ورته یې وویل: د الله تعالی له استازي مې واورېدل، چې و یې ویل: داسې ښاروی به نه وي، چې هره ورځ له خدایه و نه غواړي، چې خدایه صالح خاوند راکړې، چې پر اوبو مې موړ او په زور ډېر بار راباندې کېنږدي؛ نوځکه خوښ یم، دې ښاروي ته په خپله اوبه ورکوم.

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) به د زهرجنو او خطرناکو ځناورو هم خیال ساته، ویل یې: که وژل یې پکار وي، په داسې بڼه یې ووژنئ، چې و نه کړېږي. د بېلګې په توګه د "وزغه" په هکله، چې په خپله یو ډول خطرناک ښامار دی وایي: که چا له "وزغه" د خلاصون لپاره، پر لومړي ګوزار وواژه، سل ثوابونه

ورته لیکل کېږي او که په دویم گوزار یې ووژني؛ نو ثواب یې لږ وي.

هو گرانو ! زموږ گران نبي په هغه وخت کې، مخکې له دې، چې د نړۍ خلک د ځناورو او څارویو له حقوقو د دفاع لپاره موسسې جوړې کړي، په خورا ښه ډول، د ځناورو او څارویو حقوق خلکو ته ورښوولي او سپارښتنه یې کړې وه، چې د ځناورو حقوق په پام کې ونیول شي او که چا له دې حقوقو سرغړونه وکړه، شرعي حاکم به یې په هکله اجرات کوي؛ نوځکه رسول الله وویل: څاروي پر خاوندانو یو لړ حقوق لري؛ لکه:

١_هر چېرې یې چې یووړل واښه ورکړي.

٢_که له اوبو تېرېږي، اوبه ورکړي.

٣_څاروي پر مخ و نه وهي.

٤_د اوږد وخت لپاره پرې سواره نشي.

٥_د څاروي تر وس ډېر بار پرې کېښږدي.

٦_پر هغه لار یې یو نه سي، چې څاروي پرې نشي تللای.

## دویم څپرکی

# د رسول الله کورني اخلاق

رسول الله د خپل کور له غړیو سره په ورین تندي چلن کاوه، تل یې له خپلې کورنۍ سره گوزاره کوله، د خپلو مېرمنو حقوقو ته یې بشپړه پاملرنه کوله؛ خو کومې تېروتنې یې چې له مېرمنو کېدې، نه یوازې له تېروتنو یې تېرېده؛ بلکې هېڅکله یې ژبه هم ترخه نه شوه.

له ټولو سره یې گوزاره کوله او په دې هکله یې وویل: ((ټول خلک هم ښې او هم بدې ځانگړنې لري او سړي ته پکار نه دي، یوازې د خپلې مېرمنې بدو ځانگړنو ته وگوري او هغه پرېږدي، که کله یې له یوې ځانگړنې خپه شي؛ نو بله ځانگړنه یې د خوښۍ لامل دی او انسان ته پکار دي، دواړو ته وگوري.[1]))

---

[1] زندگي فاطمه زهرا، دکتر شهیدي

## له خپلو مېرمنو سره ورین تندی

د الله تعالی د استازي په کورني ژوند کې ورین تندي خورا ارزښت درلود او تل یې پرې سپارښتنه کوله. د حضرت سعد بن معاذ (رض) د ښخولو پرمهال یوه پېښه راپېښه شوه، چې ټولو مؤمنانو ته عبرت شوه. د حضرت سعد بن معاذ مور، چې د خپل زوی په جنازه کې د الله تعالی د استازي خواري ولیده، رسول الله مبارک څو ځل، د حضرت سعد جنازه پر اوږو کړه، په خپله یې قبر ته ورکوز شو، د هغه مړی یې په قبر کې کېښود او خاورې یې پرې واچولې؛ نو د خپل زوی په هکله یې وویل: سعده ! جنت دې نوش جان شه.

رسول الله د سعد مور ته وویل: (( په کلاره شه او د الله تعالی په چارو کې لاس مه وهه، چې زوی دې همدا اوس تر ډېر دباو لاندې دی)). ټولو اصحابو په حیرانتیا د الله تعالی له استازي، لامل وپوښت، و یې ویل: (( هغه په کور کې له خپلې کورنۍ سره بد اخلاقه و.))[1]

[1] سنن النبي، علامه طباطبایی

رسول الله به له مېرمنو سره پر ښو اخلاقو چلن ته دومره ارزښت ورکاوه، تردې چې د خپل ژوند تر پايه يې پرې سپارښتنه کوله.
يـوه ورځ حضرـت "اسـماء" د يزيـد انصـاري لـور، د مـدينې د مېرمنو له اړخه استازې شوه، چې د هغـوی گيلـه رسـول اللـه تـه يوسي او له رسول الله ورته ځواب راوړي. "اسماء"، چې رسـول الله مبارک ته ورغله، و يې ويل:
((زه د مدينې د ښځمنو استازې يم. مور مېرمنې وايو: الله تعالی تاسې هم نارينه وو او هم ښځمنو ته رالېږلي ياست، ښځمنې هم پر الله تعالی او پر تاسې ايمـان لـري، ښـځمنې پـه کورونـو کـې ناسـتې او ستاسـې اولادونـه روزي؛ خـو بلخـوا وينـو، چـې سـتر ثوابونه او سپېڅلي کارونه يوازې په سړو پورې ځـانگړي دي او مور ترې بې برخې يو )).
رسول مبارک خپلو اصحابو ته وکتل، و يـې ويـل: ((ايـا پـه دې هکله مو تر اوسه دومره منطقي خبره اورېدلې وه؟ ))
په اصحابو کې يو وويـل: (( گومـان نـه کـوم، دا خـبره به ددې ښځمنو خپله خبره وي. )) رسول الله ددې اصـحابي خـبرې تـه ارزښت ور نه کړ، "اسماء" ته يې مخ کړ، و يې ويـل: "ښـه غـوږ شه، چې څه درته وايم او بيا زما خبره هغوی ته هم ورسوه، چـې

ته يې استازې کړې يې. گومان مو کړی، چې څوک سړی شو او دا دندې، چې تا اشاره ورته وکړه؛ نو په هغوی به فضيلت، اجر او ثواب ته ورسي او تاسې به ترې بې برخې شئ؟؛ خو داسې نه ده، که ښځه د کور او خپل مېړه ښه خيال وساتي او پرېنږدي، د کور د چاپېريال اوبه خړې شي؛ نو اجر او ثواب يې د سړيو د هماغو چارو هومره دی، چې اشاره دې ورته وکړه.[1]

رسول الله به تل د ښځې د سترې وگړې درناوی کاوه او تل يې غوښتل، سړي پردې حقيقت پوه کړي، چې د ټولنې نېکمرغي او بدمرغي د ښځې په روزنې پورې اړه لري؛ ځکه غوښتل يې په هر ځای کې په ښه توگه د مور مقام وستايي او درناوی يې وکړي او همداسې سړي يې د خپلو مؤمنو مېرمنو درناوي ته هڅول ، ويل يې: ((تر اسلام روسته، څه چې انسان ته په برخه کېږي، مؤمنه کوروداني ده، چې ور وگوري، خوشحاله يې کړي او د غوښتنې پرمهال يې خبرې ته غوږ کېږدي او د مېړه په نشتون کې د مېړه مال وساتي ))[2]

[1] سيره ابن هشام

[2] سيره حلبي

## سخت دریځې نه ده پکار

د رسول الله سپارښتنه ده، چې سړی باید د خپلې کورنۍ د هوساینې لپاره هلې ځلې وکړي او پکار وزلي ورته چمتو کړي او هغوی یې رټل، چې په دې چار کې یې ناغېړي کوله، ویل یې: ((الله تعالی دې پرې نه لورېږي، چې خپله کورنۍ ضایع کړي او پر خپل حال یې پرېږدي. ))

نبوي حدیث دی: ((مؤمن پر الهي آدابو مودب دی او چې الله تعالی د انسان ژوند پراخه کړ؛ نو خپلې مېرمنې او اولاد ته دې په ژوند کې پراخوالی ورکړي )).

او د هغوی په هکله، چې مالي وس یې و؛ خو له کورنۍ سره یې سخت دریځي کوله، ویل: ((هغه له موږ څخه نه دی، چې الله تعالی ورته په ژوند کې پراختیا ورکړي؛ خو پر کورنۍ شومتوب کوي. ))

او همداسې مېرمنو ته یې هم سپارښتنه کوله، چې د خپلو مړونو حقونو ته پاملرنه وکړي او په ژبه یې و نه کړوي.

نبوي حدیث دی: کومه ښځه، چې په ژبه خپل مېړه وکړوي، تر هغه یې روژه، صدقه او حسنه نه قبلېږي، چې مېړه یې ترې راضي شوی نه وي، که څه د ورځې روژې ونیسي-او د شپې

عبادتونه وکړي او مریـان ازاد کـړي او پـر اسـونو يـې جهـاد تـه ولیږي؛ خو سره له دې ټولو چارو، که مېړه ترې راضي نه وي؛ نو دوزخ ته په تګ کې به ړومبۍ وي او همداسې دا خبره د سـړي په هکله هم ده.[1]

رسول الله مبارک مېرمنو ته سپارښتنه کوله، چې لـه خپلـو مړونـو سره ګوزاره وکړي او د هغه څه د اخستو غوښتنه و نه کړي، چې سړی يې وس نه لري، ویل يې: (( ښځه چې لـه خپـل مېـړه سره ګوزاره و نه کړي او داسې څه وغواړي، چې د مېړه په وس کـې يې نه وي؛ نو هېڅ ښېګڼه يې نه قبلیږي او د قیامـت پـر ورځ به الله تعالی ورته پر قهر وي. ))

## د کور په چارو کې مرسته

سره له هغو ټولو چارو او دندو، چې رسـول اللـه تـه ور ترغـاړې وې؛ نو سره له دې، چې کور ته به راستون شو،د کـور پـه ټولـو چارو کې يې له کورنۍ سره مرسته کوله.

[1] سنن ابي داوود

یوه ورځ رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د حضرت علي کور ته ورغی، و یې لیدل، چې علي نخود پاکوي او فاطمه بي بي هم د دېگ په څنګ کې ناسته ده، چې په دې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: ((سړی، چې بې منته، په کور کې له خپلې ښځې سره مرسته وکړي؛ نو الله تعالی یې نوم د شهیدانو په لست کې لیکي.))
حضرت علي وايي: ((په کور کې له مېرمنې سره د سړي مرسته د کبیره ګناهونو کفاره ده.))

## د کور له چوپړیالانو سره ښه چلن

رسول الله به له خپلو چوپړیالانو سره په ورین تندي چلن کاوه، تردې چې چوپړیالانو یې له خپلې کورنۍ سره د ژوند پر ځای، د الله تعالی د استازي چوپړ ته ورتیا ورکوله.
یوه ورځ رسول الله خپل یو چوپړیال د یو کار لپاره یو نږدې ځای ته ولېږه، چې نیمه ورځ یې تېره کړه؛ څنګه یې رسول الله خپه کړ او د رسول الله کورنۍ داسې ګومان کاوه، چې راستون شي؛ نو رسول الله به یې ورتېي؛ خو چې چوپړیال له هومره څنډ سره راستون شو، رسول الله په مسواک ورته اشاره وکړه، و یې

ویل: ((که د الله تعالی له لوري له قصاصه وېره نه وه؛ نو پردې مسواک به مې یو ډب وهلی وې !)).

د حضرت انس بن مالک (رض) خبره:

حضرت انس بن مالک (رض) وایي: لس کاله د الله تعالی د استازي په چوپړ کې وم؛ خو په دې موده کې مې تري تریو تندی و نه لید او د "اوف" هومره يې هم راته و نه ویل او کوم کارونه، چې را څخه غلط شوي ول، هېڅکله يې راته و نه ویل، چې ولې دې دا کار داسې وکړ؟ او کوم کار مې چې و نه کړ؛ نو هېڅکله يې و نه ویل، چې ولې دې دا کار و نه کړ؟

حضرت انس وایي: رسول الله مبارک ته مې د روژه ماتي لپاره خواړه چمتو کول، چې کله شیدې او کله ډوډۍ وه، چې په اوبو کې يې لمدوله. یوه شپه مې د رسول الله لپاره خواړه چمتو کړل؛ خو د الله تعالی استازی، چې په کوم وخت کور ته راتله؛ نو نن ناوخته راغی؛ گومان مې وکړ، کوم اصحابي به مېلمه کړی وي؛ خواړه مې په خپله وخوړل، څو شېبې روسته د الله تعالی استازی خپل کور ته راستون شو، د رسول الله یو ملگری مې وپوښت: رسول الله روژه ماته کړې که نه؟ راته يې وویل: نه! نو دومره

خپه شوم، چې له زړه مې یو الله تعالی خبر و، له ځان سره مې وویل: که خواړه وغواړي او چمتو یې نه کړای شم،که وږی ویده شي؛ نو بیا؟پر هغه شپه د الله تعالی استازی (صلی الله علیه وآله وسلم) وږی ویده شو او د خوړو په هکله یې و نه پوښتل او تر اوسه یې هم هغه خبره رایاده نه کړه.

## پر کوشنیانو لورنه

له ماشومانو سره یې په لورنه او مینه چلن کاوه. څو ځل ولیدل شول، چې امام حسن او امام حسین یې د سجدې پرمهال پر شا سواره شول او رسول الله خپله سجده دومره اوږده کړه، چې حسنین ترې کوز شول او یا داچې ډېر رو یې هغوی راکوز کړل او هغوی یې راونیول او ښکل به یې کړل.

یوه ورځ د یو شتمن په مخ کې رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) امام حسن مجتبی ښکل کړ، هغه سړي وویل: زه لس زامن لرم، چې تر اوسه مې یو هم نه دی ښکل کړی، رسول الله وویل: څوک چې لورنه و نه کړي؛ نو الله تعالی به پرې و نه لورېږي.

يوه ورځ د يو کار لپاره له کوره بهر وتلی و، چې د خپل اتلس مياشتني زوی ابراهيم له رنځه خبر شو، چې کور ته راستون شو و يې ليدل، چې د ژوند د هيلو د باغچې يوازينى ګل يې له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي. هغه يې په غېږ کې راواخست او په ژړا يې وويل: ((ګرانه ابراهيمه! مونږ خو تا لپاره څه نه شو کړای او الهي تقدير هم نه بدلېږي؛ خو ستا د پلار سترګې ستا په وير کې ژړغوني او زړه يې له غمه ډک دی؛ خو هېڅکله به داسې خبره و نه کړم، چې الله تعالی مې راڅخه خپه شي او که الهي ژمنه نه وای، چې مونږ به هم له تا سره يو ځای شو؛ نو ستا په غم کې به مې دومره ژړلي وای، چې سترګې مې وچې شوې وای)).
د خپل زوی په وير کې د الله تعالی د استازي اوښکو ځينې حيران کړل، تردې چې حضرت عبدالرحمن بن عوف نيوکه وکړه او رسول الله مبارک ته يې وويل: ((تاسې خو مونږ په خپلو مړيو کې له ژړا منع کوئ؛ نو اوس څنګه په خپله ژاړئ؟)).
رسول الله مبارک وويل: ((هېڅکله مې داسې نه دي ويلي، چې د خپلو مړيو په وير کې مه ژاړئ؛ ځکه دا ژړا د مينې نښه ده او څوک چې له نورو سره مينه نه کوي، الله تعالی به ورسره مينه و

نه کړي؛ ما ویلي: ژاړئ؛ خو چغې او سورې مه وهئ او جامې او وېښته مو مه شلوئ او په ویر کې داسې خبرې مه کوئ، چې پر الله تعالی نیوکه او یا کفر وي او الله تعالی له ځانه خپه کړئ. ))
رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) نه یوازې له خپلو زامنو او ماشومانو سره مینه کوله؛ بلکې په نوم له ما شوم سره یې مینه کوله او سربېره پردې د هغوی درناوی یې هم کاوه. د الله تعالی استازی (صلی الله علیه وآله وسلم) ناست و، چې حسن او حسین را ننووتل، رسول الله مبارک ورته له خپل ځایه پاڅېد او د ماشومانو د را رسېدو په تمه شو؛ ماشومان په تګ کې غښتلي نه وو؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) په خپله ورمخکې شو، هغوی یې په غېږ کې راواخستل، پر اوږو یې سواره کړل، را روان شو او پر هماغه حال یې وویل: (( ګرانو زامنو ! تاسې څومره ښه سورلۍ لرئ او تاسې څومره سواره یاست.))
د الله تعالی استازی (صلی الله علیه وآله وسلم)، چې له سفره راستون شو؛ نو په لار کې، چې ورته ما شومان مخې ته راتلل، درناوي ته یې تمېده او ځینې یې په غېږ کې اخستل، ځینې یې پر اوږو سورول او خپلو اصحابو ته یې سپارښتنه کوله، چې

تاسي هم داسې وکړئ، چې ماشومانو ته د الله تعالی د استازي دې کار خورا خوند ورکاوه او هېڅکله يې دا وخت نه هېراوه.
ځينو ميندو خپل ماشومان د "دم" لپاره رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) ته راوړل، چې کله به ما شومانو پرې متيازې کولې، د ماشومانو په دې کار به ميندې خپه کېدې؛ خو رسول الله ورته ويل: مه خپه کېږئ، خير دی که جامې مې ناولې شوې؛ پاکې به يې کړم، ويل يې: له ماشومانو سره مو مينه وکړئ او ورسره کړې ژمنه مو پوره کړئ او الله تعالی په هېڅ څه دومره نه خپه کېږي؛ لکه څومره چې پر ښځو او ماشومانو خپه کېږي.
امام صادق وايي: يوه ورځ رسول الله خلکو ته د ماسپښين د لمانځ جماعت ورکاوه، چې هغه مبارک دوه روستي رکعتونه لنډ کړل او لمونځ يې ژر پای ته ورسوه. تر لمانځه روسته اصحابو رسول الله ددې چار په هکله وپوښت. رسول الله وويل: ((د ماشوم ژړا او چغې مو وا نه وريدې؟ )) د هغه ماشوم مور هم په جماعت کې وه، چې په دريیم رکعت کې ماشوم په ژړا شو؛ نو رسول الله ددې لپاره لمونځ چټک کړ، چې هغه مور ژر خپل ماشوم ته ولاړه شي.

پاک نبي وايي: ماشومان مې د پينځو ځانګړنو له لامله خوښ دي: لومړی داچې ډېر ژاړي او ژړنې سترګې د جنت کونجي ده. دويم دا چې په خاورو کې لوبې کوي (متکبره نه دي). درېيم داچې يو له بل سره جنګ کوي؛ خو ژر سوله کوي او په زړونو کې يو له بل سره کينه نه ساتي. څلورم داچې څه د سبا لپاره نه زېرموي (ځکه اوږدې هيلې نه لري). پينځم دا چې کور جوړ کړي او بېرته يې وران کړي (پر څه زړه نه تړي).

د الله تعالی د استازي، د ماشومانو ارواپوهنې ته خورا پام و او د نجلۍ د حساسيت او د روح د ظرافت له لامله يې ويل، چې لوڼو ته مو ډېر پام وکړئ او که اولاد ته مو ډالۍ اخلئ؛ نو لومړی يې لور ته واخلئ.

## د مور و پلار حقوق

مخکې له دې، چې ګران نبي دې نړۍ ته راشي، پلار يې په ځوانۍ کې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې وې او له مور سره يې هم ژوند وفا و نه کړه او رسول الله مبارک په ماشومتوب کې د مور و پلار له نعمته بې برخې شو؛ خو دومره يې له مور و پلار سره مينې ته پام و، چې په پينځه پنځوس کلنۍ کې د "عمرة

القضاء" په سفر کې، د خپل مور قبر ته ولاړ او د خپلې مور پر قبر یې دومره وژړل، چې ټول یې پر ژړا کړل.

د مور و پلار په هکله دولس گونو امامانو او د ینې مشرانو خورا سپارښتنې کړې دي، چې څو ته یې په لنډه اشاره کوو:

۱_ له مور و پلار سره احسان: قرآن پاک څو ځل له مور و پلار سره پر احسان سپارښتنه کړې ده.

((**وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اياهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلَا تَقُل لَهُمَا أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً**[1]= اوستا پالونکي پرېکړه کړې، چې: بې له هغه بل مه لمانځئ، له (خپل) مور و پلار سره احسان وکړئ، که له تا سره له هغو یو یا دواړه زړښت ته ورسي؛ نو ته ان "اوف" (هومره ورته) مه وایه (هیڅ ډول سپکاوی یې مه کوه ") او مه یې رټه او په درناوي پستې (ادبناکې او سنجول شوې) خبرې ورته وکړه ))

امام صادق وپوښتل شو: په دې آیتونو کې له احسانه مراد څه دی؟

---

[1] ( اسراء / ۲۳ )

و يې ويل: ((له احسانه مراد دادی، چې له مور و پلاړ سره دې چلن ښه وي او دې ته يې اړ نه کړې، څه چې يې پکار وي، له تا يې وغواړي؛ يعنې مخکې تردې چې خپلې غوښتنې په خوله راوړي، ته بايد هر څه ورته چمتو کړې.))

امام محمد باقر وايي: ((الله تعالی په دريو ځيزونو کې هېچا ته د سرغړونې اجازه نه ده ورکړې: د امانت په ادا کولو کې (که خاوند يې بد وي که ښه) پر ژمنه وفا (که مقابل لوری مو بد و که ښه) او له مور و پلاړ سره نېکي (که ښه وي که بد ).

د رسول الله له ويناوو دي: ((که په چا کې دا څلور ځانګړنې وي؛ نو الله تعالی به يې ملاتړی شي:

۱_اخلاق يې ښه وي او له خلکو سره ګوزاره وکړي. ۲_له خپه او په وير کې خلکو سره نرمي وکړي. ۳_پر مور و پلار يې مهربانه وي. ٤_ پر تر لاس لانديو احسان وکړي.))

امام صادق له نامسلمان مور و پلارسره د معاشرت په هکله وايي: ((ورسره ګوزاره او لورنه کوه، که هغوی په عذابولې؛ نو خير دی؛ خو ته خپل تېتر ورته د هغو زحمتونو په پار پراخ کړه، چې په وړوکتوب کې يې ستا لپاره ګاللي او که الله تعالی دې روزي

پراخه کړي؛ نو شومتوب ورسره مه کوه او هېڅکله له هغوی مخ وا نه ړوې، چې دا هر څه د الله تعالی سپارښتنې دي )).
۲_ له مورو پلاره لاروي؛ خو داچې د شرعې پرخلاف حکم وکړي.
امام صادق وايي: له مور و پلار سر نېکي فرض ده؛ خو که گناه ته يې رابللئ؛ نو که مشرکان هم نه وي؛ نو لاروي ترې پکار نه ده؛ ځکه له مخلوقه لاروی ته د پنځگر معصيت نه دی په کار.
۳_ له والدينو نه عاقېدل:
عاق؛ د مورو پلار کړول، له حکمه يې سرغړونه او پرې ظلم کول دي، چې کبيره گناه ده. رسول الله مبارک اصحاب وپوښتل: درته ووايم، چې تر ټولو ستره کبيره گناه کومه ده؟ ځواب ورکړ شو: هو ! رسول الله مبارک وويل: ((له الله تعالی سره شرک کول، له والدينو عاقېدل، افترا او بهتان ويل او د دروغو او باطل شهادت ورکول )).
سبحان ښتن وايي: فلا تقل لهما اف؛ يعنې مور و پلار ته دې د اوف هومره هم مه وايه. امام صادق ددې آيت په هکله وايي: که الله تعالی ته تر اوف څخه هم بل څه پرېوتي وو؛ نو له هغې به يې د مور وپلار په هکله منع کړې وه. مور و پلار ته کاره او

غوسه کتل هم گناه ده او د امام صادق وینا ده، چې که چا خپل مور و پلار له ځانه خپه کړل؛ نو عاق دی.

٤_ مور او پلار ته کنځلې او لعنت نه کول:

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وایي: د الله تعالی لعنت دې پر هغه وي، چې مور و پلار ته کنځلې کوي.

امام موسی بن جعفر وایي: یو سړي د الله تعالی رسول وپوښت: پر اولاد د مور و پلار حق څه دی؟ پاک نبي وویل: ((پلار ته په نوم غږ و نه کړي، مخکې ترې نشي، په مخ کې ورته کېننې او داسې کوم کار و نه کړي، چې څوک یې مور و پلار ته کنځلې وکړي.))

٥_ د مور و پلار بې اجازې مسافرت او ان کله هم جهاد ته نه تلل: دلته د مور و پلار اجازه هله شرط ده، چې مسافرت پر اولاد فرض نه وي او همداسې دی جهاد؛ یعنې هغه مهال د مور و پلار اجازه په کار ده، چې د معصوم امام یا یې پر حقه ځایناستي له پلوه حکم نه وي او د حج په څېر سفر او هغه جهاد د تګ لپاره د مور و پلار اجازه په کار نه ده، چې معصوم امام یې حکم کړی وي.

٦_د مور و پلار بې اجازې ژمنه، نذر، قسم، مستحبي روژه او په جماعت لمونځ کول نه دي په کار، ان که څوک د مستحبي لمونځ په حال کې وي او مور و پلار غږ پرې وکړي؛ نو ورته پکار دي، ژر تر ژره لمونځ پای ته ورسوي او مور و پلار ته ځواب ورکړي.

٧_ مور و پلار، چې زاړه شي؛ نو د اولاد دنده لاپسې نوره هم درنېږي.

الله تعالی وايي: ((**وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اياهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلَا تَقُل لَهُمَا أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً**[١]= او پالونکي دې پرېکړه کړې، چې بې له هغه بل مه لمانځئ، له (خپل) مور و پلار سره احسان وکړئ، که له تا سره له هغوی يو يا دواړه زړښت ته ورسي؛ نو ته ان "اوف "( هومره ورته) مه وايه (هېڅ ډول سپکاوی يې مه کوه ") او مه يې رټه او په درناوي پستې (ادبناکې او سنجول شوي) خبرې ورته وکړه .))

---

[١] ( اسراء / ٢٣ )

((**وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً**[1] = او لـه مهر بانۍ پرې د خپلې تواضع (او نرمۍ غاړې ) وزرونه راښکته کړه، ووايه: (( پالونکيه! پر دوی رحم وکړه؛ لکه څنګه چې دوی زه په ما شومتوب کې روزلی وم. ))[2]

رسول الله مبارک يوه ورځ په يوه ډله کې وويل: (( مخ دې يې پر خاورو شي (او دا خبره يې درې ځل وکړه ) وپوښتل شو: د چا؟ و يې ويل: له چا سره، چې زاړه مور و پلار وي؛ خو جنت ته ولاړ نشي؛ يعنې چوپړ يې و نه کړي؛ ځکه په چوپړ کې يې جنت دی، په تره ، چې زاړه شي.

۸_ د اړتيا پرمهال پر اولاد د مور و پلار نفقه فرض ده.

که له مور و پلار سره څه نه وي؛ نو پر اولاد شرعاً فرض دي، چې خپل مور و پلار ته يې د شان له مخې نفقه، کور، کالی او ډوډۍ چمتو کړي، که څه مور و پلار يې مشرک او نامسلمان وي.

يو چا د الله تعالی رسول وپوښت: د مور و پلار حق څه دی؟

---

[1] ( اسراء / ۲۴ )

[2] سيره احمد زيني

پاک نبي: ((ستا مور و پلار ستا دوزخ او جنت دی))؛ يعني اوس خوښه ستا چې جنت غواړې که دوزخ.
امام صادق وپوښتل شو: هغه څوک دي، چې مور ملزم يو لگښت يې ورکړو؟ امام وويل: والدين، اولاد او مېرمن.
۹_ له مور سره ډېره مينه.
((**وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَاناً حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهاً وَوَضَعَتْهُ كُرْهاً وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْراً ان إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ**[1]= او موږ انسان ته سپارښتنه کړې، چې له خپل مور وپلار سره نېکي وکړئ؛ مور يې هغه په ستونزو په گېډه کې ساتلی او په سختۍ يې زېږولی او د دوه ځانۍ او تي ورکولو ټوله موده يې دېرش میا شتې ده، تردې چې د خپلې بشپړې ودې برید ته ورسي او څلوېښت کلن شي، وايې: (( پالونکيه! ماته الهام وکړه (توفيق راکړه) چې زه ستا د هغو پېرزوينو شکر پر ځای کړم، چې پر ما او زما پر مور و پلار دې لورولي او (داسې) ښې چارې وکړم، چې ته يې

[1] (احقاف/۱۵)

خوښوي او اولاده مې نيکه کړه او په واقع کې تو به مې درته کړې او په حقيقت کې زه له مسلمانانو څنې يم.)) [1]
په دې هکله امام صادق وايي: يو سړي د الله تعالى استازى وپوښت: له چا سره نېکي وکړو؟ پاک نبي وويل: له مور سره. سړي بيا وپوښتل: تر مور روسته له چا سره؟ رسول الله: له مور سره. سړي بيا هماغه پوښتنه وکړه او له رسول الله يې بيا هم هماغه ځواب واورېد، چې په څلورم ځل، چې بيا هغه سړي وپوښتل؛ نو رسول الله وويل: له پلار سره.
۱۰_ مور ته دعا کول او ورسره نېکي کول.
سبحان ځښتن وايي: (( **وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً** [2]= اوله مهر بانۍ پرې د خپلې تواضع (او نرمې غاړې ) وزرونه راښکته کړه او ووايه: ((پالونکيه! پر دوی رحم وکړه؛ لکه څنګه چې يې په ماشومتوب کې روزلی وم. ))
محمد بن مروان وايي: امام صادق وويل: ((څه له له مور و پلار سره د احسان مخنيوي کوي؛ که ژوندي وي که مړه، د هغوی له

---

[1] سفينة البحار،حاج شيخ عباس قمي
[2] ( اسراء / ۲۴ )

اړخه لمونځ وکړي، صدقه ورکړي، روژه ونیسي۔ حج وکړي، چې ددې کړنو ثواب يې مور و پلار ته وي او هغه ته هم (د مور و پلار د ثواب هومره) ورکړل شي؛ بلکې الله تعالی به يې ثواب او اجر د هغه نېکۍ او صله رحم له کبله ډېر کړي. ))

۱۱_د مور و پلار دعا وغواړئ او له ښېرو يې ځان وساتئ.

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: اولاد ته د پلار دعا، امت ته د پیغمبر د دعا په څېر ده.

بیا پاک نبي وايي: د مور و پلار له ښېرو ووېرېږئ، چې تر تورې ډېره تېزه ده.

په بل ځای کې د الله تعالی استازی وايي: د مور دعا ژر قبلېږي. وپوښتل شو: ولې؟ و يې ویل: ځکه مور تر پلاره ډېره مهربانه ده.

## دریيم څپرکی

# ټولنيز اخلاق

### *ښه خوی*

په هغه ستر رسالت کې، د الله تعالی د استازي د بري يوه خواله، ښه خوی او ورين تندی و. پر خلکو خورا مهربانه او له خلکو سره په چلن کې يې له پراخې سينې کار اخسته، چې په همدې ښو اخلاقو يې د خلکو پر زړونو واکمني کوله، تردې چې د عربستان په هغه وحشي-او روسته پاتې ټولنه کې يې داسې کسان وروزل، چې هر يو يې د بشريت لپاره بېلگې دي.

قرآن پاک د الله تعالی د استازي د ښو اخلاقو په هکله وايي:

((**وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ**[1] = او په رښتيا ته ستر خوښونه لرې.))

چې د ټولو الهي انبياو سيره همداسې وه او پر خلکو خوار مهربانه ول.

---

[1] ( قلم/۴)

دا خبره دومره ارزښت لري، چې اسامه ترې وپوښتل: تر ټولو غوره څيز، چې انسان ته ورکړ شوی، څه دی؛ و يې ويل: ښه اخلاق.

امام حسن د خپل نيکه خبره را اخلي، وايي: د ښه اخلاقو د خاوند اجر د روژې د شپې د لمونځونه هومره دی.

په بل ځای کې وايي: ((ښه اخلاق داسې گناهگانې ويلې کوي؛ لکه څنگه چې لمر يخ ويلې کوي )).

وپوښتل شو: ښه اخلاق څه دي؟ و يې ويل: ښه اخلاق دا دي: د دوستۍ اړيکه له هغوی سره ټينگه وساتي، چې له تا سره يې پرېښې ده او هغه وبښې، چې پر تا يې ظلم کړی او ور يې کړې هغه ته چې تا ته يې نه وه درکړې.

په دعا کې به يې خپل څښتن ته ويل: خدايه ! خلق و خوی مې نېک کړې. خدايه له ناوړه اخلاقو مې وساتې او له نارواوو په ځان ساتلو کې مې مل شې.

امام رضا د رسول الله وينا را اخلي، وايي: جبرائيل د الله تعالی له لوري راغی، را ته يې وويل: محمده ! پر تا دي، چې ښه اخلاق جامه کړې؛ ځکه بدخلقي د نړۍ او اخرت خير له منځه

وړي، بيا يې وويل: پوه شئ، په تاسې کې به تر ټولو هغه زما په خېر وي، چې تر ټولو يې اخلاق ښه وي.

## له خلکو سره ملگرتوب او گوزاره

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) له خلکو سره گوزاره کوله، ويل يې: لکه څنگه چې موږ انبياء دنده لرو، فرض پر ځای کړو؛ نو هماغسې دنده لرو، چې له خلکو سره گوزاره وکړو.

نبوي حديث دی: زه له خلکو سره گوزارې ته مبعوث شوی يم او له خلکو سره د گوزارې حکم راکړ شوی؛ لکه څنگه چې حکم راکړ شوی، رسالت مې تبليغ کړم.

څو يهودو له مخکې نقشه ايستې وه، چې لږ تر لږه پر ژبه رسول الله وځوروي، چې ټول په يو بل پسې مجلس ته راننوتل او د سلام عليکم پر ځای يې وويل: السام عليکم؛ يعنې مرگ دې پر تا وي. حضرت عايشه بي بي، چې هلته وه، ډېره سخته غوسه شوه او چغه يې کړه: مرگ دې پر تاسې وي او. ... ))

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وويل: عايشې ! ولې غوسه شوې؟ کنځلې مه کوه. کنځلې که انځور شي؛ نو تر ټولو بده او ربړلې څېره لري او نرمي، ملايمت او ښېگڼه که پر هر څه

کېښوول شي، ښکلا ورکوي او له هر څه چې لرې شي؛ نو ښکلا یې له منځه ځي. ))

بي بي وویل: رسول الله ! نه وینئ، څومره پر بې شرمۍ وایي، چې مرگ دې پر تاسې وي؟

رسول الله: ما یې هم په ځواب کې وویل: ((علیکم)) پر تاسې دې وي، همدومره یې بس دی.

رسول الله د خلکو ترخې او بې ادبه خبرې زغملې. یوه ورځ یو بېدیاني عرب مدینې ته راغی او نېغ جومات ته ددې لپاره ولاړ، چې له رسول الله سره زر واخلي؛ نو چې راننووت، د الله تعالی استازی یې په خپلو یارانو کې وموند. دې سړي خپله اړتیا وغوښته. رسول الله یو څه ورکړل؛ خو هغه پرې قانع نه شو، رسول الله ته یې سپکې سپورې وکړې. د رسول الله مبارک اصحاب ددې سړي له دې کاره خورا خپه او غوسه شوي وو او نږدې ول، چې هملته یې وړه سابه کړي؛ خو رسول الله اصحابو ته ددې کار اجازه ورنه کړه او تردې روسته د الله تعالی استازی هغه عربي له ځان سره کور ته یووړ او هلته یې ورسره نوره نقدي مرسته هم وکړه، چې د رسول الله په کور کې، عربي هم وکتل، چې د الله تعالی د استازي کور د نورو واکمنانو په څېر نه دی او

د سيکو او زرو درک پکې نشته، چې د تګ پرمهال عربي خوشحاله د الله تعالی د رسول له کوره ووت، چې په دې وخت کې رسول الله وويل: ته نن له ما مننه کوې او پرون دې راته ډېرې سپکې سپورې وکړې، چې زما اصحاب دې غوسه کړل او وېربېږم، چېرې دې د هغه رټلي کار له لامله خراب نه کړي؛ نو ايا کېدای شي همدا خبره يې په ډله کې وکړې، چې د تا لپاره يې په زړه کې غوسه له منځه ولاړه شي. عربي هم دې کار ته غاړه کېښوده. بله ورځ عربي جومات راغی، چې اصحاب له رسول الله داسې را تاو وو؛ لکه پتنګان له ګله؛ نو دا مهال رسول الله خپلو يارانو ته وويل: دې سړي ماته ويلي، چې له موږ څخه راضي شوی دی. په دې وخت کې يې عربي ته مخ کړ ، و يې ويل: ايا همداسې ده؟ عربي وويل: هو همداسې ده! او هماغه مننه يې په ډله کې هم وکړه، چې له رسول الله يې کړې وه، رسول الله او يارانو يې وخندل او په دې وخت کې رسول الله وويل: زما او ددې سړي مثال د هغه سړي دی، چې اوښه يې ترې اوتاو شوې وه او منډې يې ترې وهلې او خلکو هم د اوښ له خاوند سره د مرستې په موخه په اوښ پسې منډلې وهلې، چې هغه اوښ د خلکو له وېرې لاپسې نور هم توري شو، چې په دې

وخت کې د اوښ خاوند چغې کړې: خلکو ! هیله کوم، له اوښ سره مې کار مه لرئ؛ ځکه په خپله ښه پوهېږم، چې څنګه مې اوښ رام کړم او را و یې نیسم او همداچې خلک یې په اوښ پسې له منډو منع کړل؛ نو ولاړ او واښه یې راواخستل، رو رو اوښ ته ورمخکې شو، بې له دې، چې چغې او یا منډې ووهي او همداسې رامخکې شو، راغی او خپل اوښ یې له پړي راونیو او روان شو او که تاسې هم ما پرون پرېښې وئ؛ نو هغه عربي به مو ډېر پر بد حال وژلی و؛ خو ما تاسې دې کار ته پرېنښودئ او په خپله مې په نرمه رام اولارې ته راوست )).

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: ایا له هغه مو خبر کړم، چې دوزخ پرې حرام دی؟ دوزخ پر هر ګوزاره کوونکي او د نرمو اخلاقو پر خاوند حرام دی.

د الله تعالی استازی (صلی الله علیه وآله وسلم) جومات ته روان و، په لار کې یو سړی ورمخې ته شو، و یې ویل: تاسې زما پوروړي یاست او باید همدا اوس زما پور راکړئ. رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: ړومبی داچې زه دې پوروړی نه یم او بل داچې اوس په جېب کې څه نه لرم، اجازه راکړه، له کوره پیسې راوړم. سړي وویل: یو ګام هم له دې ځایه

نشئ اخستئ. رسول الله، چې هر څومره له سړې سينې ورسره کار اخسته، سړي به دوه زوره کول، تردې چې د رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) څادر يې د هغه مبارک په ورمېږ کې واچاوه او را يې کاږه، چې تغمه يې په ورمېږ کې پاتې شوه. مسلمانان په جومات کې، رسول الله ته پر تمه وو او همداچې و يې ليدل، هغه مبارک ناوخته کړ، له جوماته راووتل، و يې ليدل، چې يو يهودي د رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) مخه نيولې ده. اصحابو غوښتل، هغه يهودی کونج ته کړي او هملته د بوسو خوسې ترې جوړ کړي؛ خو رسول الله وويل: تاسې کار ورسره مه لرئ ! زه پخپله پوهېږم، له دې ملگري سره څنگه چلن وکړم او دومره نرمي يې وښووله، چې يهودي ځای پر ځای وويل: (( اشهد ان لا اله الله و اشهدانک رسول الله )) او زياته يې کړه: يو عادي انسان دومره زغم او پراخه سينه نشي درلودای او څرگنده ده، چې تاسې د څښتن استازی ياست.

## له پوروړي سره گوزاره

پاک نبي (صلى الله عليه وآله وسلم) وايي: ((چاچې په تنگسه کې له چا سره گوزاره وکړه؛ نو الله تعالى به ورسره په نړۍ او

اخرت کې ګوزاره وکړي. تر هغه چې بنده له خپل مسلمان رور سره مرسته کوي؛ نو الله تعالی هم مرسته ورسره کوي او چاچې په تنګسه کې له چا سره ګوزاره وکړه او د هغه د پور یوه برخه وروبښي؛ نو الله تعالی به یې د قیامت پر ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې کړي؛ پر هغه ورځ، چې بې د هغه له سیوري بل سیوری نشته.

پاک نبي (صلی الله علیه وآله وسلم) خپلو یارانو ته وویل: په تاسې کې به کوم یو خوشحاله شي، چې پوه شي، الله تعالی یې د دوزخ له عذابه ژغوري؟ ټولو وویل: موږ ټول به خو شحاله شو، چې داسې ښه خبر واورو. پاک نبي وویل: هغه چې خپل په تنګسه کې پوروړي ته وخت ورکړي.

د پور غوښتو او داچې له چا وغوښتل شي، اصل دادی، چې د انسان چې څومره له لاسه کېږي، خپلې غوښتنې او اړتیاوې پخپله لاس ته راوړي او که کله هم کار تردې راورسېد، چې له چا پور وغواړي؛ نو په داسې طریقه دې یې نه غواړي، چې خواري او ذلت پکې وي.

نبوي حدیث دی: (( که له چا څه غواړئ؛ نو له عزت نفس سره یې وغواړئ او د پور په پار ځان مه خواروئ. ))

روایت دی: یو سړی امام صادق ته ورغی او له روزګاره یې ګیله ورته وکړه، و یې ویل: په پورونو کې ډوب یم. امام یو څه نقدي ورکړې. هغه سړي وویل: مطلب مې دا نه و، چې نقدې راکړئ؛ بلکې له دې لپاره مې درته د زړه حال بیان کړ، چې دعا راته وکړئ. امام وویل: ما خو نه دي ویلي، چې ستا مطلب دا و، اوس دا نقدې واخله او سپارښتنه درته کوم: هره ستونزه، چې لرئ؛ نو د خلکو په مخ کې یې مه وایه، چې خوار نشئ.

## ښښنه

پاک نبي به هغوی ښښل، چې ظلم یې پرې کړی او د نورو تېروتنې یې ښښلې. چې رسول الله مبارک مکه سوبه کړه؛ هغه ښار چې هغه او یاران یې ۱۳ کاله پکې کړېدلي ول او تردې چې نږدې ول، و یې وژني؛ نو ټولو دا تمه درلوده، چې اوس خو به د هغو ۱۳ کالو عچ اخلي؛ خو رسول الله خلک وپوښتل: اوس به څه درسره کوم او څه تمه لرئ؟ خلکو وویل: موږ له تا یوازې د خیر تمه لرو، ته مو ستر رور او د ستر رور زوی یې. رسول الله ددې خبرو تر اغېز لاندې راغی، اوښکې یې راغلې،

و يې ويـل: زه به هماغـه ووايـم، چـې رور مـې يوسـف (عليـه السلام) خپلو رونو ته وويل:

((**قَـالَ لاَ تَثْرِيـبَ عَلَـيْكُمُ الْيَـوْمَ يَغْفِـرُ اللَّـهُ لَكُـمْ وَهُـوَ أَرْحَـمُ الرَّاحِمِينَ**[1] =وويل:(( نن پر تاسې پړه نشته، الله تعالی دې تاسې وبښي او هغه د لورنو ډېر لورين دی))[2]

او همدا وو چې مهربان او رحمت للعالمين محمـد (صـلی اللـه عليه وآله وسلم) هغه ټول وبښل، چې ۱۳ کاله يـې سـور اور تـه نيولی و او ټولو ته يې وويل: ولاړ شئ! ټول ازاد ياست!

قرآن پاک رښتيا ويلي وو: و ما ارسلناک الا رحمة للعالمين.

ډېرو لـه رسـول اللـه سره بد وکـړل؛ خـو هغـه مبـارک وبښـل او هېڅکله يې په زړه کې د چا کينه و نه ساتله او له هېچا يـې غـچ وانخست؛ بلکې بښنه يې د غچ په پرتله وړ گڼله.

سره له دې چې په "احد" غزا کې پـه رسـول اللـه مبـارک هـومره تېري و شول او د هغـه د زمـري پـه څېـر تـره؛ حضرت حمـزه د "معاوبه بن ابوسفيان" مور؛ "هنـدې" پـه ډېـر غـير انسـاني توگـه شهيد، د هغه ځيگر يې له بدنه راوايست او و يې خوړه؛ خـو بيـا

[1] (يوسف/۹۲)

[2] صحيح بخاري

هم دا رحمت للعالمین و، چې د یوې کنځلې هومره یې دې کینه کښې ښځې ته و نه کړه.
له "تبوک" غزا چې راستنېده، ځینو هوډ کړی و، رسول الله ترور کړي او هغه داسې، چې په یو کنډو کې ورته تر بوزک وهلي پټ وو، چې د پېغمبر (صلی الله علیه وآله وسلم) اوښ توري او له دې لارې، هغه مبارک لاندې درې ته گوزار کړي او سره له دې، چې پېغمبر (صلی الله علیه وآله وسلم) هغوی ټول وپېژندل او چې یارانو یې غوښتل، د هغو کسانو نوم ورته واخلي؛ خو رسول الله مبارک یې نوم خپلو یارانو ته و نه ښود او ورته له سزا ورکولو یې سترگې پټې کړې.
سره له دې چې د "عبدالله بن ابی" (د مدینې د منافقانو مشر)، چې څومره له لاسه کېدل، چې له شا پر پېغمبر گوزار وکړي او څومره خنډونه یې په لار کې ورته کېښوول؛ خو دا رحمت للعالمین و، چې بد چلن یې ورسره و نه کړ.
خو له یاده مو و نه وځي، چې دې ټولو چارو وگړیز اړخ درلود،که چا یې سپکاوی کاوه، غبرگون یې موسکا او بښل وو؛ خو که چا، پښه د اسلام له چوکاټه وایسته یا داچې د اسلام

قانون ولتاړي؛ نو بیا هماغه موسکی او ښوونکی پیغمبر و، چې پرېکنده یې د حق د پلي کولو لپاره گام پورته کاوه.

## په عدالت پلي کولو یې گوزاره نه کوله

سره له دې چې که څه به د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) سپکاوی کاوه او هغه یې ښه؛ خو که په کوم ځای کې، چې چا حق، الهي حکم او یا شرع لتاړله؛ نو رسول الله داسې غوسه کېده، چې هېچا یې د الهي غوسې مخه نه شوه نیوای او تر هغه نه کلارېده، چې حق یې حقدار ته نه و ورکړی. پر چا یې چرت نه و خراب او هر چاچې له الهي چوکاټه پښه بهر کړه، پر هر مقام چې و، رسول الله یې د سزا حکم ورکاوه یا داچې په خپله یې گناه کوونکي ته سزا ورکوله.

په حقوقو کې ټول ورته یو شان او مساوي وو، حق یې پلي کاوه، که څه په خپله او یا د یارانو په تاوان یې هم و او د چارو د سمبالولو بنسټ یې حق و.

یوه ورځ د یوه انصاري مسلمان له کوره غلا و شوه، چې یو یهودي او یو مسلمان پکې تورن وو. په دې وخت کې یوه ډله انصار، پاک نبي ته واسطه شول، چې د یهودو د دښمنۍ او د

مسلمانانو د پت ساتلو لپاره دې يوازې يهودي ته سزا ورکړه شي او مسلمان ته دې سزا ور نه کړه شي؛ خو تر څېړنو روسته رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) ته جوته شوه، چې يهودي بې گناه دی؛ نو په بشپړ پرېکندتوب يې يهودی پرېښود او مسلمان ته يې سزا ورکړه.

د پاک نبي دې عمل يې هم، د نورو کړنو په څېر، قرآني بڼه درلوده:

((**يَاأَيُّهَا الَّـذِينَ آمَنُـوا كُونُـوا قَـوَّامِينَ لِلّـهِ شُـهَدَاءَ بِالْقِسْـطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا إِعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْـوَى وَاتَّقُوا اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ**[1]= مؤمنانو! تل د الله تعالى (د فرايضو) لپاره راپاڅئ او په قسط او عدل گواهي ورکړئ، له کومې ډلې سره دښمني دې تاسې دې ته اړ نه کړي، چې عدالت و نه کړئ؛ عدالت وکړئ، چې هغه (ځان ساتنې او) پرهېزگارۍ ته ډېر نژدې دی او (ځانونه مو) د الله تعالى له (عذابه) وساتئ، څه چې کوئ، الله تعالى پرې ښه خبر دی.[2]))

---

[1] ( مايده/٨)

[2] صحيح ترمذي

سره له دې چې رسول الله د مکې د سوبې پرمهال ټول ښځلي وو؛ خو له یوې ښځې سره یې سره له دې چې د یوې سترې کورنۍ وه، پر عدالت چلن وکړ. کیسه داسې وه:
د "فاطمې" په نامه یوې ښځې، چې د "بني مخزوم" د ټبر وه، غلا وکړه، هغه یې رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ته راوړه، چې تر څېړنو روسته، غلا پرې جوته شوه. قریشو ګومان کاوه، موږ چې هومره پیغمبر کړولی او زورلی و؛ نو موږ یې چې وښلو؛ نو د هغې ښځې غلا خو به هرومرو ښې؛ خو ټول حیران شول، چې رسول الله مبارک پر هغه ښځې د الهي حکم د جاري کولو په تکل کې دی؛ نو قریشو هڅې پیل کړې، چې له دې کاره مخنیوی وکړي؛ ځکه هغوی ته سخته او د شرم خبره وه، چې د هغوی د ټبر یوه ښځه، د غلا په تور سزا ووینې؛ نو ړومبی یې ګومان وکړ، چې د تاوان او نقدو په ورکولو، له دې کاره مخنیوی وکړي؛ خو رسول الله ورسره و نه منله. غلې، چې حالات ولیدل؛ نو د ځان د خلاصون لپاره یې د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) یوې مېرمنې ته پناه یووړه او رسول الله ته یې واسطه کړه؛ خو واسطې هم ګټه نه درلوده او د اخر ځل لپاره یې حضرت "اسامه بن زید" واسطه کړ، چې د خپل پلار په څېر

پر رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) خورا گران و او ورسره یې ځانګړی مقام درلود؛ خو همداچې "اسامه" پر خبرو شو، د اسلام د ستر مشرتابه، څېره له غوسې سره شوه ، و یې ویل: د الهي حد د نه جاري کېدو لپاره واسطه شوی یې؟ او ځای پر ځای یې د غلې د سزا حکم یې ورکړ. اسامه پر خپله تېروتنه پوه شو، بښنه یې وغوښته او ولاړ.

پر هغه ورځ پاک نبي (صلی الله علیه وآله وسلم) خلک جومات ته راوغوښتل او داسې وینا یې وکړه: ((پخواني قومونه ځکه ورک شول او له منځه ولاړل، چې د عدالت په پلي کولو کې یې تبعیض روا ګاڼه او چې کله به د کوم منصب خاوند یا شتمن ګناه وکړه؛ نو له سزا معاف و؛ خو که کوم بېوزله او تر لاس لاندې به خطا وکړه؛ نو تر ټولو سخته سزا ورکول کېده. قسم پر هغه الله تعالی چې زه یې درته پیغمبر رالېږلی یم، د عدالت په پلي کولو کې به د چا مخ خاطر و نه کړم او د محمد لور فاطمې هم که داسې رټلی کار کړی و؛ نو بې ځنډه به مې ترې لاس غوڅ کړی و.))

او پر خپل عمل یې وښوول، چې د الهي عدل د قانون پر وړاندې ټول یو شان او مساوي دي.

بله دا چې: "سمرة بن جندب" په داسې ځای کې د کجورې و نه درلوده، چې لار يې د يو انصاري له کوره تېرېده او "سمرة" به هم، چې خپلې ونې ته تله؛ نو بې اجازې، د انصاري کور ته ورننووته او ځان يې ونې ته رساوه. انصاري د "سمرة" په دې کار خپه شو ، و يې ويل: چې خپلې ونې ته ورځې؛ نو کور ته تر ننوتو مخکې اجازه غواړه؛ خو "سمرة" د انصاري پر خبره غوږ و نه گرواه او هماغسې، بې اجازې، د انصاري کور ته ورننووته. انصاري رسول الله ته گيله وکړه. رسول الله "سمرة" را وغوښت ، و يې ويل: پلاني در څخه گيله کړې او نېغه په نېغه يې وويل: تردې روسته چې يې کور ته ننوځې، اجازه به ترې غواړې. "سمرة" د رسول الله خبرې ته هم غوږ و نه نيوه. رسول الله يې چې کار وليد، وړانديز يې ورکړ: ونه دې وپلوره او داچې "سمرة" دې کار ته وهڅوي، د جيگې بيې وړانديز يې هم ورکړ، و يې ويل: پر کومه بيه، چې دې خوښه وي، دا ونه وپلوره؛ خو "سمرة" د ونې پلورلو ته هم غاړه کېنښوده. پاک نبي ورته د معنوياتو او اخرت په هکله خبرې وکړې، چې که د انصاري کور ته د ننوتو پرمهال اجازه وغواړې او يا داچې که ونه وپلورې؛ نو الله تعالی به خورا ثواب درکړي؛ خو "سمرة" بيا هم

ورسر و نه منله؛ خو چې خبره له نرمۍ او گوزارې تېره شوه؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ورته غوڅ وویل: مضر انسان یې او د اسلام په دین کې ضرر لیدل او ضرر رسول نشته او بیا یې انصاري ته وویل: ((ولاړ شه او د کجورې و نه یې له بېخه را ونړوه !)) او بیا یې "سمرة" ته وویل: ((زه اوس ولاړ شه او په کوم ځای کې، چې دې زړه وي؛ نو همځلته دې ونه وکره.))
که منافقانو به د الله تعالی د استازي سپکاوی کاوه؛ نو د آنحضرت (صلی الله علیه وآله وسلم) غبرگون ښښنه او گوزاره وه او ان د هغوی نوم یې هم نه بربنداوه؛ خو چې منافقانو غوښتل،د اسلام پرخلاف دسیسه جوړه کړي، که څه د جومات جوړولو په بڼه (د ضرار د جومات کیسه)؛ نو جومات یې له خاورو سره یو ځای کاوه او له هغه ځایه یې ډېران جوړاوه.
پاک نبي د الهي احکامو او عدالت د پلي کول راز په لاندې وینا کې څرگند کړی دی: ((یو ټبر په بېړۍ کې د سپرېدو لپاره پچه واچوله، چې ځینې په پاسني او ځینې په لاندني پوړ کې ځای پر ځای شول، چې د لاندې پوړ خلکو او بو ته د رسېدو لپاره د پاسني پوړ له خلکو تېرېدل؛ نو دوی له ځان سره وویل: څه به وشي، چې موږ هم اوبو ته د لاس رسي لپاره په لاندې

پوړ کې سوری وکړو؛ نو په دې بنه؛ که د بېړۍ خاوند هر څوک د خپلو غوښتنو د لاس ته راوړو لپاره ازاد پرېږدي؛ نو ټول به هلاک شي او که مخه يې ونيول شي؛ نو ټول به نېکمرغه شي او خلاصون به ومومي. ))

# تواضع

ښتن تعالی د خپل استازي په هکله وايي: ((**وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ**[1]=او له مؤمنانو، چې ځوک ستا لاروي کوي،ورته خپل وزر ټيټ کړه (او په نرمۍ ورسره چلن کوه).))

پاک نبي وايي: ((الله تعالی راته وحي کړې، چې در اعلان کړم: تواضع مو جامه کړئ. ))

په رښتيا، هغه ددې ډول تواضع په سترګو ليدل شوې بېلګه وه او بې له دې چې له ځانه کومه خواري او ذلت وښيي، متواضع و او د تواضع ترځنګ يې بشپړ برم او دبدبه هم درلوده. د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) دا کار د صوفيانو د اخلاقو پرخلاف و، چې د نفس د رام کولو په پار، عزت نفس لتاړي.

(د بېلګې په توګه "ابراهيم ادهم" د تصوف يو ليکوال وايي: ما په څو ځايونو کې خپل نفس پر خپل مراد وموند؛ يو ځل هغه چې يوه ورځ په بېړۍ کې ناست وم، په بېړۍ کې ناستو په ما پورې خندل او په هغه بېړۍ کې ملنډې وهونکی هم و، چې هره

[1] (شعراء/۲۱۵)

شېبه به راتله او زما وېښتان يې راکاږل او پر سټ به يې وهلم. زه هم د خپل نفس له دې خوارۍ ډېر خوشحاله وم!
بل ځل هغه مهال وو، چې ما د "دجلې" د سيند پر غاړه اودس کاوه، يو سړي پر ما توکاڼې را تو کړې، چې د هغه له دې کاره خوار خوشحاله شوم !
په وسايل کتاب کې د ظلم د کراهت تر عنوان لاندې راغلي: انسان د خپل مال، دندې او. .... واک لري؛ خو د خپل پت واک نه لري؛ نو حق او واک نه لري، ځان بې پته کړي.
په دې هکله د تحف العقول په کتاب کې له امام صادق روايت دی: ((مه دومره تريخېږه، چې خلک درځنې وتښتي او مه دومر نرمېږه، چې درباندې سواره شي او سپکاوی دې وکړي. ))
امام حسين وايي: ((له ذلت سره تر ژونده، پر عزت مړينه خورا غوره ده. ))
رسول الله به د خپل ځان او نورو ترمنځ پر امتياز نه قايلېده. حضرت ابوذر غفاري وايي: چې کوم ناپېژندگلو به زموږ ډلې ته راغی، رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) يې نه پېژنده. پوښتنه به يې کوله: په تاسې کې محمد څوک دی؟

رسول الله(صلی الله علیه وآله وسلم) خلک له دې منع کول، چې څوک په غونډه کې له ځایه ورته پاڅي او له دې کاره کرکجن و او داچې خلک هم پوه وو، رسول الله پردې کار خپه کیږي؛ نو چې هغه مبارک به راتله، څوک له ځایه ورته نه پاڅېده.

یوه ورځ د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) یو یار غوښتل، پیغمبر ته په پښو کې پرېوځي؛ یعنې سجده ورته وکړي، چې پیغمبر (صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: دا څه وایې؟ ! دا کارونه د "قیصر" او "کسری" دي او دا کارونه زما د پیغمبرۍ او بندګۍ له شان سره سمون نه خوري.

د الله تعالی استازی چې به روان و، چا ته یې اجازه نه ورکوله، ورپسې شي، که سور و او څوک ورسره روان و، ورته یې د درېیو کارونو واک ورکاوه: یا داچې مخکې تری شي او د پیغمبر شاته روان نشي یا داچې صبر وکړي، چې رسول الله ولاړ شي او بیا هغه راشي او یا داچې که کېدای شول، دواړه یو ځای پر سورلۍ سواره شي ، ویل یې: سمه نه ده، زه سور او تاسې پلي وسئ.

چا ترې و نه ليدل، چې په خپله سور وي او څوک ورسره روان وي او که داسې نه کېدل، په خپله هم له سورلۍ کوزېده او په ټوليزه توگه، له ظاهري دبدبې کړکجن و او په مسلمانانو کې يې له کبر، ځانمنۍ او غرور سره مبارزه کوله.

حضرت علي وايي: (( زه او رسول الله پر لار روان وو، په لار کې مې يوه ډله وليده، چې له يو سړي راتاوه ده. رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) وپوښتل: دا خلک د څه لپاره راټول دي؟ و يې ويل: يو خطرناک لېونی دی، چې خلک ترې راتاو دي. رسول الله وويل: دا سړی خو رنځور دی؛ خو حقيقي لېونی هغه دی، چې د تکبر او غرور له لامله، د تگ پرمهال لاسونه مخکې او شاته کوي، ولې پورته او سينه يې راايستې وي او له خدايه جنت غواړي، حال دا وجود يې له گناه ډک دی، چې دا د کبر او ځانمنۍ نښه ده.[1]

يوه ورځ رسول الله او ياران يې په يوه غونډه کې ناست وو. يو بېوزله مسلمان، چې جامې يې هم شلېدلې وې، غونډې ته راننووت او د ناستې د ځای په لټه کې شو، چې د يو شتمن سړي ترڅنگ يې د ناستې لپاره ځای وموند. شتمن له دې خپه

---

[1] الطبقات الکبرى

او کرکجن شو، چې بېوزله يې ترخنګ ناست دی؛ نو ځان يې راټول او بېوزله يې له ځانه لرې کړ. د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) هم، چې دې خبرې ته پام و، و يې ويل: وويرېدې، بېوزلي يې تاته هم در شي؟

_ نه ! د الله تعالی رسوله !

_ وويرېدې جامې دې ککړې شي؟

_ نه ! رسول الله !

_ نو ولې دې ځان راونغاړه او لرې ترې شوې؟

_ رسول الله ! منم چې تېروتی يم او ددې ګناه د کفارې د ادا کولو لپاره چمتو يم، خپله نيمه شتمني دې مسلمان رور ته ورکړم.

بېوزله سړي چې دا خبره واورېده، و يې ويل: زه يې نه منم.

په ډله کې ناست حيران شول، و يې پوښتل: ولې؟

و يې ويل: وېرېږم، ددې شتمنۍ له لامله، زه هم مغرور شم او همداسې چلن؛ لکه له ما سره چې و شو، له خپل مسلمان رور سره وکړم.

رسول الله به تل خپل ياران له ځانمنۍ ژغورل او ورته يې ويل: ((ان په زړه کې مو هم د ځان منۍ خبره رانشي.))

رسول الله ته د يو سړي خورا ستاینه وشوه. يوه ورځ هغه سړی د رسول الله غونډې ته راغی، اصحابو وویل: رسول الله! دا هماغه سړی دی، چې ستاینه یې درته شوې وه. رسول الله، چې ولید، و یې وویل: ((په تندي کې یې د شیطان نښې وینم))

چې سړی رانږدې شو، رسول الله وویل: ((پر الله تعالی مو قسم دې غونډې ته چې راننوتې؛ نو په زړه کې دې راتغلل، چې په دې غونډه کې تر ټولو غوره یې))؟ و یې ویل: هو !

امام صادق وايي: ((يو سړي پر غرور رسول الله ته وویل: رسول الله ! زه پلانی د پلاني زوی یم او د خپلو نهو نیکونو نومونه یې واخستل. رسول الله وویل: ته ورپسې لسم په دوزخ کې یې.[1]

"احمد بن محمد بن ابي نصر بزنطي" د امام رضا یار و، چې وايي: موږ له څو کسانو سره امام ته ورغلو او څو شپې ورسره کېناستو؛ نو د راستنېدو پرمهال یې وویل: احمده ! ته کېنه ! راسره راغلي ولاړل او زه له امام سره پاتې شوم. له امام مې یو لړ پوښتنې درلودلې، چې د ټولو ځوابونه یې راکړل. چې د شپې یوه برخه تېره شوه، غوښتل مې ولاړ شم، راته و یې ویل: ځې که پاتېږې؟ ورته مې وویل: څه چې تاسې وياست؛ که وياست

[1] طرايف الحكم، مېرزا احمد اشتياني

چې ولاړ شم؛ نو ولاړ به شم که ویاست، چې پاتې شئ؛ نو پاتې به شم. راته یې وویل: پاتې شه او دا دې هم د خوب ځای. بیا امام پاځېد، خپلې کوټې ته ولاړ او ما هم له لېوالتیا سجده وکړه او و مې ویل: خدایه ستا شکر! د پېغمبرانو د علومو وارث او امام په دې ټولو کسانو کې له ما سره دومره مینه لري؛ نو په سجده وم، چې احساس مې کړل، امام راغی. پاځېدم، امام زما لاس په خپلو مبارکو لاسونو کې ونیو، و یې ویل: احمده! امیرالمؤمنین علي د خپل یو یار "صعصعة بن صوحان" پوښتنې ته ولاړ او چې راستنېده، و یې ویل: صعصعة! داچې پوښتنې ته دې راغلی یم؛ نو له رونو دې ځان پورته و نه گڼې، زما پوښتنه دې ددې لامل نشي، چې ته ترې ځان غوره وگڼې، له الله تعالی ووېرېږه، تقوا جامه کړه، متواضع وسه، چې الله تعالی دې لوړمقامی کړي.))

امام په دې خبره خبرداری ورکوي، چې هېڅه د انسان د ځان جوړونې، د نفس د روزنې او نېکچاریو ځای نه نیسي-او انسان ته په کار نه دي، پر امتیازاتو غره شي، ان امام ته نږدوالی او له اړخه یې ځانگړې مینه یې هم، باید د انسان د غرور او پر نورو د ځان د غوره گڼلو لامل نشي.

# ټوکې

رسول الله له هومره دبدبې، شان او شوکت سره سره، تل موسکی او تندی یې ورین و، چې وحې ورته راتله او یا داچې د روژنې په حال کې به و؛ نو جدي به و؛ گنې په عادي ژوند کې یې له خپلو اصحابو سره ټوکې او ورسره یې بنډار کاوه.

امام صادق وپوښتل شو: ایا رسول الله ټوکې کولې؟ و یې ویل: الله تعالی، حضرت محمد پر "ستر خُلق" ستایلی و او الله تعالی چې څومره پیغمبران هم رالیږلي ول؛ نو په ټولو کې یو څه تریخوالی و؛ خو د حضرت محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) تندی تل ورین و، تل موسکی و او له خپلو اصحابو سره یې ټوکې کولې، چې د هغه مبارک هیبت پرې کېنني او و کړای شي، رسول الله ته وگوري او خپلې غوښتنې او پوښتنې له رسول الله وکړي. رسول الله، که کوم صحابي غمجن ولید؛ نو په ټوکو یې خوشحالوه، ویل یې: هغه د الله تعالی دښمن دی، چې پر تریو تندي له خپلو مسلمانانو روږو سره مخېږي.[1]

[1] طبقات، ابن سعد

امام صادق خپلو يارانو ته وايي: ولې يو له بل سره ټوکې نه کوئ؟

د ښو اخلاقو خاوندان ټوکې کوي، په ټوکو کړاى شئ خپل مسلمان رور خو شحاله کړئ، رسول الله له خپلو يارانو سره ټوکې کولې، له دې لارې يې خو شحالول او د حضرت محمد (صلى الله عليه وآله وسلم) وينا ده: ((هغه مسلمان نه دى، چې ټوکې نه کوي.))

له ياده دې و نه وځي: سره له دې، چې رسول الله ټوکې کولې؛ خو په ټوکو کې يې، بې له حقه بل څه نه ويل.

امام رضا وايي: يو عربي د الله تعالى د استازي کتو ته ورغى، ډالۍ يې ورکړه، و يې ويل: زما د ډالۍ پيسې راکړه. رسول الله وخندل او چې غمجن به و، ويل يې: څومره به ښه شي، چې اوس هغه اعرابي راشي.

رسول الله سپکه ټوکه نه کوله او خپلو اصحابو ته يې هم ويل: ((سپکه ټوکه مه کوئ.)) هېڅکله يې اجازه نه ورکوله، چې پر حقايقو او جدي چارو ټوکې او ملنډې ووهل شي او په ټوکو کې يې سپکاوى وشي، چې دلته مونږ د الله تعالى د استازي يو څو ټوکو ته اشاره کړې ده:

((یوه ورځ یې د زړو ښځو په ډله کې وویل: هېڅ بوډۍ به جنت ته ولاړه نشي)) چې ټولې بوډۍ ګانې پر دې خبره خپه شوې. رسول الله(صلی الله علیه وآله وسلم) وویل: ((هغه پر دې مانا نه ده، چې تاسې څوک جنت ته نه پرېږدي؛ بلکې جنت تر ننووتو مخکې به بېرته ټولې ځوانانې شئ.))

یوه ورځ یې خپله ښۍ پښه رامخکې، و یې پوښتل: زما دا پښه څه ته ورته ده؟ په دې وخت کې یو د خندا لپاره څو تشبیه ګانې وکړې؛ خو د الله تعالی د استازي یوه هم خوښه نه شوه. وویل شول: رسول الله ! اوس په خپله ووایئ، چې پښه مو څه ته ورته ده؟ په دې وخت کې د الله تعالی استازی موسکی شو، و یې ویل: ((دا پښه مې دې بلې پښې ته ورته ده. ))

نبوي حدیث دی: (( تفریح او سرګرمي وکړئ؛ ځکه خوښ نه یم، په دین کې مو تاوتریخوالی ولیدل شي. ))

پاموړ خو داده، چې د الله تعالی د استازي ټوکې یوازې د یارانو د خندلو لپاره نه؛ بلکې له ټوکو یې د خپل یارانو د روزنې لپاره ګټه اخسته.

یوه ورځ یې حضرت انس بن مالک (رض) ته "دوه غوږی" ووایه، چې هم یې ټوکه ورسره کړې وي او هم یې پوه کړی

وي، چې خوله يوه؛ خو غوږونه دوه دي او بايد د انسان د حق اورېدل د خبرو په پرتله ډېره وي.
د الله تعالی د استازي دې خبرې ته خورا پام و، چې په ټوکه د دين او انسانانو سپکاوی ونشي.
د رسول الله له ټوکو څرګندېږي، چې هغه ټوکې په اسلامي آدابو کې شاملې دي چې:
۱_کنځلې او ناروا پکې نه وي.
۲_د نورو د سترګو د شلېدو لامل و نه ګرځي.
۳_کينه او دښمني جوړه نه کړي.
٤_ په ټوکه کې منځلاري پکار ده او ډېره ټوکه د انسان دبدبه له منځه وړي.
٤_ په ټوکو روزي لاس ته نه راوړل.

# مینه او درناوی

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) خپلو اصحابو سره دومره مینه کوله، چې که کوم یو یې درې ورځې و نه کوت، د هغه پوښتنه یې کوله، که پر سفر وتلی و، دعا یې ورته کوله او که په کور کې و او خبر به شو، چې ناجوړه دی؛ نو کتنې او پوښتنې ته یې ورتله.

رسول الله له خلکو سره دومره مینه کوله، چې ټولو داسې ویل: ((دا زموږ مهربان پلار دی.)) او په ستونزو او سختیو کې یې پناه ور وړه. د خلکو پام یې د هغوی تېروتنو ته کاوه او د هغوی پر دننیو ټپونو یې د مینې مرهم ایښووه؛ خو د چا نیمگړتیا یې نه بربنډوله او تل یې پر ورین تندي او د زړه له کومې په مینه له خلکو سره معاشرت کاوه او اصحابو ته یې ویل: ((یو د بل بدي راته مه ویاست؛ ځکه غواړم بې له کینې او په پاک زړه درسره مخ شم.))

چې څوک به ورکره ورغی، د دروناوي له لامله یې ورلاندې خپل څادر هواروه او یا داچې پر خپل تو شک یې کېناوه. هېڅکله یې پښې د اصحابو په مخ کې نه غځولې او چې مېلمانه نه ول پاڅېدلي، رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) نه

پاڅېده. چې له خلکو سره یو ځای کېده، تر هغه چې کېدل، د مینې له لامله ورسره همغږی و؛ یعنې که د آخرت په هکله به خبره وه، رسول الله هم د آخرت په باب خبرې کولې او که د نړۍ خبره به شوه؛ نو رسول الله هم د نړۍ خبره کوله. کله به د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) په مخ کې شعرونه ویل کېدل او یو د بل خبرې کېدې؛ خو رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) بیا هم هغوی نه منع کول؛ خو داچې خبره به حرامې ته شوه.

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) به په معاشرت کې له ډېر احتیاطه کار اخسته، چې د چا حق هم و نه لتاړل شي. په یوه جګړه کې پېغمبر (صلی الله علیه وآله وسلم) پر لمانځه و، چې څو کسان په مخ کې یې تېر شول، د یوې شېبې لپاره تم شول، له اصحابو یې د الله تعالی د استازي پوښتنه وکړه، ورته یې دعا وکړه، ښښنه یې وغوښته، چې د بیړې له لامله نشي کړای، رسول الله ته په تمه شي او خپل سلام یې پېغمبر (صلی الله علیه وآله وسلم) ته ورسوه او ولاړل. تر لمانځه روسته، رسول الله پر خپګان وویل: ډېره هېښنده ده! یوه ډله ستاسې مخې ته راځي، زما پوښتنه کوي، تاسې یې درناوي ته پا نه څېدئ، مېلمستیا مو

ترې و نه کړه او بیا یې د "جعفر طیار" خبره را واچوله، چې
څومره مېلمه پال و او د نورو درناوی یې کاوه.

## مدیریت(سمبالنه) او مشري

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د سمبالنې او مشرۍ لپاره ټولې لوړې ځانګړنې درلودې. د الهي ځواک په مرسته، د خپلې سترې وګړې او د هغه مقام په واسطه، چې په خلکو کې یې درلود، یو ستر پاڅون یې سمبال او رهبري کړ.

پر ټولو ګران و؛ دوست و دښمن دواړو یې پر رښتینولۍ منښته درلوده او په خپل رسالت کې یې د خلکو له دې ویسا هم ګټنه کوله او هغوی یې پوښتل:

(( که ووایم، چې ددې غره تر شا یوه ډله سواره دي، راسره یې منئ؟)) ټولو وویل: ((هو موږ یې درسره منو! تر اوسه لا چا له تاسې دروغ نه دي اورېدلي.))

د رسول الله (ص) د مشرۍ یوه بله ځانګړنه دا وه، چې د ځان لپاره پر هېڅ ډول ټولنیز امتیاز قایل نه و. یو صحابي وایي: ((له رسول الله سره یو بازار ته ولاړو، هلته یو هټیوال وپېژنده. د الله تعالی د استازي د لاسونو ښکلولو په موخه له ځایه راپاڅېد. رسول الله مبارک خپل لاس راکاږه، و یې ویل:

(( دا کار پارسیان د خپلو پاچایانو لپاره کوي، زه پاچا نه یم؛ بلکې ستاسې په څېر یو انسان یم. )) [1]

سره له دې چې د الله تعالی د استازي ځکم، بې څنډه پلي کېده او تل یې اصحابو ویل: ((داچې پر تا ایمان لرو، که حکم وکړئ؛ نو ځان به درته پر سیند هم لاهو کړو))؛ خو رسول الله هېڅکله د مستبدانو په څېر نه و. سره له دې چې د عصمت د مقام خاوند و او سلامشورې ته یې اړتیا نه درلوده؛ خو د قرآن پاک د وینا له مخې ((وشاورهم فی الامر)) یې په هغه چارو کې له اصحابو سره سلا مشوره کوله، چې په اړه یې وحې نه وه راغلې؛ لکه څنګه چې یې په "بدر" غزا کې، د غونډ د ځای د جوړولو په هکله، له یارانو سره سلامشوره وکړه. په "احزاب" او"تبوک" غزوو کې یې هم له یارانو سره سلا مشوره وکړه، د هغوی د نظر درناوی یې وکړ او له دې لارې یې د سلا مشورې غښتلی بنسټ کېښود، چې مشران ځان تر نورو پورته او مافوق و نه ګڼي، له خلکو سره سلا مشوره وکړي او د سلا مشورې په هکله یې ویل: (( تر اوسه لا څوک پر سلا مشوره بدمرغه شوی نه دی او د رای پر استبداد نه دی نېکمرغه شوی )) او په یو بل

[1] عوائد الایام، نراقي

ځای کې وایي: ((هر مهال مو چې چارې د نېکانو په لاس کې او لاسبري مو سخاوتمندان وي او چارې مو پر سلا مشوره سمبال شي؛ نو تر ځمکې لاندې درته د ځمکې مخ ښه دی (؛یعنې د ژوند وړتیا لرئ )؛ خو که چارواکي مو بد، شتمن مو کنجوس او په چارو کې مو مشوره ونشي؛ نو د ځمکې لاندې یې درته د ځمکې تر پاسه غوره ده. ))

د جماعت لمانځه او د جګړې د لیکو نظم ته یې خورا ارزښت ورکاوه؛ لکه څنګه چې یې د "بدر" غزا په هله ګوله کې، د سرتېرو لیکې برابرولې. پر چارو یې نظم او انضباط واکمن و. لارویانو ته یې هم په هر کار کې نظم په کار دی.

په مدینه کې یې ډول ډول تشکیلات جوړ کړل، چې هرې ډلې خپله ځانګړې دنده درلوده؛ ځینې د وحې کاتبان، ځینې مبلغان، ځینې د ځانګړیو او محرمانه لیکونو لیکوال، ځینو د خلکو معاملې او ژمنې ثبتولې او ځینو د مالیاتو د راټولولو او ثبتولو دنده پر غاړه درلوده او ځینو....

که رسول الله سلا ګڼله، چې ځینې چارې په پټه بڼه وشي، چې دښمن ترې خبر نشي، یارانو یې د مشرۍ ټول حکمونه پر سر سترګو بې ځنډه کول. د بېلګې په توګه: که حکم یې ورکړ، چې

چمتو شئ سبا زو؛ نو بې له دې، چې تر روستي مقصده خبر ووسي، سبا به ټول لاس پر سینه چمتو ولاړ وو او ډېر داسې راپیښېدل، چې مقصد ته ورسېدل؛ نو هله به له مقصده خبر شول او کله خو داسې هم کېدل، چې یوې ډلې ته یې حکم وکړ، چې پر پلاني لوري ولاړ شئ او د هغوی مشر ته یې یو لیک ورکاوه، چې پلانۍ سیمې ته ورسېدئ؛ نو لیک خلاص او پکې لیکل شوي حکمونه پلي کړئ او هغوی همدغسې کول او مقصد ته تر رسېدو مخکې خبر نه ول، چې کومې سیمې ته او د څه لپاره ځو او له دې لارې یې دښمن له خپلو موخو نه خبرېده او هغوی یې ګنګسول.

د الله تعالی د استازي د مشرۍ بله ځانګړنه دا وه، چې انساني ځواک ته د سازمان او تشکیلاتو بڼې ورکولو سره یې خورا مینه درلوده ، ویل یې: ((که درې کسان یو ځای پر سفر وځئ، یو مو هرومرو مشر وټاکئ. )) لنډه داچې پر رسالت ایمان، ښو اخلاقو، تواضع، دروند او ښه خوی، مړانې، متانت یا دروندوالي، پراخې سینې، سادګۍ، نظم او انضباط، پر وخت او ځای تشخیص، زړه ته د تردید لار نه ورکولو، وړاندوینې، د نیوکو پر وړاندې زغم او پراخې سینې، د انسانانو پېژندل او ورته د وړتیاوو مطابق دندې

ورکولو، په وګړیزو چارو کې نرمي او په آریزو چارو کې پرېکندتوب، لارویانو ته وګړه ورکول او ورسره سلا مشورې، د خپل ژوند د کچې، نه لوړولو، د عقلي، عاطفي او عملي وړتیاوو روزلو، له استبداده ډډې او له سازمان او تشکیلاتو سره مینه، هغه څه وو، چې له رسول الله یې بشپړ مشر او مدیر کړی و، چې تر اوسه یې لا بشر دویم نه دی لېدلی.
د مشرۍ په هکله یې دومره بس، هغه مهال چې نړۍ په ګډوډۍ کې وه او معنویاتو ته یې ارزښت نه ورکاوه، د ټولنیز عدالت پر بنسټ یې نظام جوړ کړ.

# د نیوکو پر وړاندې

سره له دې چې هغه مهال ټولو د الله تعالی د استازي پر عصمت او په ټولو چارو کې پر نه تېروتو بشپړ ایمان درلود او هېچا د الله تعالی د استازي یو کار هم د نیوکې وړ نه ګاڼه؛ خو په مشرۍ کې د رسول الله سیره داسې وه، چې په پراخه سینه او ورین تندي یې ټولو نیوکو ته غوږ نیوه او د هرې نیوکې په هکله یې شرح او معلومات ورکول.

رسول الله حضرت ابوذرغفاري (رض) ته وویل: ابوذره !ما ته نصیحت وکړه او ابوذر هم ورته د قرآن پاک شریف څو آیتونه وویل.

په "حنین" جګړه کې یې د مصلحت غوښتنې له لامله، د غنیمتونو یوه برخه نویو مسلمان شویو ته ځانګړې کړه، چې په دې وخت کې حضرت سعد بن عباده (رض)، انصارو او نورو مجاهدینو، چې له مخکښانو هم وو، نیوکه وکړه، چې ولې زموږ په پرتله وړتیا ورکړ شوه؟ رسول الله وویل: ټول نیوکه کوونکي دې په یو ځای کې راټول شي. بیا یې په خوږه پسته ژبه، ټول ددې کار پر لامل پوه کړل، چې تر غونډې روسته، هېچا نیوکه نه درلوده؛ ټول پښېمانه او له رسول الله یې بښنه وغوښته.

نبـوي حـديث دی: ((چـې کـوم چـارواکي د عـدل د قـانون پرخلاف کار وکړ، نیوکه پرې وکړئ.))

یوه ورځ رسول الله یو لښکر ته پوځي دنده ورکړه او له انصـارو یې یو ورمشر کړ. په لار کې دا مشر د یوې خبرې له لامله غوسه شو، حکم یې وکړ، چـې ډېـر خـس راټـول کـړئ، سـتر اور بل کړئ، چې اور پر لمبو شو، و یې ویل: ایا رسول الله حکـم نـه و کړی، چې زما حکم به منئ؟ ټولو وویل: هو همداسې ده. و یـې ویل: حکم کوم، چې په دې اور کې ځـان وسـوځوئ. چـا یـې خبره و نه منله. چې د الله تعالی استازی له دې خبرې خبر شو، و یې ویل: ((که د هغه د حکم لاروي مو کـړې وای؛ نـو د تـل لپـاره به پـه اور کـې وئ، لاروي هغـه مهـال پـه کـار ده، چـې چارواکی د قانون په چوکاټ کې حکم ورکړي.))

په جګړو کې له سرتېرو سره یو ځای و، په سرتېرو کې نه پېژندل کېده او سره لـه دې، چـې تـر هجرت روسـته، دنننـي او بهـرني دښمنانو هومره خنډونه په مخ کې کېښوول؛ خو د اسلام معارف یې له هومره پراخوالي سره، خلکو ته ورسول او ۸۰ جګـړې یـې د اسلام له دښمنانو سره وکړې؛ خـو سره لـه دې ټولـو جګـړو او

کړاوونو، هېڅکله نهيلی او ناغېړی نه شو او نه پر شا ولاړ. پوټی يې هم د زړه لورنه کمه نه شوه.

په مدينه کې يې د عمر په پای کې هومره پراخه سينه او حوصله درلوده؛ لکه څومره يې، چې په مکه کې د رسالت په پيل کې درلوده. په مشرۍ کې يې چا د زور خبره نه شوه کړای او ټول د قانون پر وړاندې يو شان او دنده يې درلوده، چې د قانون له مخې چلن وکړي.

# ورزش

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د فاطمې بي بي کور ته ولاړ، "حسن" او "حسین" ته يې وويل: ((يو له بل سره غېږ ونيسئ)) او دواړه يې دې کار ته هڅول.[1]

پېغمبراکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) د اسونو د منډې سيالي جوړه کړه، چې پيل او پای يې جومات و او لومبي، دويم او درېيم تن ته يې د کجورې ونه انعام ورکړه.[2]

بايد دې خبرې ته مو پام وي، چې رسول الله مبارک په دې سيالۍ کې درې آرونه پلي کړل، چې د نن په ورزشونو کې غفلت ترې کيږي:

۱ـ د سيالۍ ډول: پاک نبي د اسونو سورلي سيالي کړه، چې هم ورزش او هم هغه مهال په جګړه کې په کار راتلای شول؛ خو نننۍ وارداتي ورزشونه، که څه ساعت تېري او تفريح ده؛ خو هيڅکله د هېواد د راتلونکي او يا په دفاع کې ونډه نه لري.

---

[1] علل الشرايع، شيخ صدوق

[2] فروغ ابديت، شيخ جعفر سبحاني

۲_د سیالی پیل او پای یې جومات کړ. کېدای شي، پردې مانا وي، چې ټول حرکتونه باید الهي اړخ ولري او پر هغه لوري وي.
۳_د نن په سیالیو کې مصرفي او سینګاري څیزونه انعام ورکول کېږي؛ خو رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د کجورې ونه (چې مېوه ورکوي ) انعام وټاکله، چې درلودل یې د بزګرۍ لامل ګرځي او په غېر مستقیمه توګه خلک بزګرۍ ته هڅوي.

# جګړه

مړانه، غښتلتیا او زړورتوب، چې پر الله تعالی د ایمان پایله وه، له وړوکتوبه، د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) په وینا او کړنو کې نغښتې وه.

پاک نبي درې کلن و، حلیمې بي بي ته یې وویل: مور جانې! د ورځې مې رونه چېرې ځي؟ و یې ویل: بېدیا ته ګډې د څر لپاره وړي. پاک نبي هم وغوښتل، سبا ورسره ولاړ شي.

چې سبا شو حلیمې بي بي پاک ووینځه، وېښتان یې ورته غوړ او رانجه یې ورته په سترګو کړل او د ساتنې لپاره یې یو یماني کاڼی په غاړه کې واچو. کو شني محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) هغه له غاړې راوایست، بي بي ته یې وویل: ((الله تعالی مې تل راسره او تر ټولو ستر او ښه ساتونکی دی. ))

پینځلس کلن و، چې په "حرب" نومي جګړه کې یې ګډون وکړ، چې د "قریشو" او د "هوازن" د ټبرونو ترمنځ وه.

تر رسالت روسته هم په جګړو کې تر ټولو مخکښ و، د جګړې جامې یې پر تن وې او تر ټولو زړور و. په دې هکله حضرت علي (کرم الله وجهه) وایي: چې په جګړه کې به راباندې سخته

شوه، رسول الله ته مو پناه وړه، هغه تل په ړومبۍ ليکه کې و، دښمن ته تر ټولو ورنږدې و.
او په بل ځای کې وايي: په "بدر" غزا کې، موږ رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) ته پناه يووړه، چې تر ټولو دښمن ته ورنږدې و.
په "احد" غزا کې يې غاښ شهيد، ډول ډول بريدونه پرې وشول؛ خو د يوې شېبې لپاره يې هم له جګړې لاس وانخست او سره له دې چې ډېرو نږدې يارانو يې له جګړې پښې سپکې کړې وې؛ خو رسول الله مبارک په مړانه وجنګېد او ټول يې پر شا وتمبول.

## انساني اصول

ان په جګړو کې يې هم د دښمنانو په اړه انساني اصول له ياده نه ايستل او چې د اسلام لښکر به تګ ته چمتو شو، ټول يې راټولول، ورته يې ويل: (( ولاړ شئ، د الله تعالی په نامه او د الله تعالی په لار کې د خپل پيغمبرد امت لپاره جهاد وکړئ، مکر و نه کړئ، غنيمتونه مه پټوئ او کفار تر وژلو روسته مه مثله (غړي ترې مه غوڅوئ) کوئ او ماشومان، ښځې او بوډاګان مه وژنئ او هغه مسافر او وګړي مه وژنئ، چې په غرونو کې وسيږي،

حلال ښاروي مه وژنئ؛ خو داچې د خوړو اړتیا یې وي، هېڅکله د کفارو د ښښلو په اوبو کې زهر مه اچوئ، بوټو، ونو او د کښت پټي مه خرابوئ او هېڅکله ښځو ته اور مه اچوئ. ډېر خوښ یم، د راستنېدو پرمهال داسې کسان درسره وي، چې اسلام یې منلی وي او داسې ما شومان او ښځې چې پلرونه او مېړونه مو ورته وژلي وي.))

یوه ورځ یې یوه ډله بندیان د الله تعالی د استازي په مخ کې تېرول، چې د هغوی پر لیدو یې پر شونډو موسکا راغله. بندیانو وویل: حق لرئ، چې پر موږ بېوسو بندیانو وخاندئ! رسول الله په ځواب کې وویل: ((حیران یم هغه ډلې ته چې په زنځیرونو جنت ته کاږل کېږي؛ یعنې یوه شئ چې د ملنډو له لامله پر تاسې نه خاندم او خندا مې له دې لپاره ده، چې زه مو جنت ته بوځم او تاسې یې نه منئ.))

## په غونډو او ټولنو کې ګډون

حضرت امام حسین وایي: له پلاره مې د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) په غونډو کې د ګډون د سیرت په هکله وپوښتل، و یې ویل: ناسته او پاسته یې دالله تعالی په نامه وه. په

غونډو کې يې د ناستې لپاره ځانګړی ځای نه ټاکه، چې له نورو د ځان غوره ګڼلو نښه شي او ټول يې له دې کاره ژغورل او چې کومې غونډې تـه بـه ولاړ؛ نـو کـوم ځـای، چـې تـش و، همـلـته کېناسته او يارنو ته يې سپارښتنه کوله، چې داسې وکړئ.
د چا په خبره کې يې نه رادانګـل او پـه غونـډه کـې يـې لـه هـر ګډونوال سره د هغوی د فکر او شان له مخې بنډار کاوه؛ که ډله به پر خندا شوه؛ نو پاک نبي به هم موسکی شو او که حـيران بـه شول؛ نو رسول الله هم حيرانتيا څرګندوله.
د خلکو اړتياوې يې پوره کولې، په غونډو کې يې له خلکو سره خبرې اترې کولې، چوپ يا ګونګی نه پاتېده او په هغوی يې په ځـان سـمونې کـې مرسـته کولـه، د هغـوی د ژونـد، کارو بار او روزګار په هکله يې پوښتل. خلک يې د دين له ښوونو سره اشنا کول او په دې هکله، چې يې څه ويل، سپارښتنه يې کوله، چـې په غونډه کې ناست کسان دې، غايبين هم خبر کړي.
تل يې سپارښتنه وه: ((هغه بېوزله، چې اړتياوې لري؛ خـو مـا تـه نشي رارسېدای، که له اړتياوو يې خبر ياست، راته يې ووايئ، په دې کار کـې سـت مـه کـوئ؛ ځکـه چـاچې د کـوم اړمـن اړتيـا

چارواکي ته ورسوله او د هغه د ستونزې د حل لپاره يې هڅې وکړې، الله تعالی به يې د قيامت پر ورځ پښه ښويه نه کړي. ))

د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) په مخ کې چا خپل غبږ نه شو جيګولای او د چا حرمت او درناوی له منځه نه تله او که څوک تېروته، تېروتنه يې په بل ځای کې نه ويل کېده؛ ځکه رسول الله ويل: ((په غونډه کې ناست کسان يو د بل امانت ساتي دي او روا نه ده، څوک د خپل ملګري خواله بربنډه کړي.))

رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) حضرت ابوذر غفاري ته وويل: ((غونډې امانت او د رونو راز بربنډول خيانت دی؛ نو له دې کاره ځان وژغوره. ))

البته رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) د درېيو غونډو د راز بربنډول نه يوازې نه دی منع کړی؛ بلکې بربنډول يې د ټولو دنده ګڼلې ده:

۱_ هغه غونډه، چې د بې ګناه وينه پکې تويې شي.

۲_هغه غونډه، چې د بې ګناه وينه پکې تويه او حلاله وګڼل شي.

۳_هغه غونډه، چې د بل مال پکې حلال وشمېرل شي.

د رسول الله غونډې داسې وې، چې هر چا پکې ګډون کړای شو او کورونو يې ساتندويان هم نه درلودل؛ خو هغوی يې هم نه خوښول، چې وخت ناوخته، بې له کوم اړين چار راتلل؛ لکه چې يو ورځ يې همداسې يو کس ته وويل: ((هره ورځ مه راځه، چې په منځ کې مو مينه همداسې زياته پاتې شي.))[1]

د مجلس ادب او انضباط يې خورا خوښ او په دې هکله يې تل سپارښتنې کولې؛ لکه: يوه ورځ جومات ته راغی، و يې ليدل، چې ټول په جومات کې، ډلې ډلې او يو له بله جلا ناست دي، و يې ويل: ((ولې داسې خواره واره ناست ياست، راټول او يوځای شئ، د الله تعالی مرسته له ټولنې او غونډې سره ده. ))

په غونډو کې ترې ټول راټولېدل او څوک چې راننووته او کوم ځای چې تش و، هملته کېناسته.

ټول اصحاب يې پر وړاندې متواضع وو. چې رسول الله خبرې کولې، هغوی چوپ وو، د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) په مخ کې سره نه نښتل او نانډرۍ يې نه کولې.

[1] کيمای سعادت، امام محمد غزالي

## لاربنوونه

آنحضرت (صلی الله علیه وآله وسلم) چې د الله تعالی له لوري پېغمبر شو او د "و انذر عشیرتک الاقربین" حکم راغی؛ نو متهې یې بډ وهلې او ړومبی یې د کو شني "علي" په مرسته خپلو خپلوانو ته مېلمستیا وکړه، چې پینځه څلوېښت تنه "بني ها شم" یې ګډنوال وو؛ خو سره له دې، چې د "ابولهب" چټیاتو، د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د موخو د بیانولو مخه ونیوه؛ خو د الله تعالی استازی، بیا هم په کلار نه شو او سبا یې بیا مېلمستیا وکړه او الهي پېغام یې ور ورساوه.

درې کاله یې په پټه خلک اسلام ته رابلل او په درېیو کلونو کې یې له خلکو سره خپلې اړیکې نیوې او دین ته یې راوبلل، چې د ښکاره بلنې حکم وشو او په ښکاره یې خلک اسلام ته رابلل پیل کړل او له همدې ځایه ول، چې ګواښونه او کړاوونه پیل شول او روسته تردې چې د "صفا" پر غونډۍ، د الله تعالی د استازي ویناوې پای ته ورسېدې، د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) تره وویل: مړ شې! همدې خبرو ته دې دلته راټول کړي وو؟

او ځومره، چې د اسلام د لمر وړانگې خورېدې؛ نو هومره د "قريشو" دښمنۍ ورسره ډېرېدې، ويل يې چې (نعوذ با الله) دا سړی پالي او کوډگر دی. په کورنيو کې د اولاد او موروپلار ترمنځ درز اچوي او ځينو ويل: لېونی دی او د اوښ د لري مرداري، خاورې او ايرې يې پر مخ ورو شيندلې؛ خو دې ټولو کړاوونو ته يې سينه پراخه کړې وه او دې ټولو سختيو يې پوټی هم چرت خراب نه کړ او خپلې الهي دندې ته يې دوام ورکړ. دومره يې د خلکو له لارښوونې سره مينه درلوده، چې نږدې ول، په دې مينه کې، ځان له منځه يوسي، چې الله تعالی ورته پيغام راولېږه:

((**فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَى آثَارِهِم إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهذَا الْحَدِيثِ أَسَفاً**[1]= او که په دې خبره ( = قرآن) ايمان را نه وړي؛ نو ښايي ته د هغوی د کړنو له لامله ځان له غمه مړ کړې. ))[2]

حضرت علي د الله تعالی د استازي د تبليغ په هکله وايي: ((پيغمبر (صلی الله عليه وآله وسلم) گرځنده طبيب و، چې له خپل طب سره په خلکو کې گرځېده او په هر ځای کې، چې په

---

[1] (کهف/٦)

[2] کحل البصر،حاج شيخ عباس قمي

کار وو، پر خلکو يې مرهم لګول او پر ځينو ټپونو يې تاوده شوي اوزار هم ايښوول او دې مانيز طبيب، غافل، ناپوهه او سرګردانه زړونه درملول. ))

استاد مطهري د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) په باب د حضرت علي (کرم الله وجهه) ددې تعبير په هکله وايي: (( دا چې هغه مبارک يې له طبيب سره ورته کړی، غواړي ووايي: د رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) کړنلار، د طبيب کړنلار وه. د طبيبانو يوه ځانګړنه پر رنځورانو لورنه ده او بيا وايي؛ خو طبيبان يو له بل سره توپير لري:

۱_ هغه طبيب، چې ثابت کتنځی لري، هر څوک چې ورځي، ورته وايي:درملنه مې وکړئ. طبيب نسخه ورکوي او که څوک ورنغی، طبيب هم کار ورسره نه لري.

۲_ګرځنده طبيب يوازې پردې خوښ نه دی، چې رنځوران ورشي؛ بلکې هغه په خپله هم په رنځورانو پسې ځي او حضرت علي هم وايي چې رسول الله (صلی الله عليه وآله وسلم) همداسې طبيب و، په خپله په معنوي او اخلاقي رنځورانو پسې تله او دا يې د ټول ژوند دنده وه.[۱]

---

[۱] کشف الريبه عن احکام الغيبه،شهيد ثاني

د رسول الله مبارک سیره داسې وه، چې ښیون ته په چمتو زړونو پسې و او چې په مکه کې قریشو ورسره هغسې بد وکړل؛ نو"طایف" ته یې سفر وکړ؛ خو هغوی هم هماغه وکړل، چې قریشو ورسره کړي وو؛ د هغه ټبر شتمنو،کوڅه ډب وګړي، رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ته وپړسول او آنحضرت (صلی الله علیه وآله وسلم) یې د ډبرو تر باران لاندې کړ او ټول مبارک بدن یې ورته ټپي کړ؛ خو یوازې د "عداس بن ربیعه" په نامه یو مسیحي مریی و، چې د عظمتونو کان یې کشف کړ.

د حج موسم به چې را و رسېد؛ نو عرب په بېلابېلو سیمو؛ "عکاظ"، "مجنه" او "ذی المجاز" کې راټولېدل او شاعران او ویناوال به په هر ځای کې ناست وو او بنډار یې کاوه؛ نو داچې حج په حرامو میاشتو کې کېده او د الله تعالی استازی د کافرانو له تېري خوندي و؛ نو له دې فرصته یې ګټنه کوله او پر یو لوړ ځای به کېناسته، خلکو ته یې لاربښوونه کوله، ویل یې: ((د الله تعالی پر یووالي منښته وکړئ، چې نېکمرغه شئ او د ایمان په ځواک سره کړای شئ، د نړۍ واک او ټول خلک تر خپلې واکمنۍ لاندې کړئ او په آخرت کې به مو ځای جنت وي.))

د عربو له مشرانو او سپینږیرو سره یې کتل، کور ته یې تله او د خپل دین پر حقیقت یې پوهول؛ خو "ابولهب" هم غلی او په کلاښ نه کېناسته، خلکو ته یې ویل: ((خلکو! پر خبرو مه تېروځئ! خبرې یې بې بنسټه دي؛ ځکه هغه مو د پلار نیکه د دین دښمن دی.)) د "ابولهب" زهرجنو تبلیغاتو د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د تبلیغ د اغېز کچه را ټیټوله؛ ځکه د عربو مشرانو ویل: ((که د محمد دین پر سمه او حقه وي؛ نو خپلوانو یې ورسره مخالفت نه کاوه.))

پر رسالت د آنحضرت (صلی الله علیه وآله وسلم) ایمان تردې خورا ډېر او غښتلی و، چې داسې کسان او تبلیغات یې نهیلی کړي او په ډول ډول نورو لارو یې خلک دین ته رابلل.

## د تبلیغ څرنګوالی

د تبلیغ د څرنګوالي بیان څه اسان چار نه دی؛ ځکه هغه بشپړ انسان و او په تبلیغ کې یې ټولو اړخونو ته پام و، چې موږ یې دلته د تبلیغ څو ځانګړنو ته اشاره کړې ده:

**۱_په نېکو اخلاقو او ښه خوی اسلام ته رابلنه:**

په تبلیغ کې د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) تر ټولو ستره وسله، ښه خوی او ورین تندی و، چې له دې لارې یې د ټولو پر زړونو واکمني کوله. په دې هکله قرآن کریم وایي:

**((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ**[1]= خلکو ته د الهي رحمت (په برکت)؛ نرم (او مهربان) شوی یې او که توند خویه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خورېدل نو ترې تېر شه، ببښنه ورته وغواړه او په چارو کې مشوره ورسره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (؛ نو پرېکنده وسه او) پر الله تعالی توکل وکړه؛ ځکه بروسګر دالله تعالی خو ښېږي.))[2]

که ووایو چې د هغه مبارک تبلیغ عملي اړخ درلود؛ نو بې ځایه به مو نه وي ویلي؛ ځکه د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) اخلاق او کړنلار وه، چې تر وینا مخکې یې ټول زړونه رامات کړي وو. د زړه یې په خوله او څه یې، چې په خوله وو؛ نو هغسې یې کول او ویلي یې وو: ((خلقه قرآن))؛ یعنې خلق او

[1] (آل عمران/۱۵۹)

[2] ګناهان کبیره، ایت الله شهید دستغیب شیرازي

خوی يې قرآني بڼه درلوده او د قرآن پاک د تعبير له مخې، هغه "شاهد"؛ يعنې هر اړخيزه بېلګه وه.
رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم)، چې ځوک هم تبليغ تـه لېږل، سپارښتنه يې ورته کوله: ((په نرمه او پسته خلک اسلام تـه راوبلئ او داسې څه و نه کړئ يا داسې څه و نه وياسـت، چـې د خلکو زړه له دينه تور کړئ )) او چـې حضرت معـاذ بن جبـل (رض) يـې "يمـن" تـه لېـږه، و يـې ويـل: (( د کـار بنسـټ دې "تبشير" او "ترغيب" کړه، پر خلکو سختي و نه کړې او و ګوزاره ورسره وکړه.)) په بل ځای کې وايي: ((الله تعالی راته لـه خلکـو سره د ګوزارې شريعت راکړی دی. ))

**۲_ د خلکو له ښيون او لارښوونې سره مينه:**

رسول الله د خلکو له ښـيون سره خـورا مينـه درلـوده او لـه دې کاره ډېر خوښ و. قـرآن شريـف يـې ددې ځـانګړنې پـه هکلـه وايي:
((**لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيـزٌ عَلَيْـهِ مَـاعَنِتُّمْ حَـرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ**[۱]= په رښتيا پخپله له همدا تاسې يو استازی درغلی، چې ځورونې مو پـرې سـختې پرېـوځي (او)

[۱] (توبه/۱۲۸)

پر لارښووني مـو ټينګـارکوي، پـر مؤمنـانو خواخـوږی (او) زړه سواندی دی. ))[1]

**۳_ څوک يې په ډب ادب نه کړل:**

د قرآن شريف له مخې؛ کړنلار يـې د "بلاغ مبـين" کـړنلار وه؛ يعنې په روښانه يې الهي پيغام خلکو ته وايه او هېڅکلـه يـې لـه "سوټې" کار وانخست او هېڅکلـه يـې ځـان د خلکـو وکيـل او واکمن و نه ګاڼه او هغه يې کول، چې الله تعالی ورته ويلي وو.

((**وَأَطِيعُوا اللّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَـاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلاَغُ الْمُبِينُ**[2]= د الله تعالی او پيغمبر اطاعت وکړئ او (د هغه د فرمان لـه مخالفـته) ووېرېـږئ او کـه مـخ مـو واړاوه (د جزا وړ به شئ او) پـوه شئ، چـې زمـوږ پـر پيغمـبر د ښکاره پيغام رسونې پازوالې ده (او دا دنده يې تاسې تـه پـای ته ورسوله) ))

[1] مکارم الاخلاق، ابونصر حسن بن فضل طبرسي

[2] ( مايده/۹۲)

((**وَلَمَن صَبرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُـورِ**[1] = او څوك چې زغم او ښښنه وکړي (د ټينګې ارادې خاوند دی؛ ځکه) چې دا په چارو کې (د هغه) له ټينګ هوډه (را ولاړ شوی) دی.))[2]

**٤_ انذار:**

يعنې له نږدې راپېښېدوني خطره، د خلکـو خـبرول؛ يعنـې هغـه غافل ته خبرداری ورکول، چې خطر ورته پټ دی. په دې هکله قرآن وايي:

((**أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لاَ يُفْتَنُونَ**[3] = ايا خلکو ګومان کړی، همداچې ووايي: ((موږ ايمان راوړی)) پرې به ښوول شي او و به و نه ازمېيل شي؟))

((**إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ**[4] = ته يوازې(يو) خبروونکی يې (کـه ايمـان يې را نه وړ، مه خپه کېږه؛ خپله دنده ترسره کړه). ))

((**قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنمَّا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ**= ووايه: (( خلکو! زه خو درته يوازې ښکاره خبروونکی يم.[5]))

---

[1] (شوری/۴۳)

[2] المحجه البيضاء فی التهذيب الاحياء،ملا محسن فيض کاشانی

[3] (عنکبوت/۲)

[4] ( فاطر/۲۳)

[5] ( حج/۴۹)

((**إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ**[1]=زه یوازې یو څرګند وېروونکی یم.))

((**قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ أَن تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَى وَفُرَادَى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِكُم مِن جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ**[2]=ووایه: (( زه درته یوازې د یوې خبرې نصیحت کوم او هغه داچې: تاسې د الله تعالی لپاره دوه دوه یا یو یو راپاڅئ بیا غور او فکر وکړئ، دا ستاسې ملګری [=محمد] هېڅ ډول لېونتوب نه لري، هغه خو تاسې ته د سخت (الهي) عذاب تر راتګ مخکې یوازې یو وېروونکی دی.))[3]

**۵_ خبره یې د منطق، دلیل او حکمت پر بنسټ وه:**

د قرآن شریف د وینا له مخې، خبره یې د منطق، دلیل او حکمت پر بنسټ وه:

((**ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ**[4]= د خپل پالونکي لوري ته دې په حکمت او

---

[1] ( شعراء/۱۱۵)

[2] (سبا/۴٦)

[3] مناقب،ابن شهر اشوب

[4] (نحل/۱۲۵)

غوره نصیحت بلنه ورکړه او پـه غـوره چلـن، اسـتدلال او بحـث ورسره وکړه، ستا پالونکی تر هر چا ډېر ښه پوهېږي، چې څوك د هغه له لارې اوښتي او (همداراز ) پـوهېږي، څـوك پـر سـمه لار دي. ))[1]

د مخالفینو خبرو ته یې په حوصله او پراخه سینه غـوږ ایښـود او پـر منطـق، دلیـل او حکمـت، مینـه، محبـت او زړه سـوي یـې د پوښتنو او نیوکو ځواب ورکاه.

چې د نجران له مسیحیانو سره د رسول الله (صلی الله علیه وآلـه وسلم) مناظره یې ښکلې بېلگه ده او کیسه یې داسې وه:

رسول الله مبارک یې "اثقف" ته پـه یـو لیـک کـې د دیـن بلنـه ورکړه. د "نجران"خلکو تر سلا مشـورې روسـته، مـدینې تـه یـو پلاوی راواستاوه او له رسول الله یې خپلې پوښتنې داسې وکړې:

_ کوم دین ته مو رابلې؟

رسول الله: تاسې یو الله تعالی ته رابلم، چې شریک او ساری نه لري او داچې زه د الله تعالی استازی یم او "عیسی" د الله تعـالی بنده او مخلوق دی.

[1] محمد (صلی الله علیه وآله وسلم)خاتم پیامبران،جمعي از نویستدگان

ـ که رښتیا عیسی د الله تعالی بنده او مخلوق وي؛ نو پلار یې څوک دی؟

رسول الله: تاسې د حضرت "آدم"په هکله څه ګروهه لرئ؟ ایا حضرت آدم د الله تعالی بنده او مخلوق و که نه و؟

ـ هو د الله تعالی بنده او مخلوق و.

رسول الله: د حضرت آدم پلار څوک دی؟

مسیحیان حیران او چوپ شول، چې بیا رسول الله ورته د آل عمران د سورت ۵۹ م آیت ووایه.

((**إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِندَ اللّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ**[1]= الله تعالی ته ((د عیسی ـ )) ((مثال ))د آدم غوندې دی، چې الله تعالی هغه له خاورې پیداکړ او بیا یې وویل:(( چې شه))؛ نو بس(( وشو)) (نوځکه بې له پلار یې د مسیح زوکړه هېڅکله پر الوهیت دلیلېدای نشي. )

**٦ـ له خرافاتو سره مبارزه:**

رسول الله هېڅکله خرفاتو ته تندی ور نه کړ او که چا به د حضرت رسول د فضیلت په هکله هم کومه خرافه جوړه کړه، په کلکه یې مخالفت او مبارزه ورسره کوله، چې لاندې کیسه یې

---

[1] ( آل عمران/۵۹)

خبرې ګواه ده: د رسول الله اتلس میا شتینی زوی؛ "ا براهیم"، چې له دې نړۍ سترګې پټې کړې، پر هماغه ورځ، لمر هم تندر ونیو. خلکو داسې وویل: دا کار د الله تعالی د استازي د زوی د مړینې له لامله دی. دا خبره په خلکو کې ډنډوره شوه. سره له دې، چې دې کار په خلکو کې د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) شان او منزلت نور هم ډېراوه او په خکلو کې يې نور هم مطرحاوه او سره له دې، چې د الله تعالی استازی، د خپل زوی په وير کې غمجن و؛ خو له خرافاتو سره د مبارزې لپاره، جومات ته ولاړ، پر ممبر يې وويل: ((پوه شئ، چې لمر او سپوږمۍ د الله تعالی د ځواک نښې او د هغه ځانګړو طبيعي قوانينو په چوکاټ کې، په ځانګړي مدار کې چورلي، چې الله تعالی ورته ټاکلي او هېڅکله يې د چا د مړينې يا زوکړې له لامله تندر نه نيسي؛ بلکې په داسې وخت کې ستاسې دنده ده، چې لمونځ وکړئ. ))

**۷_ په زړه کې يې د الله تعالی وېرې، له نورو وېره له منځه وړې وه:**

له الله تعالی وېرېده او پر هېڅ ځواکمن يې چرت نه و خراب، شاه او ګدا دواړه يې يو ډول دين ته رابلل او لکه څنګه چې

تاریخ هم گواه دی، د خپل وخت واکمنان یې په لیکونو دین ته راوبلل. په دې هکله قرآن شریف وایي:

((**الَّذِینَ یُبَلِّغُونَ رِسَالاَتِ اللَّهِ وَیَخْشَوْنَهُ وَلاَ یَخْشَوْنَ أَحَداً إِلَّا اللَّهَ وَکَفَی بِاللَّهِ حَسِیباً**[1]=(مخکېني پېغمبران) هغوی وو، چې د الله تعالی پېغامونه یې رسول او (یوازې) له هغه وېرېدل او بې له خدایه له بل هېچا نه وېرېدل او همدا بس چې الله تعالی حسابگر (او د خلکو د کړنو بدله ورکوونکی)دی. )) [2]

پورتنی آیت د دین مبلغانو ته دوه شرطه بنستیز گڼي: لومړی داچې له الله تعالی ووېرېږي او دویم داچې بې له الله تعالی له بل چا و نه وېرېږي.

رسول الله مبارک تل په خپلو دعاوو کې له الله تعالی غوښتل، چې د تل لپاره یې په زړه کې د الله تعالی وېره وي، چې همدا وېره یې له گناهونو د ځان ژغورلو لامل شي.

**۸_ پراخه سینه او استقامت:**

په **۲۳** کلن تبلیغ کې، د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) پر دې ځانگړنه دوست او دښمن دواړه گواهان دي. ډېری

---

[1] (احزاب/۳۹)

[2] معاني الاخبار،شیخ صدوق

داسې راپېښ شوي، چې د پرمخ تګ ټولې لارې وتړل شوې؛ خو رسول الله مبارک هېڅکله نهیلی نـه شو او د هغـه مینـې او ایمان لـه کبلـه، چـې پـر خپـل رسـالت او پـالونکي یـې درلـود، هېڅکله یې د نهیلۍ او د سختیو غشیو، پر زړه اغېـز و نـه کـړ. د ذهن په کتاب کې یې د ماتې په نامه کوم لغت نه و او پـه پراخـه سینه او استقامت یې د رسالت دنده پر مـخ وړه، تـردې چـې پـه سختو کړکېچنو شرایطو کې یې له تصـوره بهـر لاس تـه راوړنـې درلودې او همدا ځانګړنه یې د پتمنو یارانو د زړه ځواک و، چې په مکه کې تر سوځنده لمر لاندې یې پر سـوځونکیو شګو پـر ټټرونو، ستر ستر ګټونه او ډبرې ځکه ایښوول او کړاونـه ورکـول کېدل، چې د محمد (صلی الله علیه وآلـه وسـلم) لـه دینـه لاس واخلي او یا داچې په ورمېږونو کې یـې پـړي اچـول کېـدل او د مکې په کوڅو کې راکښوول کېدل؛ خو بیا یې هم د زړه ځواک د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) اوچت مـورال و ، ویـل یې: ((اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد رسول الله. ))

یوه ورځ رسول الله حضرت عـمار، حضـرت یـاسر او حضـرت سمیه ولیدل، چې تـر کړاوونـو لانـدې زبېخـل شوي وو، و یـې

ویل: ((آل یاسر ! سینه مـو پراخـه کـړئ، چـې ځـای مـو جنـت دی.))

حضرت "خباب بن ارث" وایي: رسول الله ته پـه داسـې وخـت کې ورغلم، چې نور د قریشو کړاوونو پوزې ته را رسـولی وم، و مې ویل: رسول اللـه ! وخـت یـې نـه دی را رسـېدلای، چـې لـه خدایه راته د ژوند پراختیا وغـواړې؟ پـه دې وخـت کـې د اللـه تعالی استازی پاځېد، کېناسـت، لـه غوسـې سـور شو، راتـه یـې وویل: (( تر اوسـه لا د پخوانیـو مؤمنـانو حـال دربانـدې نـه دی راغلی؛ هغوی یې پر اوسپنو دومره وهل، چې هډوکي یـې مـات شول؛ پـه اره یـې څیـرې کـول؛ خـو لـه خپـل دینـه یـې لاس وانخست. په دې وخت کې رسـول اللـه قسـم وخـوړ، چـې اللـه تعالی به خپل دین بریالی کړي.

## ښوونه او روزنه

په ښوونه او روزنه کې يې تر ټولو ډېر، د زړه پاکوالي او صفا ته ارزښت ورکاوه او د هغه زړونو ځمکه يې د الهي ښوونو د کښت لپاره چمتو ګڼله، چې پاکي او د نفس تهذيب يې درلود او پر دې خبره يې په بېلابېلو ځايونو کې ټينګار کاوه، ويل يې: (( زما د لارښوونې او روزنې مثال هغه باران ته ورته دی، چې پر بېلابېلو سيمو ورېږي؛ ځينې ځمکې پاکې او چمتو وي، چې اوبه په ځان کې ساتي او ډول ډول کښتونه پکې کېږي؛ خو ځينې ځمکې کلکې وي، چې اوبه نه زغمي؛ بلکې او به دپاسه پرې ډنډېږي او خلک له هغو اوبو د خپلو پټيو د خړوبولو او يا څښاک لپاره ګټه اخلي؛ خو ځينې ځمکې وچې کلکې او شګلنې دي، چې نه په ځان کې اوبه ساتي او نه د کښت وړ دي، چې دا خبره د هغو په هکله ده، چې زما د لارښوونې تر ورښت لاندې دي، چې په ګټه اخستو کې سره توپير لري.[1]))

[1] ترجمه الميزان في تفسير القرآن، مرحوم علامه طبا طبايي

نبوي حديث دی: (( الله تعالی د وړ زړه د ليدو لېوال دی[1]))
ځکه د قرآني حکم په رڼا کې يې خلکو ته ويل: (( نفسونه مو له ځايی او غيرانساني غوښتنو پاک کړئ ))
او له نفس سره جهاد يې تر ټولو ستر جهاد اعلان کړ، د"تبوک" جگړه، چې تر ټولو سخته وه، تر راستنېدو روسته يې وويل: ((بختور دي هغوی چې اصغر جهاد يې وکړ او اوس ورته په کار دي، اکبر جهاد وکړي )) وپوښتل شو: اکبر (ستر) جهاد کوم دی؟
و يې ويل: له نفس سره جهاد.
رسول الله به په ښوونه او روزنه کې پر ځينو ځيزونو خورا ټينگار کاوه؛ لکه:

**۱_اخلاص:**

((**قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ**[2]=
ووايه: ((زما لمونځ او زما ټول عبادتونه او زما ژوند او مرگ دا ټول د الله تعالی لپاره دي، چې نړۍ پال دی. ))[3]

---

[1] مستدرک الوسایل، محدث نوري

[2] (انعام/١٦٢)

[3] معجم البلدان،بلاذري

يعني اخلاص يې د دين تر ټولو ستر رکن کړ، ويل يې: ((خلک به د خپلو نيتونو له مخې، د قيامت پر ورځ راپاڅي)) او بيا يې وويل: ((که څوک ددې لپاره پوهه کوي، چې له نورو پوهانو سره سيالي وکړي او يا داچې ځان تر نورو غوره وګڼي؛ نو ځای يې په دوزخ کې دی.))

**۲ـ علم او عمل:**

د علم او عمل پر يوځايوالي يې خورا ټينګار درلود او ددې دواړو بېلتون يې د فساد لامل ګاڼه.

حضرت علي (کرم الله وجهه) د الله تعالی د استازي د خولې وينا را اخلي، وايي: عالمان دوې ډلې دي: ((يوه هغه ډله، چې پر خپل علم عمل کوي، چې دا ډول عالمان، د قيامت پر ورځ له ناوړه پېښو په امان کې دي. بله ډله هغوی دي، چې پر علم عمل نه کوي، چې دا ډله تباه شوې ډله ده او دوی د قيامت پر ورځ داسې راپاڅي، چې د بدن روست بوی يې دوزخيان هم کړوي.))

د قيامت پر ورځ به هغه تر ټولو پښېمانه او عذاب يې سخت وي، چې خلک دين او الله تعالی ته رابلي او دا بلنه يې اغېزمنه هم وي او هغه څوک چې ددې انسان په واسطه ښيون شوی

وي، جنت ته ولاړ شي؛ خو پخپله ځکه دوزخ ته ځي، چې پر خپل شته علم، چې نورو ته يې هم ورښوولای، عمل نه وي کړی؛ ځکه له ځاني غوښتنو يې لاروي کړې او اوږدو هيلو يې له آخرت، معنوياتو او حق ته له رسېدو منع کړی دی.[1]

**۳_ملايمت او نرمي:**

د الله تعالی د استازي وينا ده: ((ښوونکی او روزنکی وسه؛ خو په ښوونه او روزنه کې پر چا سختي مه کوئ او د خلکو زړه له دينه مه توروئ. )) په بل ځای کې وايي: (( پر هغو لورين وسئ، چې يا ترې زده کړه کوئ او يا ورته ښوونه کوئ. ))

**٤_تواضع:**

په دې هکله مو په مخکې مخونو کې خبرې وکړې.

**٥_ ښوونه او روزنه په سهار کې پکار ده:**

نبوي حديث دی: (( سهار وختي مبارک او برکتي وخت دی.)) په بل ځای کې وايي: (( په سهار کې د پوهې په لټه کې شئ؛ ځکه له پالونکي مې غوښتي، امت ته مې په سهار کې برکت واچوې. ))

**٦_پوښتنه او ځواب:**

[1] معراج السعادة،ملا احمد نراقي

له قرآن پاک څخه په لاروی، رسول الله په پوښتنه او ځواب ټینګار او سپارښتنه کوله، ویل یې: ((علم زېرمه ده، چې کونجي یې پوښتنه ده، وپوښتئ، چې الله تعالی در و لورېږي، چې الله تعالی د علم په چارو کې څلورو کسانو ته ثواب ورکوي: پوښتونکي، ښوونکي، اورېدونکي او هغوی چې له دوی سره مینه کوي.))

نبوي حدیثونه دي: ((د ناپوهۍ درمل پوښتنه ده.))

((حسن السئوال نصف العلم.))

**۷_ لفظي شخړه یې نه کوله:**

یوه ډله پر یوه دیني مسله یو له بل سره پر لفظي شخړه بوخته وه، چې د الله تعالی استازی رانووت، چې دې کار یې غوسه کړ، و یې وویل: ((تر تاسې مخکې ملتونه د شخړو او دښمنیو له لامله تباه شول، له شخړو لاس واخلئ؛ ځکه د ایمان خاوند له چا سره شخړه نه کوي. شخړه مه کوئ، چې تاوان مو پکې دی، زه د قیامت پر ورځ د شخړه کوونکي شفاعت نه کوم، له خلکو سره لفظي شخړې مه کوئ؛ ځکه الله تعالی مې تر بوت نمانځنې روسته، له خلکو سره له شخړو ژغورلی یم.))

نبوي حـديث دی: درې ډلـې دي، چـې پـه کـوم ور يـې، چـې
خوښه وي، الله تعالی يې هم پر هماغه جنت ته ورننباسي:
١_ د چاچې اخلاق او کړه وړه نيک وي.
٢ _ هغه چې په پټه او ښکاره له الله تعالی وېرېږي.
٣_هغوی چې له شخړو ځان ژغوري که څه پر حقه وي.

## څوک د الله تعالی پر استازي ګران وو؟

و مو لیدل، چې رسول الله د ټولو درناوی کاوه او پر مقام او شتمنۍ یې چرت نه واهه؛ خو سره له دې، په غونډو، ناستو پاستو، راکړو ورکړ او د ښوونې او روزنې په ټولګیو کې پرې هغوی خورا ګران ول، چې تقوا یې د نورو په پرتله ډېره وه او همداسې خلکو ته یې د آل عمران سورت ٦٨ آیت وایه:

((**إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ**=ابراهیم ته ډېر نژدې (او منسوب) خلك هغه دي، چې د هغه لاروي یې کړې او (په هغه وخت کې یې لارویۍ ته پتمن وو، همداراز) دا پیغمبر او هغوی چې ایمان پرې راوړی دی (ابراهیم ته منسوب دي) او الله تعالی د مؤمنینو ولي (پالندوی) دی.

او همداراز هغوی هم پرې ګران وو، چې د خیر ښېګڼې کارونه یې کول او په ژوند کې یې عدالت پلي کاوه. په دې هکله حضرت علي (کرم الله وجهه) وایي: ((پیغمبرانو ته تر ټولو نږدې هغوی دي، چې د پیغمبرانو پر راوړیو علم او عمل ولري، بیا وایي: تر ټولو نږدې کس حضرت محمد ته هغه دی، چې له الله تعالی لاروي کوي، که څه نسب یې له پیغمبره لرې وي او

هغه ورته نږدې نه دی، چې د الله تعالی لاروی نه وي، که څه د الله تعالی د استازي نږدې خپلوان وي.

# د مؤمنينو حقوق

رسول الله مبارک وايي: [هر مؤمن پر بل مؤمن دېرش حقونه لري: ۱_ تېروتنې يې وبښي. ۲_ پر ژړا او زارۍ يې ولورېږي. ۳_ خوالې يې بربنډې نه کړي. ٤_ غلطۍ يې وبښي. ٥_ بښنه يې ومني. ٦_ په نشتون کې دفاع ترې وکړي او له غيبته يې مخنيوی وکړي. ۷_ تل يې خير او ښېګڼه غواړی وي. ۸_ ملګرتوب ورسره ټينګ وساتي. ۹_ د ژمنو درناوی يې وکړي. ۱۰_ که رنځور شي، پوښتنه يې وکړي. ۱۱_ په مړينه او وير کې يې ګډون وکړي. ۱۲_ بلنه يې ومني. ۱۳_ ډالۍ يې ومني. ١٤_ احسان او ډالۍ يې جبران کړي. ۱٥_ د نعمتونواو نېکيو ځواب يې ورکړي. ۱٦_ په نېکچاريو کې يې ملاتړ شي. ۱۷_ مېرمن يې وساتي. ۱۸_ اړتياوې يې پوره کړي. ۱۹_واسطه او منځګړتوب يې ومني. ۲۰_ د پرنجي پرمهال رحمت پرې ووايي. ۲۱_ ورک شوی ورته راپيدا کړي ۲۲_ د سلام ځواب يې ورکړي. ۲۳_په پسته او نېکو الفاظو ورسره وګړېږي. ۲٤_که نېکي او احسان يې ورسره کړی وي، وسره يې وکړي. ۲٥_ قسمونه يې تاييد کړي. ۲٦_ دوستي ورسره وکړي، نه دښمني ۲۷_ ملا تړ يې شي، که ظالم وي، که مظلوم؛ خو د ظلم پرمهال دې ملاتړي او مرسته

داسې وي، چې له ظلمه يې منع کړي او د مظلوميت پرمهال داسې، چې د خپل حق په اخستو کې مرسته ورسره وکړي. ۲۸ _ دښمن ته يې و نه سپاري او خوار يې نه کړي. ۲۹_ هره ښېگڼه، چې د ځان لپاره غواړي، د هغه لپاره يې هم وغواړي. ۳۰_ هره بدي، چې د ځان لپاره نه غواړي، د هغه لپاره يې هم ونه غواړي.]

نبوي حديث دی: (( مسلمان د مسلمان رور دی، دښمني ورسره نه کوي او کنځل ورته نه کوي. څوک چې د خپل مسلمان رور د ستونزې د هوارې لپاره هلې ځلې وکړي، الله تعالی به يې ستونزې هوارې کړي او څوک چې د مسلمان غم و خپگان، لرې کړي، الله تعالی يې د قيامت پر ورځ نه غمجنوي او څوک چې د بل مسلمان پر نيمگړتيا پرده واچوي، الله تعالی به يې د قيامت پر ورځ بې پردې نه کړي. ))

نبوي حديث دی: ((خلکو! دښمني مه کوئ، حسد او کينه مه کوئ، يو بل ته مه شا کوئ، يو د بل رونه شئ او هېڅ مسلمان نشي کړای، له بل مسلمانه تر دريو ورځو ډېر خپه شي. ))

## د رنځورانو پوښتنه

رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) د رنځورانو پوښتنې ته تلـه او ددې کار سپارښتنه يې هم کړې او د اسلام له نظره، د رنځـور پوښتنه پر مسلمان فرض ده او خورا ثواب لري؛ البته له يـاده مـو بايد و نه وځي، چې زموږ پوښتنه بايد د رنځور د استراحت لپاره خنډ نشي، دا کار دې په اخـلاص وکـړي او د رنځـور لپـاره يـو روحي يا جسمي کار وکړي؛ نه داچې يوازې مېلمه شي.

د رنځور د پوښتنې پرمهال لاندې خبرو ته پام پکار دی:

١_ که د لاسه يې کېږي، رنځور ته يو څه له ځـان سره يـوسي. د امام صادق يو يار وايي: زموږ يو ملګری رنځور شو، يوه ډله يې پوښتنې ته روانه شوه، چې په لار کې مو امام صادق وليد، و يـې پوښتل: چېرې روان ياست؟ و مو ويل: د يو ملګري پوښـتنې تـه روان يو. راته يې وويل: ايا مېوه يا کوم پاک شربت مـو لـه ځـان سره اخستی که نه؟ و مو ويل: نه ! راته يې وويل: نه پوهېږئ، که رنځور ته څه يوسئ، خوشحاله به شي.

٢_ له رنځور سره مينه، او له خدايه ورته د ببړنۍ روغتيا غوښـتل. چې د الله تعالی استازی، د حضرت سلمان پوښـتنې تـه ورغـی، رسول الله مبارک داسې دعا ورته وکړه: سلمانه ! اللـه تعـالی دې

ژر تر ژره ښه کړه، گناه دې وبښل شه او الله تعالی دې د عمر تر پايه، د دين او بدن روغتيا درکړي.
۳_ له رنځور ډېرې پوښتنې او خبرې ورسره نه کول، امام صـادق وايي: د رنځور په مخ کې ډېرې خبرې يـې تـر خپـل رنځـه ډېـر کړوي.
٤_ له رنځور سره لږ کېناستل؛ خو داچې رنځـور ټينگـار وکـړي، حضرت علي (کرم الله وجهه) وايي: تر ټولو سـتر ثـواب د هغـه دی، چې د رنځور د پوښتنې پرمهال له رنځور سره لږ پـاتې شي؛ خو داچې د رنځور غوښتنه او ټينگار وي.
٥_رنځور ته ډاډ ورکول. امام صادق وايي: د رنځور پوښـتنې تـه چې ورغلئ، د روغتيا د لاس ته راوړو ډاډ ورکړئ، چـې پـه دې کار به کم نشئ؛ خو د رنځور روحيه به غښتلې شي.
٦_ ژر ژر د رنځور پوښتنې ته مـه ځـئ، د اللـه تعـالی د اسـتازي وينا ده:
ژر ژر د رنځور پوښـتنې تـه مـه ځـئ (د مثـال پـه توگـه ) څلـور ورځې روسته ورشئ.

# د رنځور دندې

انسان چې رنځور شي، پر ځينو رنځوريو پـه ککړېـدو کـې، پـه خپله پړ وي او ځينې رنځورۍ يا د پېښو له لامله وي يا لـه نـورو ورغلې وي، چې پخپله يې په ککړېدو کې ګرم نه وي؛ نـو چـې انسان رنځور شو، يا دې په خپله او يا يې کـورنۍ د درملنـې غـم وخوري. انسان ته پکار دي، په رنځورۍ کې لاندې ټکيو ته پام وکړي:

۱ـ د الله تعالی پر رضا او الهـي تقـديراتو خوښـي او لـه خدايـه ګيلې نه کول.

رسول الله مبارک وايي: الله تعالی وايي: چې کوم مؤمن بنده مې رنځور او په بستره کې کړ او که څوک يې پوښتنې ته ورغلـل او پر سپکو سپورو او ګيلو يې لاس پورې نه کړ؛ نو غوښـه او وينـه به يې ښه او غوره کړم او که خوښـه مـې شوه؛ نـو سـاه بـه تـرې واخلم او خپل رحمت ته به يې را وبولم، که خوښه مې شوه؛ نو روغتيا به ورکړم او له ټولو ګناهونو به يې تېر شم. وپوښـتل شو: رسول الله ! غوره او ښـه غوښه؛ يعنې څه؟ رسول الله (صلی اللـه

علیه وآله وسلم) وویل: هغه وینه او غوښه چې پر ګناه ککړه نه وي.[1]

۲- صبر او پراخه سینه او د رنځورۍ له لامله چغې او سورې نه وهل. د پاک نبي وینا ده: لوی څښتن وایي: چې کوم بنده مې د مال، اولاد او بدن په ستونزه کې ښکېل کړ؛ نو که پراخه سینه او صبر زغم ولري؛ نو زه د قیامت پر ورځ حیا کوم او شرمېږم له دې، چې د حساب لپاره تله ورپسې راواخلم او حساب کتاب ورسره وکړم.

د امام صادق وینا ده: انسان له الله تعالی سره یو داسې مقام لري، چې پر عمل هغه مقام ته نه رسي؛ بلکې د مال، اولاد او بدن په ستونزو کې د زغم او صبر له لامله ور رسي.

۳_ پارېز کول: امام صادق وایي: ((پارېز د درملنو مور ده)) او بیا وایي: ((که خلک لږ وخوري، بدن به یې روغ وي.))

٤_ د بدن روغتیا، له الله تعالی غوښتل او د روغتیا د لاس ته راوړو لپاره صدقه ورکول.

[1] نهج الفصاخة، سخنان پیامبر اکرم (صلی الله علیه وآله وسلم)

۵_ له ځانه او ډېر درمل نه خوړل او هر یو درمل د ډاکټر د نسخې له مخې وخوري. رسول الله مبارک وايي: ((چې ګورئ، بدن مو د رنځ زغم لري، درمل مه کاروئ؛ خو که بدن مو زغم نه لري؛ نو هله درمل وخورئ. ))

امام صادق: مؤمن دې تر هغه درمل نه خوري، څو يې رنځ بدن نه وي لاندې کړی.

امام رضا وايي: داسې درمل به پیدا نه کړئ، چې عوارض و نه لري.

٦_ که عذر نه لرئ، مؤمنانو ته اجازه ورکړئ، چې پوښتنه مو وکړي؛ يعنې څنګه چې پر مسلمانانو فرض دي، د رنځور پوښتنه وکړي؛ رنځور ته هم پکار دي، مسلمانانو ته يې د پوښتنې اجازه ورکړي، هغوی ته ورين تندی ورکړي، دعا ورته وکړي او له هغوی هم دعا واخلي.

٧_توبه کول او له خپلې رنځورۍ عبرت اخستل؛ يعنې لبر دې سر په ګرېوان کې ښکته کړي، کېدای شي، د همدې رنځورۍ له لامله، ومري او د ګناهونو د جبران او د توبې وخت ګوتو ته را نه وړي او پرېکنده هوډ وکړي، چې د روغتيا تر لاس ته راوړو روسته ښه ښه کارونه وکړي.

امام صادق وايي: څومره بختور دی هغه چې (رنځ يې ددې لامل شي، چې د خپلو ګناهانو) تو به وکړي او څومره بدمرغه دی هغه چې د روغتيا تر لاس ته راوړو روسته بيا ګناهونو ته مخ کړي.
نبوي حديث دی: چې کوم مؤمن رنځور شي او بيا الله تعالى روغتيا ورکړي؛ نو رنځ يې د تېرو ګناهونو کفاره او د راتلونکي لپار موعظه ده؛ خو که کوم منافق رنځور شي، مثال يې هغه اوښ ته ورته دی، چې خاوند يې له پښو تړي او بيا يې خلاصوي؛ حال دا، اوښ نه پوهېږي، د څه لپاره تړل او بيا خلاص شوی دی.
۸_ که له پخوا يې وصيت نه وي کړی؛ نو ژر تر ژره دې وصيت وکړي، چې که چېرې د رنځورۍ له لامله ومري، چې د چا حق و نه لتاړل شي. انسان ته پکار ده، د خوب پرمهال، خپل وصيت تر سر لاندې کېږدي او سپارښته او خورا ټينګار شوی، چې رنځور دې هرومرو وصيت وکړي.
۹_ ځنګه چې ورته اساني وي، خپلې شرعي دندې ترسره کړي. د بېلګې په توګه: که اودس نشي کړای، "تيمم" دې وکړي او که پر ولاړه لمونځ نشي کړای، په ناسته دې لمونځ وکړي او....

## د ګاونډیانو حقوق

د الله تعالی د استازی د د ګاونډیانو په هکله وایي: ((په مینه او محبت ورسره تګ راتګ ولرئ))که پر سفر ووت، د کور او پاتې خلکو خیال یې وساتئ او په ناوړه پېښو کې یې ملاتړ شئ.))

نبوي حدیث: ((پر ګاونډي د ګاونډي حرمت د مور په څېر دی.))

(( پر قیامت او الله تعالی ایمان نه لري، هغه چې پخپله په موړ نس ویده شي او ګاونډی یې وږی تږی وي )).

د یادونې ده، چې له ګاونډیانو سره په مینه تګ راتګ او پورته سپارښتنې یوازې په مسلمانانو پورې ځانګړې نه وې، تردې چې وایي: (( له ګاونډیانو سره مو نېکي وکړئ ان که کافران وي. ))

په تبوک جګړه کې یې د ګاونډیانو د حقوقو په هکله وویل: ((چاچې خپل ګاونډی ځورولی وي، له موږ سره دې نه راځي.))

په اسلام کې ګاونډی یو لړ حقوق لري، چې ځینې یې دادي:

١ــ مسلمان باید پر گاونډویانو په سلام اچولو کې مخکښ وي او د سلام ځواب یې په ورین تندي ورکړي.
٢ــد ټولو ګاونډیانو د کورنۍ درناوی وکړي او دا درناوی په چلن کې هم څرګند کړي او مینه او محبت یې ورسره، ورځ تر بلې ډېره شي. رسول الله مبارک وایي: ((څوک چې پر الله تعالی او قیامت ایمان لري، باید د خپل ګاونډي درناوی وکړي.))
٣ــ مسلمان باید د خپل ګاونډي ناموس خپل ناموس وګڼي او په خیرنه سترګه ور و نه ګوري. یوه ورځ امام صادق ته وویل شول، پلانی وایي، چې ستا لاروی دی؛ خو د ګاونډي ناموس ته په خیرنه سترګه ګوري. امام وویل: هغه دروغ وایي، چې زموږ لاروی دی ! څوک چې زموږ لاروی وي، د خپل ګاونډي ناموس ته پر خیرنه سترګه نه ګوري.
٤ــ د ګاونډیانو کړنې تر څارنې لاندې و نه نیسي او په چار کې یې تجسس و نه کړي، چې دا ډېر کرکجن چار دی او په اسلام کې په کلکه ترې منع شوي یو. رسول الله مبارک وایي: ((ای یوازې پر خولو مؤمنانو! په خلکو پسې بد رد او غیبت مه کوئ او په نیمګړتیاوو کې یې تجسس مه کوئ او چاچې دا کار وکړ،

الله تعالی به يې په چارو کې تجسس وکړي او د چا په چار کې، چې الله تعالی تجسس وکړ؛ نو و به يې شرموي. ))
٥_ که د ګاونډي نيمګړتيا مو وليده، هڅه وکړئ، پرده پرې واچوئ او پوه شئ، د ښکلا او ښېګڼو څرګندول او پر بدو پرده اچول، الهي ځانګړنه ده او د بديو بربنډول شيطاني چار دی[١].
د پاک نبي وينا ده: (( چاچې د نورو پر نيمګړتياو پرده واچوله، الله تعالی به يې په قيامت کې بې پردې نه کړي. ))
٦_د ناودان په اوبو، د تشناب د او بو د نم، د تنور او بخارۍ د لوګي، د خوړو د بوی د ګاونډي د کور په مخ کې له لمره د مخ نيوو، پر ګډ دېوال د اغزي ايښوولو او د ګاونډي کور ته د ليدو او.. په واسطه بايد ګاونډی و نه ځورول شي او ورپسې له خبرو کنځلو او بدو ردو ځان وژغورو.
رسول الله مبارک ته وويل شو: پلانۍ ښځه لمونځ کوي او روژه نيسي؛ خو ګاونډيان ترې پوزې ته را رسېدلي دي. رسول الله وويل: (( ځای يې د دوزخ په اور کې دی )) او بيا يې وويل: ((ايمان يې نه دی راوړی، چې ګاونډې يې ترې تنګ وي )) او په بل ځای کې وايي: (( څوک چې ګاونډی وځوروي، الله

[١] نهج البلاغه،سخنان امام علي

تعالی به د جنت بوی پرې حرام کړي او دوزخي به یې کړي، چې دوزخ ډېر بد ځای دی. ))[1]

د پاک نبي وینا ده: ((یو پر بل دوه بریدګر ګاونډیان به د قیامت پر ورځ تر ټولو ړومبي محاکمه کېږي. ))

۷_ د ګاونډي په نشتون کې یې د کور او مال ساتنه وکړي.

۸_ پر هره شونې بڼه، چې وي، له ګاونډي سره مرسته وکړي (د بېلګې په توګه: که پور یې پکار وي، که لوښي یا نور څه یې پکار وي ) د رسول الله مبارک وینا ده: (( چاچې د اړتیا پرمهال خپل لوښي ګاونډي ته ور نه کړل؛ نو الله تعالی به د قیامت پر ورځ خپل خیر و نه کړي. ))[2]

البته له یاده مو ونه وځي، هغه ګاونډي ته خپل لوښي او نور څیزونه ورکول نه دي پکار، چې روغ یې وړي او مات یا خراب یې راستنوي.

امام صادق وپوښتل شو: ځینو ګاونډیانو ته مو لوښي ورکوو، چې په راستنېدو کې یا خراب یا مات وي؛ نو که بیا ورته خپل

---

[1] نورالثقلین، ابن جمعه حویزي

[2] وسایل، شیخ حر عاملي

لوښي ور نه کړو، گناه مو کړې ده؟ امام صادق وويل: داسې گاونډي ته لوښي ورکول نه دي پکار.

۹_ مسلمان ته پکار دي، د خپل گاونډي په غم او ښادۍ کې ځان شريک کړي. يوه ورځ رسول الله (صلى الله عليه وآله وسلم) خپل ياران وپوښتل: خبر ياست، د گاونډي حقوق څه دي؟ بيا يې وويل: د گاونډي حق دادى، چې که رنځور شو، پوښتنې ته يې ورشي او که مړ شو، په جنازه کې يې گډون وکړي او په غم او ښادۍ کې يې شريک شي.

حضرت علي وايي: ((رسول الله د گاونډي په هکله دومره سپارښتنې وکړې، چې گومان مو وکړ، گاونډي ته ارث هم رسي.))

## د رسول الله مبارک د ویناوو بېلګه

۱_ د آدم اولاد، چې څومره زړېږي؛ دوه ځانګړنې يې ځوانېږي: حرص او هیلې.
۲_زما د امت دوې ډلې که سمې شوې، امت به مې سم شي، که فاسد شول، امت به مې هم فاسد شي: عالمان او چارواکي.
۳_تاسې ټول يو د بل څارونکي او ساتونکي یاست.
٤_ ناشونې ده، ټول خلک، د مال په ورکړه له ځانه راضي کړو.
٥_ بېوزلي بلا ده، ترې بده جسمي رنځ دی او تردې خورا بد د زړه رنځ دی.
٦_مؤمن تل د حکمت په لټه کې دی.
۷_د پوهې له خوړېدو مخنیوی نشي کېدای.
۸_ د انسان زړه هغه بڼکې ته ورته دی، چې په بېدیا کې د ونې پر ښاخ راځوړنده وي، چې تل يې بادونه رپوي.
۹_مسلمان هغه دی، چې مسلمانان يې له لاس او خولې خوندي وي.
۱۰_د ښو چارو لارښوونه، له کولو سره يې مساوي ده.
۱۱_ تر هر خپګان روسته خوشحالي وي.

۱۲_جنت د ميندو تر پښو لاندې دی.
۱۳_پر ښځمنو له تېري له خدايه ووېرېږئ او ځومره مو چې له لاسه کېږي، نېکي ورسره وکړئ.
۱٤_پالونکی د ټولو يو دی، د ټولو پلار آدم او هغه له خاورې دی؛ خو په تاسې کې تر ټولو پر الله تعالی هغه گران دی، چې تقوا يې ډېره وي.
۱٥_ځېل مه کوئ، چې لامل يې ناپوهي او پايله يې پښېماني ده.
۱٦_بد انسان هغه دی، چې د خلکو تېروتنې نه ښي او تر هغه هم بد هغه دی، چې خلک يې له شره امان غواړي او نېکۍ ته يې هيلمن نه وي.
۱۷_ مه غوسه کېږه او که شوې، د الله تعالی ځواک راياد کړه.
۱۸_ که ستاينه دې وشوه؛ ووايه: خدايه ! تر هغې مې غوره کړې، چې گومان کېږي او هغه مې وبښې، چې ترې خبر نه دي او په هغه مې مه نيسه، چې وايي يې.
۱۹_د غوړه مالو پر مخ خاورې وشيندئ.
۲۰_که الله تعالی د چا خير وغواړي؛ نو نفس يې ورته ناصح او لارښود وي.

۲۱_سهار او ماښام له ځان سره د تېروتنو او ګناهونو حساب وکړئ.
۲۲_ "اماره نفس" مو تر ټولو ستر دښمن دی، چې په دواړو خواوو کې دې پروت دی.
۲۳_مېړنی هغه دی، چې پر خپل نفس لاسبر وي.
۲٤_پر خپل نفس لاسبري شئ، چې پر ځان واکمن شئ.
۲۵_بختور هغه دی، چې خپلو نیمګړتیاوو ته يې پام وي او د نورو له نیمګړتیاوو سترګې پټوي.
۲٦_رښتينولي زړه ډاډمنوي او دروغ او شک خپګان خنډي.
۲۷_مؤمن ژر انډيواليږي.
۲۸_د مؤمنانو مثال د غړي دی، چې که يو غړی نا ارمه او په رنځ کې وي؛ نو ټول ورسره په رنځ او خپګان کې وي.
۲۹_خلک د ګومنځې د غاښونو په څېر مساوي دي.
۳۰_پر مسلمان او مسلمانې د علم زده کړه فرض ده.
۳۱_ ناپوهي ستر فقر، عقل ستره شتمني او اندنه ستر عبادت دی.
۳۲_مؤمنان د يوې ودانۍ په څېر يو بل ساتي.
۳۳_له زوکړې تر مړينې په پوهې پسې شئ.

۳٤_علم زده کړئ، ان که په چین کې وي.
۳۵_د مؤمن شرافت، د شپې په پاځېدنه کې او عزت يې له نورو په بې اړۍ کې دی.
۳٦_پوهان د پوهې تږي دي.
۳۷_مینه به دې کونړ او ړوند کړي.
۳۸_د الله تعالی مرسته له ډلې سره وي.
۳۹_تقوا د زړه ټکور او د بدن هوساینه ده.
٤٠_چاچې څلوېښت ورځې د الله تعالی لپاره ژوند وکړ؛ نو په ژبه او زړه به يې د حکمت چينې جاري شي.
٤١_په کور کې، له کورنۍ سره پاتېدل، په جومات کې تر عبادته پر الله تعالی ګران دي.
٤٢_ تر ټولو ښه ملګری مو هغه دی، چې نیمګړتیاوې مو ووايي.
٤٣_پوهه مو ولیکئ.
٤٤_ زړه چې سم نه وي، ايمان به سم نه وي او چې ژبه سمه نشي؛ نو زړه به هم سم نشي.
٤٥_ د چا عقل مو، چې نه وي ازمېيلی، پر واقعي اسلام يې مه تېروځئ.

٤٦_ ښېګڼو ته د رسېدو لار عقل دی او چې عقل نه لري، دين هم نه لري.
٤٧_ د تباه کوونکي دښمن په پرتله، دين ته د ناپوهانو د ژبې تاوان ډېر دی.
٤٨_زما د امت هر هوښيار ته لاندې چارې پکار دي: پوهې ته غوږ، په ماغزو کې يې ساتل، خورول او عمل پرې کول.
٤٩_مؤمن له يوه سوري دوه ځل نه چيچل کېږي.
٥٠_زه مې د خپل امت له بې تدبيرۍ وېرېږم؛ نه له فقره.
٥١_الله تعالی ښکلی دی او ښکلا يې خوښه ده.
٥٢_ کسبګر پر الله تعالی ګران دی.
٥٣_غوږه مالي د مؤمن چار نه دی.
٥٤_مېړنتوب په متو نه؛ بلکې مېړنی هغه دی، چې پخپله غوسه لاسبری وي.
٥٥_تر ټولو غوره هغه دی، چې نورو ته ډېر ګټه رسونکی دی.
٥٦_تر ټولو غوره کور هغه دی، چې پلارمړی په عزت پکې ژوند کوي.
٥٧_ څومره خوند کوي د نېک انسان په لاس کې حلاله شتمني.

۵۸_تر مړينې روسته د انسان لاس له ښو او د ثواب له چارو غوسېږي؛ خو پر درېيو کارونو: تلپاتې خيرات، هغه پوهه، چې تل گټه رسوونکې وي او هغه صالح اولاد، چې موروپلار ته دعا وکړي.

۵۹_د الله تعالی عبادت کوونکي درې ډلې دي: يوه ډله د الله تعالی له وېرې عبادت کوي، چې دا د مريانو عبادت دی. دويمه ډله د ثواب په تمه عبادت کوي، چې دا د مزدورانو عبادت دی او درېيمه ډله، له الله تعالی سره د مينې په پار عبادت کوي، چې دا د ازادو عبادت دی.

۶۰_ د ايمان درې نښې دي: په تنگسه کې د بل لاس نيوی، د نورو د گټې له لامله، له خپل حقه تېرېدل او زدکړيال ته پوهه ورزده کول.

۶۱_ په خوله مينه څرگندول، مينه ډېروي.

۶۲_ درې څيزونه دين ورستوي: بدچاری فقيه، ظالم چارواکی او ناپوهه دينوال.

۶۳_وگړي له ملگرو يې وپېژنئ؛ ځکه انسان له خپله هم خوی سره ملگرتوب کوي.

٦٤_پټه ګناه کول، د ګناه کوونکي تاوان دی او ښکاره ګناه کول ټولنې ته تاوان رسوي.
٦٥_ د نړۍ د چارو سمبالنې ته هڅې وکړئ؛ خو د اخرت چارو ته داسې هڅې وکړئ؛ لکه سبا پکې تلونکي یاست.
٦٦_روزي د ځمکې په ژورو کې ولټوئ.
٦٧_ځان ستاینه قدر کموي او تواضع د مقام لوړتیا ده.
٦٨_ خدایه! د امت روزي مې په سپین ږیرتوب او د عمر په پای کې ډېره کړې.
٦٩_ پر مورو پلار د اولاد له حقوقو دادي: ښه نوم پرې کېږدي، لیک لوست ور زده کړي او چې بالغ شو، واده ورته وکړي.
٧٠_د ځواک خاوند، هغه پر خپله ګټه کاروي.
٧١_ ښه خوی د انسان د ښه کړنو په تله کې تر ټولو درونډ څیز دی.
٧٢_د هوښیار درې څیزونو ته پام وي: د ژوند ښه والي، د اخرت توښې او د حلالې روزۍ ګټو ته.
٧٣_بختور دی هغه چې مال نورو ته ښښي او له زیاتو خبرو ځان ساتي.
٧٤_مرګ مو له هر نصیحت کوونکي مړه خوا کوي.

۷۵_ حکومت او رياست ته دا دومره حرص کول؛ خو په پايله کې دا دومره رنځ او پښېماني!

۷۶_ تر ټولو بد انسان فاسد عالم دی.

۷۷_په هغه ځای کې بلا ته په تمه شئ، چې بې عقله عزتمن او چارواکي بد چاري وي.

۷۸_وينا د انسان ښکلا ده.

۷۹_عبادت اووه ډوله دی او تر ټولو غوره يې د حلالو ترلاسه کول دي.

۸۰_لعنت دې پر هغه وي، چې خپل پېټی پر نورو ږدي.

۸۱_ له خلکو د الله تعالی د خوښۍ نښه، د حکومت عدالت او د نرخونو ارزاني ده.

۸۲_هر قوم د هغه حکومت وړتيا لري، چې پرې واکمن دی.

۸۳_کنځل بې له دښمنۍ بله پايله نه لري.

۸٤_ الله تعالی تر بوت نمانځنې روسته، له خلکو سره له شخړې منع کړی يم.

۸۵_د نه سنجول شوي کار تاوان ډېر دی.

۸٦_هغه چې له خلکو سره له گوزارې بې برخې وي، له ټولو نېکيو بې برخې دی.

۸۷_له نورو څه مه غواړئ، ان که د مسواک وړکی لرگی وي.
۸۸_الله تعالی خوښ نه دی، خپل بنده په نورو بندگانو کې له ځانگړي امتیاز سره ویني.
۸۹_د مؤمن تندی ورین او د منافق تریو دی.
۹۰_پاکوالی نیم ایمان دی.
۹۱_یو بل ته د دوستۍ لاس ورکړئ، چې د زړه کینې مو پاکې شي.
۹۲_ مسلمان نه دی چې د مسلمانانو د سمونې په فکر کې نه وي.
۹۳_ښه خوی د زړه کینه له منځه وړي.
۹٤_پام کوئ، له خلکو وېره مو د حق له ویلو منع نه کړي.
۹٥_ په یوه کچه ژوند وکړئ، چې زړونه مو په یوه کچه شي او مینه په تلو راتلو ډېرېږي.
۹٦_هوښیار له نورو سره ډېره گوزاره کوي.
۹۷_د مړینې پرمهال خلک وایي: څومره شتمني ترې پاتې ده او پرښتې وایي: څومره نېکي یې مخکې لېږلې ده؟
۹۸_ طلاق هغه حلال چار دی، چې د الله تعالی ډېر یې بد ایسي.

۹۹_ د خلکوسمونه تر ټولو غوره ښه چار دی.
۱۰۰_ خدایه ! پوهه مې څواک، پراخه سینه مې سینګار، تقوا مې مقام او روغتیا مې ښکلا کړې.[۱]

پای

[۱] پورتني حدیثونه د "تحف العقول" له کتابه اخستل شوي دي.

## کتابښود


۱_آداب تعليم و تعلم، شهيد ثاني

۲_احياء علوم الدين، امام محمد غزالي

۳_ارشاد القلوب، ابو محمد حسن ديلمي

٤_اصول کافي، کليني

٥_اعلام الورى باعلام الهدى، شيخ طبرسي

٦_امالي، شيخ صدوق

۷_امتاع الاسماع، مقريزي

۸_بحارالانوار، محمد باقر مجلسي

۹_پيامبر رحمت، محمد خالد د صدر بلاغي ژباړه

۱۰_پيام و پيامبر، سيد محمد تقي حکيم

۱۱_تاريخ طبري

۱۲_تاريخ يعقوبي

۱۳_تحف العقول

١٤_الترغيب

۱٥_جامع السادات، مولى مهدي نراقي

١٦_حيوة الحيوان، دميري

١٧_حقايق،مولى محسن فيض كاشاني
١٨_حقوق حيوانات در اسلام، محمد تقي جعفرى
١٩_خلاصه تعاليم اسلام، علامه طباطبايي
٢٠_داستان راستان، استاد شهيد مطهري
٢١_دلايل النبوة، ابوبكر احمد بن حسين بيهقي
٢٢_روش دعوت محمد (صلى الله عليه وآله وسلم)
٢٣_زندگي فاطمه زهرا، دكتر شهيدي
٢٤_سنن النبي، علامه طباطبايى
٢٥_سيره ابن هشام
٢٦_ سيره حلبي
٢٧_سنن ابي داوود
٢٨_سيره احمد زيني
٢٩_سفينة البحار، حاج شيخ عباس قمي
٣٠_شرح نهج البلاغه، ابن ابي الحديد
٣١_شرح المواهب، زرقاني
٣٢_صحيح بخاري
٣٣_صحيح ترمذي
٣٤_صحيح مسلم

۳۵_الطبقات الکبری
۳۶_طرایف الحکم، میرزا احمد اشتیاني
۳۷_طبقات، ابن سعد
۳۸_عوائد الایام، نراقي
۳۹_علل الشرایع، شیخ صدوق
٤٠_فروغ ابدیت، شیخ جعفر سبحاني
٤١_کیمای سعادت، امام محمد غزالي
٤٢_کحل البصر،حاج شیخ عباس قمي
٤٣_کشف الریبه عن احکام الغیبه، شهید ثاني
٤٤_گناهان کبیره، ایت الله شهید دستغیب شیرازي
٤٥_مکارم الاخلاق، ابو نصر حسن بن فضل طبرسي
٤٦_المحجه البیضاء فی التهذیب الاحیاء، ملا محسن فیض کاشانی
٤٧_مناقب، ابن شهر اشوب
٤٨_محمد خاتم پیامبران، جمعي از نویستدگان
٤٩_معاني الاخبار، شیخ صدوق
٥٠_ترجمه المیزان في تفسیر القرآن، مرحوم علامه طبا طبایي
٥١_مستدرک الوسایل، محدث نوري

۵۲_مسئله حجاب، استاد شهید مطهري
۵۳_معجم البلدان، بلاذري
۵٤_المعجم المفهرس لا لفاظ حدیث لنبوي
۵۵_ معراج السعادة، ملا احمد نراقي
۵٦_نهج الفصاحة، سخنان پیامبر اکرم
۵۷_نهج البلاغه، سخنان امام علي
۵۸_نورالثقلین، ابن جمعه حویزي
۵۹_وسایل الشیعه، شیخ حر عاملي
٦۰_وحي و نبوت، استاد شهید مطهری.